DOCUMENT RESUME

ED 353 815 FL 020 896

AUTHOR Tegey, Habibullah; Robson, Barbara
TITLE Pashto Reader.
INSTITUTION Center for Applied Linguistics, Washington, D.C.
SPONS AGENCY Office of International Education (ED), Washington, DC.
PUB DATE 92
CONTRACT P017A10030
NOTE 226p.; For related documents, see FL 020 894-895.
PUB TYPE Guides - Classroom Use - Instructional Materials (For Learner) (051)

EDRS PRICE MF01/PC10 Plus Postage.
DESCRIPTORS Advertising; Grammar; Instructional Materials; *Language Variation; Letters (Correspondence); News Media; *Pashto; Poetry; *Reading Materials; Uncommonly Taught Languages; Vocabulary; *Written Language
IDENTIFIERS *Authentic Materials

ABSTRACT

This reader is the basic text for a set of instructional materials in Pashto. It consists of 45 authentic passages in Pashto script, each accompanied by background information, a vocabulary list, hints for scanning, comprehension exercises, and notes for detailed rereading. An introductory section offers study suggestions for the student. The passages are presented in 7 groups: essays; articles; stories; poetry; public writing (signs and advertising); letters and memoranda; and fractured Pashto. Each group is accompanied by an introduction and answers to comprehension questions. Additional jokes and anecdotes are included throughout the materials. (MSE)

****
* Reproductions supplied by EDRS are the best that can be made *
* from the original document. *
****

ED353815

پښتو قرائت

Pashto Reader

U.S. DEPARTMENT OF EDUCATION
Office of Educational Research and Improvement
EDUCATIONAL RESOURCES INFORMATION CENTER (ERIC)
☒ This document has been reproduced as received from the person or organization originating it
☐ Minor changes have been made to improve reproduction quality
• Points of view or opinions stated in this document do not necessarily represent official OERI position or policy

Center for Applied Linguistics

FL 020 896

BEST COPY AVAILABLE

پښتو قرائت

Pashto Reader

Habibullah Tegey
Barbara Robson

Center for Applied Linguistics
Washington, D.C.
1992

Introduction

This *Pashto Reader* is accompanied by three other components: *Pashto Reader Originals* , a set of most of the passages in the Reader in their original published forms; and *Pashto Reader Passages in Transcription*, a set of the passages in broad phonetic transcriptions, for use by linguists and others who are interested in the structure and pronunciation of authentic Pashto but are not familiar with the written script; and the *Pashto-English Glossary for the CAL Pashto Materials*, a glossary of all the vocabulary items used in the *Reader* and the other Pashto materials described below.

All four of the *Pashto Reader* components are available in microfiche or hard copy through the ERIC Document Reproduction Service. For information, please contact ERIC/CLL, Center for Applied Linguistics, Washington, D.C.

This *Reader* has been developed by the Center for Applied Linguistics with funding from Grant No. P017A10030 from the International Research and Studies Program of the U.S. Department of Education. The same office funded CAL to develop *Beginning Pashto* and *Intermediate Pashto*, the components of which are also available from the ERIC Document Reproduction Service. This *Reader* assumes that the student has mastered the material in *Beginning* and *Intermediate Pashto*.

We wish to thank Mr. Anwar Ayazi for field-testing and commenting on the *Reader* units and the Glossary for us. His careful reading and thoughtful comments have been of special value in the preparation of the *Reader*, and we are very grateful to him for his continuing interest in this project.

Table of Contents

Introduction ii

To the Student v

Unit 1: Essays

Introduction 1
Selection A: بی گناه بندی 2
Selection B: د پردې خبرې 5
Selection C: د خاندان خولۍ 10
Selection D: پاکه پانه 14
Selection E: د زیارت ډیوه 18
Selection F: د پښتون د تاریخ ننداره 21
Selection G: د غوتۍ زندگی 25
Selection H: ملاله 30
Answers to Post-reading Questions 35

Unit 2: Articles

Introduction 38
Selection A: احمق څوک دی؟ 39
Selection B: پښتنی ملی اتڼ 45
Selection C: د جدی شپږمه: د افغانستان د معاصر تارخ توره ورخ 51
Selection D: ټوکه نده واقعیت دی 57
Selection E: News Briefs 61
Answers to Post-reading Questions 65

Unit 3: Stories

Introduction 68
Selection A: یوه رښتیانی قصه 69
Selection B: قادر خان ختمگر 75
Selection C: آدم درخاني 81
Selection D: قبر 89
Answers to Post-reading Questions 98

Unit 4: Poetry

Introduction 100
Selection A: الفت 101
Selection B: غنی 111

Selection C: بینوا 115
Selection D: حمزه شینورا 124
Selection E: جهانی 128
Selection F: محمد جی 134
Answers to Post-reading Questions 143

Unit 5: Public Pashto

Introduction 145
Selection A: Street Signs in Kabul 146
Selection B: Wall Writing in Peshawar 148
Selection C: Baba Rahman's Tomb 150
Selection D: Khoshal Khan Khattak's Tomb 152
Selection E: Advertisements 154
Answers to Post-reading Questions 157

Unit 6: Letters and Memoranda

Introduction 158
Selection A 159
Selection B 161
Selection C 163
Selection D 165
Selection E 167
Selection F 169
Selection G 171
Selection H 173
Selection I 176
Selection J 179
Selection K 181
Selection L 183
Answers to Post-reading Questions 186

Unit 7: Fractured Pashto

Introduction 189
Selection A: News Briefs 190
Selection B: دودی سلگون ته وخته 196
Selection C: زرینه وړانگ 201
Selection D: د کابل رژیم د نسکوریدو په حالت کی دی 205
Selection E: ملی آزادی ببنونکی غورخنگونه: 211
Answers to Post-reading Questions 216

To the Student

The purpose of this *Reader* is to provide English-speaking students of the Pashto language with an introduction to modern written Pashto. In preparing it, we have tried to keep in mind students' different needs for Pashto: some are working with the language in an academic environment, and are interested in the language for its own sake; and others are learning the language for practical purposes, for example foreign service officers who expect to work among Pashtuns in Afghanistan or Pakistan. We have also taken into account that some students are working on their own, and others are working with a teacher. We have tried, as far as is possible, to work within all these variables. All users of the *Reader* , however, are assumed to have mastered the material presented in *Beginning Pashto* and *Intermediate Pashto.*

The Pashto pieces in the *Reader* were chosen mainly for their interest to English-speaking readers, and for the insights into Pashtun culture and society they provide. They range from pieces which are widely accepted in the Pashtun community as examples of modern literature, through letters and articles written by "ordinary" people, to pieces immediately recognized by the Pashtun as non-native, "fractured" Pashto. Except for deletion of some parts, the pieces are authentic, unedited Pashto as it appears in books, newspapers, journals, and other public and private sources.

You will notice that the first selections in Units 1, 2, 3, and 4 were written by Ulfat. Ulfat is, first, universally recognized as one of the - if not *the* - best Pashtun writer of this century; a more in-depth knowledge of his writings will serve the Pashto student well. Second, Ulfat's style is closer to spoken Pashto than most, and for that reason is somewhat easier for the foreign learner of the language to handle. Third, the provision of several types of pieces by the same author will allow the student to compare the same author across genres to different authors in the same genre.

It should be remembered that unlike English, Pashto does not have firm "rules" which govern spelling, punctuation, and even spacing between words. Such matters are left to the author, and Pashtun authors vary widely with regard to their concern for "correctness", their exposure to and appreciation for western notions of consistency, and other aspects of publishing that occupy western editors.

Each unit in the *Reader* consists of a number of selections, each of which contains a piece (or pieces) of authentic Pashto. Each selection has the following parts:

- the passage in Pashto, presented in normalized computer Pashto like that of *Beginning* and *Intermediate Pashto,* i.e. with consistent spacing between words. We have carefully preserved the spelling and grammar mistakes and misprints in the originals, and called your attention to the most important of them in the detailed notes.
- Pre-reading information and activities. In the *Background,* information is given which places the selection in context, e.g. information on the author and the circumstances under which he wrote the piece; cultural information which will help you

understand the selection better; and bibliographical information. Note, please, that any dates given are likely to be off: the sources for them are in three different calendars, and in any event are subject to individuals' recollections.

In the *Key Vocabulary* section, most of the new words appearing in the selection are listed in Pashto alphabetical order, with grammatical information and English glosses. Each of these words, and all others in the selection, appear in the *Pashto-English Glossary for the CAL Pashto Materials*. In the *Glossary*, the words are given more detailed treatment than in the *Key Vocabulary* section.

In the *Scanning Hints* section, information is given which will help you get an idea of the overall structure of the passage. There are, in addition, notes to alert you to typographical errors, punctuation conventions and other potential sources of confusion.

- **Post-reading** comprehension questions, with answers given at the end of the selection.
- **Notes for Detailed Reading**. These notes are for the student who is learning Pashto in an academic environment

If you are working with a Pashtun teacher, the teacher will of course use the passages in the *Reader* as he or she sees fit. If you are working on your own, we suggest that you work through the units in the following order: 5, 6, 1, 2, 3, 4, 7. This is the order in which the units were developed, and also the order in which you will be exposed to the least complicated Pashto first. Alternatively, you might want to work through Units 5 and 6, then read the pieces by Ulfat in Units 1, 2, 3, and 4, then proceed with the other pieces in each unit. Under any circumstances, we suggest that Unit 7, Fractured Pashto, be studied last.

We also suggest, if you are working on your own, the following approach to each selection:

1. Read the **Pre-reading** section, and follow the suggestions.
2. Scan the selection several times (i.e. read it for the general ideas, not for word-by-word comprehension), using the Original version (See the Introduction, p. *ii*, for availability of the *Pashto Reader Originals*.) If you have trouble processing the Original, compare it to the version presented here in the *Reader*.
3. When you are comfortable with the overall passage, try the comprehension questions given in the **Post-reading** section.
4. If you are studying Pashto for the language rather than to use it for practical purposes, go over the passage again in detail, being sure you understand the structure of each sentence. Use the *Glossary* to look up any words you don't understand.

If, having worked through the selections in this *Reader*, you would like to continue with other modern Pasho stories, essays and poetry, we recommend that you try to find a three-volume set of writings entitled اوسنی لیکوال. اوسنی لیکوال is a collection of pieces from well-known Pashtun authors, collected and edited by Benawa in 1960/61. Each writer was asked to send a biography and three or four of his favorite pieces for the collection. The result is a large collection, uniformly typed, and with more attention than usual to consistency of punctuation and spelling. It is available in bookstores in Pakistan. We also recommend the Pashto pieces in the literary journal *Kabul,* which is likely to be carried in large university libraries.

Wherever space has permitted, we have included fillers - jokes, anecdotes, poetry - for the sole purpose of amusing you. Most of the jokes are from joke books bought in book stores in Pakistan; they have been edited and glossed to make for easy reading. All such fillers are enclosed in a double box like the one surrounding this paragraph.

Unit 1: Essays

Introduction

The selections in this unit are short formal essays, called ادبی پارچه - 'literary piece' in Pashto. *Adabi pārche* were originally inspired by the French. Borrowed into both Pashto and Dari, they are short essays on political and social problems in Afghanistan, written in figurative language. The most well-known Pashto *adabi pārche* were written by the first generation of modern Pashtun writers; younger writers extended the genre to include love and romance as topics.

An *adabi pārcha* differs from a *muqāla* - مقال - an article - mostly in length; there are pieces (one of them is given in Unit 2) which are *adabi pārche* in every respect except that they are "too long" and are therefore considered articles rather than essays. Besides length, another difference between an *adabi pārcha* and a *muqāla* is that the former's primary purpose is to be an expressive piece of writing, whereas the latter's is to give information. In fact, many of the *adabi parche* look more like western ideas of free verse than like essays.

Adabi pārche are published everywhere - mostly in newspapers, but also in magazines and journals, and occasionally for particular anthologies and collections. They were particularly popular in the years between 1946 and 1953 - the time when Shah Mahmud was prime minister - were a time of relaxation of the heavy censorship that existed in the Afghan government. It was possible then to criticize the government and its policies, although even so such criticism had to be very carefully worded.

The essays we have chosen for this unit were almost certainly written during that period, although we cannot identify their original sources. They have all been reprinted in anthologies and collections, which indicates that they have been accepted as good examples of the genre by subsequent generations of readers and writers, and that their topics were mild enough to have survived the reimposition of heavy censorship in 1953.

The authors represented here were heavily influenced by Arabic, which was the language of education for most of them. They were also, however, heavily influenced by the movement towards Pashtun nationalism in the 40's, which included an interest in using Pashto vocabulary rather than Arabic or Persian. They used Pashto words whenever possible, borrowing them from other Pashto dialects, sometimes taking words from the Pashto Academy's list of created Pashto words, and sometimes making them up. Frequently, they coupled a Pashto word with its more familiar Arabic or Persian equivalent; these synonyms are listed in the *Scanning hints* section of each selection.

There are fewer misprints in the originals of these essays than usual, probably because they are in their third or fourth printing.

Selection A

بی گناه بندی

الف -

پرېږدئ! دا بې گناه بندې پريږدی!
مه وېرېږئ، دده په آزادولو کښې هېڅ خوف او خطر نشته.
فساد او شرارت له ده نه نه پيدا کېږی.
دده بندی کول لويه گناه ده.
دا هغه يوسف دی چه د بی گناهۍ په سبب په زندان کښې لوېدلی
دی. که دی له زندانه را واوزی ستاسې آينده سنجولی شی او ستاسې
دبلې ورځې غم خوړلی شی.
پرېږدئ! دا بی گناه بندی پرېږدئ!
که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېر ښه شان وکړی.
ستاسې وږی به ماړه کړی، ستاسې بربنډ به پټ کاندی.
تاسې دغه ښکلی موجود په تورو ځاگانو کې مه غورځوئ.
په زندانونو کښې يې مه اچوئ.
په لېوانو او پړانگانو يې مه خورئ.
پرېږدئ! دا بې گناه بندی پرېږدئ!
دی به ستاسې د گډوډو او پرېشانو خوبونو صحيح تعبيرونه وکړی.
ډېرې سخرې، مبهمې او مجملې غوټې به پرانيزی.
دی د راتلونکی حال پيشبينی کولی شی.
د طبيعت په رمزونو او اسرارو پوهېږی.
د جوی او فلکی او ضاعو اقتضاآت ور معلوم دی.
پرېږ دئ! دا بې گناه بندی پرېږدئ!
دده په آزادۍ باندې علم او پوهه زياتېږی.
وطن رڼا کېږی، ړانده بينا کېږی.
دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوک کوی.
دی ډېر پيچومی اوارولی شی.

ډېری کړې لارې سمولی شی او ډېر مشکلات حل کولی شی.
ما خوب لیدلی چه دا بندی خلاصېږی او د سلطنت په کرسۍ کېښینی.
ښه فکر وکړئ!
دا بندی څوک دی؟
پس له ډېر فکر وایم:
فکر دی فکر.

Pre-reading

Background

Gul Pacha Ulfat was born in Laghman, probably around the turn of the century. His education was entirely in mosque schools. When he was twenty-seven, he was appointed as a clerk on the staff of the newspaper *Anis*. Some years after, he was elected to the Afghan Parliament and subsequently appointed as president of the Pashto Academy. From then until his death in 1977 he was active both in politics and government and on the literary scene.

Ulfat was a prolific writer, recognized for both his poetry and his prose. His style is noted for its simplicity, and its closeness to spoken Pashto. His writings have been reprinted in several collections and anthologies, and his books are widely available in Pakistan and Afghanistan.

Ulfat continually spoke out against repression, urging the government to relax its censorship and the people to voice their opinions, or at least to listen carefully to those who did. In this essay, Ulfat argues for the release of an innocent prisoner: he gives reasons not to keep the prisoner locked up, and then gives reasons to free him. At the end, he explains who or what the prisoner is.

The essay was originally published sometime in the forties, and later reprinted in څه لیکل یا لیک پوهه , Ulfat's preliminary version of his how-to book on writing.

Our copy was published in غوره نثرونه, a collection of Ulfat's writings published by the Pashto Academy in 1957, pages 85-86.

Key vocabulary

kingdom	*n, M2.*	[saltanát]	سلطنت
treatment	*n, M2.*	[sulúk]	سلوك
straighten	*der. tr. vb.*	[samaw-́]	سمو -
predict	*der. tr. vb.*	[sanjaw-́]	سنجو -
pretty	*adj 2.*	[xkwəláy]	ښکلی
correct	*adj 4.*	[sayí]	صحیح
nature	*n, M2.*	[tabiyát]	طبیعت
corruption	*n, M2.*	[fasād]	فساد
throne	*n, F2.*	[korsə́y]	کرسۍ
crooked	*adj 1.*	[kog]	کوږ
confusing	*adj 1.*	[gaḍwáḍ]	گډوډ
sin	*n, F3.*	[gunā]	گناه
difficulty	*n, M2.*	[mushkɪl]	مشکل
creature	*n, M2.*	[mawjúd]	موجود
secret	*n, M2.*	[asrār]	اسرار
straighten	*der. tr. vb.*	[awāraw-́]	اوارو -
situation	*n, F3.*	[awzā]	اوضاع
cured	*adj 4.*	[binā]	بینا
bothered, confused	*adj 1.*	[preshān]	پرېشان
prediction	*n, F2.*	[peshbiní]	پیشبینی
cruel	*adj 1.*	[jafakār]	جفا کار
solve	*phr.*	[hal kaw-́]-	حل کو
danger, fright	*n, M2.*	[khawf]	خوف
dream	*n, M2.*	[khob]	خوب
well (source of water)	*n, F3.*	[tsā]	څا
secret	*n, M2.*	[ramz]	رمز
reason	*n, M2.*	[sabáb]	سبب

Scanning hints

1. This essay is close to free verse, and is punctuated and formatted to accommodate the semi-poetic structure. Look over the general structure, noting the repeated exclamation and the last four lines. Also look for internal rhymes, most of them verbs with the same grammatical structure, e.g. intransitive -ېږ- verbs in third person present tense.

2. Paired synonyms:

رمزونه او اسرار فساد او شرارت مبهمې او مجملې
خوف او خطر گډوډ او پرېشان

3. If گناه translates as sin, guess the meanings of بې گناه and بی گناهی.

Post-reading

١. که بېگناه بندی خلاص شی د څه شی تعبير به وکړی؟

٢. بېگناه بندی په څه شی پوهيږی؟

٢. بېگناه بندی له خپلو جفاکارو ورونو سره څنګه سلوك ګوی؟

٤. دا بندیڅوك دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. Ulfat apparently intended that all lines be indented; we have several versions of the essay, and in each of them one or two lines haven't been indented - but not the same one or two lines, from which we have concluded that the non-indented lines are typographical errors.

2. The يوسف referred to in the essay is the same innocent Joseph of the Old Testament, whose brother imprisoned him out of envy of his coat of many colors.

3. In the eleventh line of the essay, the adjectives وږی and بربند are used as nouns, and translate as 'hungry ones' and 'naked ones'. Compare 'Give me your tired, your poor' on the Statue of Liberty.

4. In the same line, Ulfat uses کړی in the first phrase, and کاندی , which is a dialectal equivalent (but not Ulfat's dialect!) of کړی, in the second. The use of کاندی is further odd in that it is the odd man out of a series of کړی structures deliberately chosen because they are rhymes or near-rhymes.

5. The fourteenth line of the essay, په لېوانو او پړانګانو يې مه خورئ., translates literally as 'Don't eat him with (by means of) wolves and leopards', which doesn't make sense. The Pashto construction is grammatically parallel to something like 'Don't eat the meat with (by means of) a fork', but translates idiomatically as 'Don't let wolves and leopards eat him.'

6. The sum of the twentieth line of the essay,

د جوی او فلکی او ضاعو اقتضاآت ور معلوم دی

is much more poetic than the translations of its words. Literally, it's 'The requirements of the weather and sky situation are known to him.' Its effect in Pashto is closer to something like 'The natures of air and space are known to him.'

7. A پیچومی is a detour around an obstacle or a switchback, for example the routing of a road around an outcropping of rock, or a road zig-zagging up a mountain.

8. The best translations of فکر as Ulfat is using it in his conclusion, are 'thought' and 'opinion', especially the free expression of opinion.

یوه ورځ د پښتو معروف لیکوال او شاعر، ګل پاچا الفت، له څو تنو نورو لیکوالانو او شاعرانو سره روان ؤ. یو ځای د لارې خوا ته دوو خرو له یو بل سره اورمېږونه او پوزونه مښل. د الفت ملګرو یو بل ته سره وکتل او وې ویل: په خرو کې هم الفت شته. الفت سمدستی په ځواب کې ورته وو ویل: هو! لکه په تاسې کې چه زه یم.

affection *n, M2.* [ulfát] الفت

neck *n, M2.* [ormég] اورمېږ

muzzle *n, M2.* [puz] پوز

rub *smp. tr. vb.* [məx-] مښ-

Selection B

د پردې خبرې

الفت -

تر ځو چه د ښځو مخونه پټ وی خبرې به هم په پرده کې وی ځکه چه په پښتو کې خبره هم مؤنثه ده.

یواځی خبره لا څه چه ژبه، وینا، معنا، خطابه، مقاله هم د تانیث علامې لری.

هغه وینا چه ابتکار په کې وی د ادب پردې ته لا ډېر ضرورت لری.

تاسې زما خبرو ته لږ غوندې باریك شئ!

د ادب او سیاست خبره ډېره باریکه ده.

زه په ډېره نرۍ او باریکه لار لاړم، خدای دې وکړی چه ډېر باریك بین خلق په دغه لار راشی او په ځیر ځیر وگوری.

ما اوښان نه دی بار کړی، زما قافله د مچیو ده چه د گلونو له پانو نه په هوا څه راوړی او عسل جوړوی.

له دې قافلې سره د سبا وږمو خوشبویی بار کړېده چه څوك یې په سترگو نه وینی مگر حساس دماغونه یې احساس کولی شی.

هو! زما کار له احساس سره دی، زما خریدار باید ډېر حساس وی. یا ډېر حساس شی.

Pre-reading

Background

This essay is addressed to Ulfat's readers. Underlying the point made in the essay is the assumption that there are two ways to make a statement: bluntly, and figuratively or obliquely. Ulfat does not discuss the blunt statement, but in this essay cautions his readers about figurative or oblique language.

Key vocabulary

honey	*n, M2.*	[asal]	عسل
mark	*n, F1.*	[ʔalāma]	علامه
caravan	*n, F1.*	[qāfíla]	قافله
bee	*n, F2.*	[muchə́y]	مچۍ
feminine	*adj 1.*	[muʔanás]	مؤنثه
breeze	*n, M1.*	[wagma]	وږمه
speech	*n, F3.*	[waynā]	وینا
feeling	*n, M2. Ar. pl.*	[ɪĥsās]	احساس
subtle	*adj 1.*	[bārík]	باریك
perceptive	*phr.*	[bārik bin]	باریك بین
veil	*n, F1.*	[pardá]	پرده
carefully	*phr.*	[pə dzír dzir]	په ځیر ځیر
customer	*n, M1.*	[kharidār]	خریدار
perfume	*n, F2.*	[khwəshbuyi]	خوشبویی

Scanning hints

1. This essay is formatted more conventionally than the essay in Selection A. Ulfat starts with a topic sentence/paragraph, then amplifies his point in the following paragraphs, then concludes by relating his own work to the point made in the first paragraph.

Post-reading

۱. خبرې به تر څه وخته په پرده کې وی؟

۲. په کومه خبره کې چه ابتکار وی هغه د ادب پردې ته کم ضرورت لری او که ډېر ضرورت لری؟

۲. د لیکوال قافله د څه شی ده؟

٤. له قافلې سره د سبا وږمو څه شی بار کړی دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. In the second sentence, Ulfat is talking about grammatical characteristics; the nouns that he lists are all feminine nouns referring to thought and speech.

2. As you can see from the spelling, حساس and احساس are derived from the same Arabic root.

Selection C

د خاندان خولۍ

- بینوا

د ژوندون په لوی ډګر کښی هر چا هر چا زیار یوست چه ځانته د ښه ژوند لار پیدا کړی.

دوی لورې ژورې ولټولې، هرې خوا ته ئی منډې ووهلې او هر څه هر څه ته ئی لاسونه واچول، خو تر ډیر تلاش وروسته ټولو ته دا ثابته شوه چه تر هر څه دمخه باید د علم لمن ټینګه کړی او د علم په لارښونه خپل مطلب ته ځانونه ورسوی نو ټول د علم په زده کړه پسی ولاړل، هیڅوک د ژوندون په لوی ډګر کښی بی تلاشه پاتی نشول ـ یوازی د هغه لوی ډګر په یوه ګوټ کښی یو مغرور بی علمه زلمی ولاړ و چه د علم خوا ته ئی حرکت و نه کړ او د علم د زده کوونکو په ډله پسی رهی نشو دی مغرور او ناپوه زلمی د ځان سره هیڅ علمی سرمایه نه درلودله یوازې دده پر سر د «خاندان» یوه زړه خولۍ وه چه دده ټول غرور په همدې خولۍ وه.

ده ته ددې خولۍ سیوری د همای سیوری ښکاریده او د ژوندون ټولی کامیابی ئی تر دی خولۍ لاندی ګڼلی ټول بشری احترامات او انسانی تعظیمات ئی همدې خولۍ ته ور بلل استراحتونه، ثروتونه او خوندور خوراکونه ئی یوازې د همدی خولۍ د خاوند حق ګاڼه ده ته هغه څوک ناپوه ښکاریده چه دا خولۍ به ئې پر سر نه وه. دا ناپوه زلمی همداسی مغرور ولاړ و څو چه د علم د زده کړی وخت ورباندی (تېر) شو خو ده ئی هیڅ پروا ونکړه علم ته ئی په سپکه سترګه وکتل خولۍ ئی کږه کړه وې ویل:« هغه څه چه ددې خولۍ تر سیوری لاندې کیدای شی ددنیا هیڅ علم ئی نشی کولای».

د کار وخت راغی دا ناپوهه زلمی هغسی مغرور او بی پروا په دی فکر کښی و چه ددې خولۍ د خاوند دپاره باید نور خلق کار وکړی، شلم قرن راغی له دی نا پوه زلمی څخه ئی د تحصیل دپلومه وغوښتله زلمی په ډېر غرور او فخر د خاندان د خولۍ توصیفنامه

BEST COPY AVAILABLE

ور وړاندی کړه او د هغی امتیازات ئی وغوښتل.

خو شلم قرن ور سره اشنا نه و، هغه توصیفنامه ئې و نه لوستلی شوه. نو زلمی څخه ئې د کار محصول وغوښت بې علمه زلمی بیا خولۍ ور پېش کړه او وئې ویل:

«دا د کارفرما خولۍ ده ـ د کاریگر خولۍ نه ده؟»

شلم قرن دی بې علمه او بې عمله زلمی ته په غضب شو او د عصبی ښوونکی په څیر ئی څپېړه جوړه کړه او دا زلمی ئی په داسی ضربه له ځانه لېرې وغورځاوه چه د «خاندان خولۍ» یې له سره ولوېدله او ورته ئی وویل:

«ای نا پوه او بیکاره زلمیه: دا خولۍ ډېره زړه شوی او له موده لوېدلې ده نور په دې خولۍ ځان مه غولوه او مه دنیا در پورې خندوه ـ ولاړ شه علم زده کړه ـ کار وکړه».

Pre-reading

Background

Abdul Rauf Benawa is considered by Pashtuns to be the top poet of his generation - Unit 4 contains samples of his poetry - as well as one of the best all-around writers. He was born in 1913. His career paral-leled Ulfat's, in that he served in both the Afghan Parliament and the Pashto Academy. At one time or another he was director of the Academy, president of Kabul Radio, press attache to India, vice-president of the Tribal Affairs Department of the Afghan govern-ment, and Minister of Information and Culture. In the 1980's he was sent to Libya as ambassador; there he became ill, and went to the United States, where his family had moved, for treatment. He died in New York in 1986.

Besides poetry, he wrote essays and dramas, most of them on social and historical topics. One of his great contributions to Pashto letters was اوسنی لیکوال , the three-volume anthology of Pashto writings published in 1961. (See the Introduction for a more detailed description of this anthology.)

Benawa was the director of the Pashto Academy when he wrote this essay. The Academy is a government institution, so Benawa was able to publish the essay in *Kabul* , the Academy's journal, despite the fact that the essay was critical of the royal family. The 'family hat' is a general metaphor for privileged birth; here it symbolizes membership in the Afghan royal family.

The essay was first published sometime in the late forties. Our copy of the essay appears in Ulfat's لیکوالی: املا او انشا , page 154.

Key vocabulary

respect	*n, M2. Ar. pl.*	[ihtirā́m]	احترام
leisure	*n, M2.*	[istirāhát]	استراحت
familiar, acquainted	*adj 4.*	[ashnā]	اشنا
honorarium	*n, M2.*	[imtiyā́z]	امتیاز
human	*adj 4.*	[basharī́]	بشری
ignorant	*adj 4.*	[be élma]	بی علمه
unprincipled	*adj 4.*	[be ?amala]	بې عمله
care about	*phr.*	[parwā kaw-́]	پروا کو-
study	*phr.*	[tahsī́l kaw-]	تحصیل کو-
effort, search	*n, M2.*	[talā́sh]	تلاش
elegy	*n, F1.*	[tawsifnāmá]	توصیفنامه
is proved	*der. int. vb.*	[sābətég-]	ثابتېږ-
richness	*n, M2.*	[sorwát]	ثروت
move	*phr.*	[harakát kaw-́]	حرکت کو-
family, lineage	*n, M2.*	[khānadán]	خاندان
fool oneself	*phr.*	[dzān ghwəlaw-]	ځان غولو-
had	*dbl. irreg. vb.*	[dərlod(ə́l)-]	درلود-
ground, arena	*n, M2.*	[ḍagár]	ډگر
group	*n, F1.*	[ḍála]	ډله
go	*phr.*	[rahi kég-]	رهی کېږ-
young man	*n, M3.*	[zalmáy]	زلمی
effort	*n, M2.*	[zyā́r]	زیار
life	*n, M2.*	[zhwandún]	ژوندون
capital	*n, F1.*	[sarmāyá]	سرمایه
shade	*n, M3.*	[syóray]	سیوری
blow, slap, hit	*n, F1.*	[zarbá]	ضربه
pride	*n, M2.*	[ghurúr]	غرور
pride	*n, M2.*	[fákhər]	فخر
century	*n, M2.*	[qārn]	قرن
worker	*n, M1.*	[kārigər]	کاریگر
cock (a hat),	*phr.*	[kaga kaw-́]	کږه کو-
direction	*n, F1.*	[lārxowə́na]	لارښونه
grab	*phr.*	[lāsúna achaw-]	لاسونه اچو-
search	*smp. tr. vb.*	[laṭaw-́]	لټو
product	*n, M2.*	[mahsul]	محصول
run	*phr.*	[mənḍe wah-́]	منډې وهـ-

Scanning hints

1. The essay starts out with the statement of a general principle, then exemplifies the principle with a simple narrative. The narrative ends with a conversation.

2. Either Benawa or his editor did not use periods. Before scanning the passage, identify the full verbs and place periods after them.

3. There are several adjectives with the prefix بې meaning 'without' or 'not', in the essay. Guess their meanings:

بیکاره بې عمله بی تلاشه بی علمه بی پروا

Post-reading

۱. د علم د زده کوونکو په ډله پسې څوک رهی نه شو؟

۲. د خاندان د خولۍ سیوری چا ته د هما سیوری ښکاریده؟

۳. شلم قرن له دې بې علمه زلمی نه د تحصیل څه شی وغوښته؟

٤. شلم قرن دې بې علمه زلمی ته څه وویل؟

Notes for Detailed Rereading

1. The word خاندان is Persian, and denotes a more elevated family (as in dynasty, lineage, lords and ladies) than the Pashto کورنۍ. The use of خاندان rather than کورنۍ is a broad hint that Benawa is talking about the royal family.

2. The phrase زیار یوست is equivalent to زیار کبه . It translates best in this context as 'make an effort'.

3. -مندې وهـ is one of the legions of Pashto idioms involving the verb -وهـ. This one is literally 'beat [the act of] running', figuratively 'come running'.

4. A همای is an imaginary bird. If its shadow passes over your head, you will be fortunate.

5. Benawa created the word توصیفنامه to fit the essay. Benawa's word is parallel to [shahādatnāmá] شهادتنامه 'diploma' ; توصیف is 'praise'.

6. The phrase مه دنیا در پورې خندوه involves خندو، the causative version of خند. The phrase translates best as 'don't make the world laugh at you'.

Selection D

پاکه پانه

- ماستر عبدالکريم

پانې په څوڅو قسمه دې، دونې پانې دگل پانې ، د قران پانې،
د ژوند د کتاب پانې او د تماکو پانې، سره ددې چه هره پانه
پخپل ځاې ډېره درنه ده خو په ټولو کښی د قران پانه ډېره پاکه
او مبارکه ده، مگر زيات کار نن سبا د تماکو له پانې نه اخستی شې...

يوازې کور؛ کوڅه، حجره، ډېره، پوله، پټې نه دی چه گنې
د تماکو د پانې پېريانِ پرې ناست دې.

که د سگرټ په جامه کښې سکول، کالج، دکان، دفتر او ښکلو مانو
ته ورسېده نو هغه ده د نسوارو په ډبلی کښې د جمات محراب کښې
ناسته ده او ان د ملا صاحب نه سرسايه اخلې ولې ډېره موده کېږې
چه د چين ماچين ښاپيرو زمونږ دی وطن ته يوه نوې پانه راوړيده
او دا وطن ددی پانی دومره خوښ شو چه خپل ټول قام قبيله ئې
ورپسې په کده راوستلی او نومې پانه ئې شاته کړه. دا پانه درنگه
توره او د خوی نه ترخه ده خو بيا هم د خلقو تن وجود دی او هر
سړی ورته دومره متازه دی چه بې ددې د اجازی نه د کوره بهر
ته نشې وتې بس د هر چا د کور ميرمن ده، دی ته د چايو پانه
ويلې شې، پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کښی د قران په پانه
سترگی غړه ولې، ولې اوس خو چه ئې د چايو پانه ښکل کړی نه
وی د قران پانې ته کتلی قدری نشی.

که چای د خوی نه ترخه ده نو خواږه ئی هم شته که ډپټې ته
دې وراندې کړه نو مقدمه به وگټی که په وکيل دی ووهله نو رښتيا به
درله دروغ کړی او دروغ به درله رښتيا کړی چه د تانې تحصيل
د واکدارو د چايو غم کوی نو بيا سپين باز گرزه خير دی که بې
ليسنه ټوپک ساتی او که غلا غلطې او جوارۍ کوی که دعوه گټی
قاضی صاحب باندی ئی نوش کړه که مړی بخښی نو ملاصاحب ته
ئې هبه کړه.

Pre-reading

Background

Master Abdul Karim is from Pakistan, hence the title (in Pakistan, school teachers are called 'Master'), and the many Pakistani dialectal words and usages in his writing. He was born in 1908 - he was one of the first generation of modern writers - and after a career which included stints in jail for his writing, he died sometime in the fifties of tuberculosis.

This essay, written sometime in the forties, is a light-hearted discussion of tobacco and tea. It revolves around a pun - the word پاڼه refers both to leaves, as in leaves of tobacco and tea, and also to pages, the relevant pages here being the pages of the Koran.

Our copy of the essay appears in Ulfat's ليکوالی: املا او انشا, page 126.

Key vocabulary

overtake	*phr.*	[shāta kaw-́]	شاته کو-
although	*phr.*	[sara di dé tse]	سره ددې چه
kiss	*der. tr. vb.*	[xkwəlaw-́]	ښکلو-
pretty	*adj 2.*	[xkwə́lay]	ښکلی
theft	*n, F3.*	[ghlā]	غلا
crookedness	*n, M3.*	[ghalatí]	غلطی
arrange	*phr.*	[gham kaw-́]	غم کو-
judge	*phr.*	[qāzí]	قاضی
even	*adv.*	[qádre]	قدری
kind	*n, M2.*	[qésəm]	قسم
win	*smp. tr. vb.*	[gəṭ-]	گټ-
sacred	*adj 1.*	[mubārák]	مبارك
in need	*adj 1.*	[matā́z]	متاز
snuff	*n, M2.*	[naswā́r]	نسوار
nowadays	*phr.*	[nən sabā́]	نن سبا
lawyer	*n, M1.*	[wakíl]	وکیل
permission	*n, F1.*	[ɪjāzá]	اجازه
falcon	*n, M1.*	[bāz]	باز
forgive	*smp. tr. vb.*	[bakhsh-]	بخښ-
in short	*adv.*	[bas]	بس
clean, sacred	*adj 1.*	[pāk]	پاك
small dike	*n, F1.*	[púla]	پوله
bitter	*adj irreg.*	[trikh]	تریخ
tobacco	*n, M2.*	[tamākó]	تماکو
mosque	*n, M2.*	[jumā́t]	جمات
tea	*n, M2.*	[chāy]	چای
China	*phr.*	[chin māchín]	چین ماچین
meeting room	*n, F1.*	[hujrá]	حجره
nature, habit	*n, M2.*	[khuy]	خوی
Alternative of درته		[də́rla]	درله
mistruth, lie	*n, M2.*	[drogh]	دروغ
meeting place	*n, F1.*	[derá]	دېره

Scanning hints

1. The essay is in three parts: first, a general statement about valuable leaves; then, a discussion of the tobacco leaf; then finally, a discussion of the tea leaf. The logical sections of the essay do not correspond to the punctuation and paragraphing.

2. Guess: سگرټ سکول کالج ډپټې

Post-reading

۱. په ټولو پانو کې پاکه پانه کومه ده؟

۲. د چین ما چین ښاپېرو د لیکوال وطن ته کومه پانه راوړې ده.

۲. که د چای پانه په وکیل ووهی نو هغه به څه وکړی؟

٤. پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کې په څه شی سترگی غړولې؟

Notes for Detailed Rereading

1. Watch for misprints.

2. Abdul Karim uses ڼ ... د instead of ڼ ... ل

3. The sentence

یوازې کور؛ کوڅه، حجره، دېره، پوله، پټې نه دی چه گنې د تماکو د پانې پېریان پرې ناست دې.

is a little difficult to process, even for Pashtuns. It translates best as " Not only in the house, but also in the street, ..., do the genies of the tobacco leaf sit."

4. There are two different types of beings mentioned in the essay. A [peráy] پېری is an ordinary local evil genie, of the type that populates the *Arabian Nights* and other Islamic literature. A [parí] پری (Persian word) or a [xaperáy] ښاپېری, (Pashto word), on the other hand, is a good fairy that comes from east of the Caucasus Mountains.

5. A ډبلی is a container for snuff. Some *ḍabli* are like American shoe polish cans, but with mirrors on the lids. Others are made of small gourds: the narrow top (stem end) of

the gourd is cut off; the insides of the gourd are burned out; the gourd is dyed bright red with henna; and a stopper of silk, sometimes decorated with beads, is fashioned to keep the snuff in.

6. In working on the sentence containing the clause دا وطن ددې پانی دومره خوښ شو چه do not forget that - خوښ کېږ has a genitive subject. It's the tea that likes the country, not the country that likes the tea.

7. The phrase نومې پانه translates best as 'anything by the name of leaf'.

8. The word ولې is the transition from the discussion of tobacco to the discussion of tea.

9. The phrase د تانې تحصیل translates rather awkwardly as something like 'of local bureaucracy'. Abdul Karim is being gently satirical about petty bureaucrats and police officials who throw their weight around.

From the joke book:

ډاکټر: تا ته څه تکلیف دی؟
مریض: جناب، په ما د زړه دوره راځی.
ډاکټر: مهربانی اوکړه، بل ډاکټر ته لاړ شه.
مریض: ولی؟
ډاکټر: ځکه چه زما د فیس واوری نو په تا به د
زړه دوره را شی.

sir *n, M1.*	[jɪnā̆b]	جناب
heart attack *phr.*	[de zṛə dawrá]	د زړه دوره
please *phr.*	[merabānī́ wəkṛa]	مهربانی وکړه
fee *n, M2.*	[fis]	فیس

Selection E

د زیارت ډیوه

شینواری -

د جمعې شپه وه نه پوهېږم چه څه سودا واخستم خو له کوره ووتم چیرته لرې مې څه رڼا تر نظره راغله او د یوه لیونی په شان په منډو منډو ورغلم.

لویه هدیره وه، زاړه قبرونه وو، او د لوحو نه پرته نور څه په سترګو نه لیدل کېده.

هلته د کوم زاړه قبر سر ته ډیوه لګول شوې وه- دا ډیوه به ښائۍ کوم داسی غریب او یا کونډی لګولې وه چه خپل کور به ئې تیاره و، خو هدیره ئې رڼا کړې وه او په دې ذریعه به ئې د مړو نه د ژوند مرادونه غوښتل.

دا کار که څه هم ګناه وه چه بې ځایه تاوان و: خو هغه ته خپلی عقیدې ثواب او ښه کار ښودلی و.

ما د زیارت ډېوه ولیده نو د ناپوه او نا رسیدلی قوم لیکوال او پوهان را په زړه شول. د پوهو قومو پوهان داسی مثال لری لکه د کوروڼو ډیوې چه ټولو ته ئې رڼا رسېږی او رڼائې بې ځایه نه وی.

په ناپوهو قومو کښې پوهان د زیارتو د ډیوو په شان سوزی رڼا ورکوې او په سوز او ګداز مری مګر قوم د مړو په شان ور نه فیض نه شی اخیستلای. هغه قوم چه پوهه نلری د پوهانو قدر هم ورسره نه وی، کله ئې لیونی او مالیخولیائی بولی او کله ئې له ځانه شړی. مونږ چه نه پوهېدو ځینی پوهان مو له ځانه شړلی او کوم وخت چه پوه شو بیا مو د هغو هډوکی بیرته راوړی.

BEST COPY AVAILABLE

Pre-reading

Background

Dost Shinwari was born in Ningrahar. He studied in a religious school in Kabul - his poetry as a student attracted attention - and worked on the staff of *Anis*. After 1961 he went to the USSR, where he studied Russian. After returning to Afghanistan, he became a member of the Academy of Sciences, where he served as writer and translator.

This essay was probably written in the late forties/early fifties. Our copy appears in اوسنی لیکوال, pages 397-398.

In the essay, Shinwari compares the situation of an intellectual in a developing country to a lamp on a tombstone.

Key vocabulary

although	*phr.*	[ka tsé]	که څه
light (a lamp)	*smp. tr. vb.*	[lagaw-́]	لگو
crazy man	*n, M3.*	[lewanáy]	لیونی
wish, goal, ideal	*n, M2.*	[murād]	مراد
ignorant	*adj 4.*	[nāpóh]	ناپوه
glimpse, glance	*n, M2.*	[nazár]	نظر
graveyard	*n, F1.*	[hadirá]	هدیره
bone	*n, M3.*	[haḍúkay]	هډوکی
inappropriate	*adj 4.*	[be dzāya]	بې ځایه
expense	*n, M2.*	[tāwān]	تاوان
good deed	*n, M2.*	[sawāb]	ثواب
shrine	*n, M2.*	[zyārát]	زیارت
burn	*smp. tr. vb.*	[swadz(ég)-]	سوز-
drive away, expel	*smp. tr. vb.*	[shaṛ-]	شړ-
belief	*n, F1.*	[aqidá]	عقیده
poor person	*adj 1.*	[gharīb]	غریب
grave	*n, M2.*	[qábər]	قبر

Scanning hints

1. Shinwari starts the essay by describing an incident, then relates the incident to a broader state of affairs.

2. Before scanning the passage, find the full verbs, and put periods after them.

Post-reading

١. لیکوال چه له کوره ووت چېرته ولاړ؟

٢. ډیوه چا لگولې وه؟

٢. د پوهو قومو پوهان د څه شی مثال لری؟

٤. هغه قوم چه پوهه نه لری د پوهانو قدر ور سره وی؟

Notes for Detailed Rereading

1. د جمعې شپه وه. : Thursday night, not Friday night. The evening before the Moslem holy day is often spent in acts of piety.

2. تر نظره راغله = "I caught a glimpse of"

3. سودا واخستم is an idiom, translating as "things were on my mind', or 'I was preoccupied'.

4. را په زړه شول = "came to mind".

5. The term قوم translates best in this context as 'nation' or 'people' rather than 'tribe'.

6. In the last sentence, the author probably has in mind Sayid Jamaludin Afghani, one of the strongest Islamic intellectuals of the 19th century. Afghani battled against the British, and one way or another was forced to leave Afghanistan. He lived all over the Middle East, and his writings - always in Arabic - brought him great fame as a scholar and thinker. In the 1940's, his bones were returned to Afghanistan. They were received with great pomp, and enshrined in an area in Kabul that was to become Kabul University.

Selection F

د پښتون د تاریخ ننداره

- رشتین

درې نیم زره کاله پخوا زه دویدا په سندرو کښې ستایلی
شوم، هغه مړنی وم چه په ویر او سندرو کښې به یادېدم، خپل ټبر
او ټول قام قبیل په ما ښایسته او زما په نامه سرلوړی وو. زه د
شریفانو، پاکانو او اصیلانو په نسل کښې چه «آرین» ئې بولی
د لسو خیلونو او قبیلو سر او سترگی وم؛ زما له خواږه نوم یعنی
«پښت» څخه د ویدا سندری خوږې او خوندوری وې د «پکتا»
او «توروایاناً» ځلمی پاچا تاجونه زما په سر پراته او ډېر ښکلی
او ښایسته ښکارېدل، زه د «باختر» او «بلخ» په زرینه او ورېښمینه
زانگو کښې کلونه کلونه زنگېدلم. د سپین غر، هندوکش، پامیر
نرم پاسته پلازونه زما دپاره ښکلی او جړاو شوی و د آمو او
اباسیند تر منځ د بخدیا، پارتیا، پښتیا، آراکوزیا او گندهارا
په ځمکو ټول شنه بخملی فرشونه زما دپاره هوار غوړېدلی وو؛
او زه به شامدام د هوسیو او کبلو په څېر د پښتخا د پسرلی
په گلونو رغښتم را رغښتم. هغه وخت زما د فتحی او سوبې جنډې
د هندوکش په لوړو څکو رپېدې، آریائی سرودونه غږېدل. د ښایست
او جمال ملکې یعنی د پښتخا (پکتیا) جونه او پیغلی نڅېدی او ما
ورته په مزه خپل خوږ رباب واهه.

Pre-reading

Background

Rishtin was born in Mohmand in 1910, and studied in religious schools. His writings on etymology, Pashto grammar and literature are best known. He is also known for his pro-Pashtun and pro-Pashto convictions - you will notice that the passage below has relatively fewer Arabic words than the others in the unit, a reflection of Rishtin's determination to use Pashto words, even if he has to create them, rather than words from foreign languages, in his writing.

The passage below is the first part of a long essay on the migration of Aryans from the Caspian Sea to Afghanistan, in which Rishtin asserts that Pashtuns are the oldest (and the 'purest') of the Aryans. The essay was written in the forties, in the double context of Pashtun nationalism and the glorification of the Aryan race on the part of the Third Reich in Germany.

Our copy of the complete essay is from اوسنی ليکوال, page 471.

Key vocabulary

Aryan	*adj 1.*	[arín], [aryán]	آرين
Amu (Oxus) River	*n, M3.*	[amú]	آمو
velvety	*adj 4.*	[bakhməlí]	بخملی
pure	*adj 1.*	[pāk]	پاك
Pashtun *ancient name.*	*n, M2.*	[pəxt]	پښت
Aryan king	*n, M4.*	[paktā́]	پکتا
throne	*n, M2.*	[plāz]	پلاز
crown	*n, M2.*	[tāj]	تاج
Aryan king.	*n, M4.*	[torwāyānā́]	توروايانا
beauty	*n, M2.*	[jamā́l]	جمال
flag	*n, F1.*	[janḍá]	جنډۍ
variant of نجونه		[júna]	جونه
young	*adj 2.*	[dzalmáy]	ځلمی
wave	*smp. int. vb.*	[rapég-]	-رپېږ
cradle	*n, F3.*	[zāngó]	زانگو
golden	*adj 1.*	[zarín]	زرين
be praised	*smp. tr. vb.*	[stāy-́]	-ستاي
nobleman	*n, M1.*	[sharíf]	شريف
beauty	*n, M2.*	[xāyíst]	ښايست
spread out	*der. int. vb.*	[ghwaṛég-]	-غوړېږ
floor	*n, M2.*	[farsh]	فرش
man	*n, M3.*	[maṛanáy]	مړنی
queen	*n, F1.*	[maleká]	ملکه
origin, species	*n, M2.*	[nā́səl]	نسل
spectacle, panorama	*n, F1.*	[nəndārá]	ننداره
Vedic	*n, F3.*	[widā́]	ويدا
dirge	*n, M2.*	[wir]	وير
gazelle	*n, F2.*	[hosáy]	هوسۍ

Scanning hints

1. The essay is written in first person. This portion of it explains the part that 'I' (i.e. the ancient Pashtuns) played in historical accounts.

2. Before scanning the passage, put periods after the full verbs in the text.

3. Synonyms:

فتحه او سوبه	ښايست او جمال
ښکلی او ښايسته	خوږې او خوندورې

Post-reading

١. د آرین د لسو خیلونو سر او سترګې څوك ؤ؟

٢. د باختر او بلخ په زرینه زانګو كې څوك زنګیده؟

٢. د آمو او اباسیند تر منځ كومې ځمكې دی؟

٤. پښتني جونو ته چا په مزه رباب واهه؟

٥. زما په نامه څوك ښایسته او سرلوړی ؤ؟

٦. د شریفانو، پاكانو او اصیلانو نسل څه نومیږی؟

Notes for Detailed Rereading

1. وير او سندره is a reference to a couplet of Khoshal Khān Khattak's, which goes:

مړنی دی چې یادېږی   په سندرو هم په ویر

If you know the couplet, you can translate the phrase in Rishtin's essay properly as '[happy] songs and dirges'.

2. Throughout the essay, adjectives are used as nouns, with the M1 plural endings when required.

3. Rishtin mentions (in quote marks) several of the ancient sites in the Pashtun-speaking areas of Afghanistan and Pakistan. Here they are, with the current names of the areas:

باختر	*Now Balkh.*
بخدیا	*Now Balkh and Mazar-e-Sharif.*
پارتیا	*Now part of Iran.*
پښتیا	*Not clear. Translates as 'place of the Pashtuns'*
آراكوزیا	*Now Kandahar.*
ګندهارا	*Now valley of Peshawar*

4. Remember that شين can be both 'green' and 'blue'.

5. رغښتم را رغښتم is a construction (verb + را + verb) which indicates a repeated action. This action is that of a young animal (humans included) rolling around in fresh green grass just for the fun and high spirits of it. Compare Note 2 in Selection G.

6. ملکه is the feminine form of ملك.

که تازی ژبه هرگوره ښه ده فارشی هم دېره په خوند خوږه ده
چا يې پلاو د جمل وا نه ښست پښتو لا هسې بېکره پرته ده

- خوشحال خان ختټك

بېکر [békər] *adj. 1.* virgin
پلاو [palāw] *n, M2.* veil
تازی [tāzí] *adj 4.* Arabic
جمال [jamāl] *n, M2.* beauty
هرگوره [hárgora] *adv.* indeed

Selection G

د غوټۍ زندگی

خادم -

ډېری شپې ورځې تېرې شوې؛ موسمونه واوښته را واوښته دسمندر د غاړی بادونو وريځې د ځان سره راوړی وريځو ددغه ځای په حالت وژړل او اوښکې ئی توئی کړې.

دا اوښکې خوړونه شوه، بيا سيندونه شوه، او بيا ويالې شوې! او وروسته د گل په شاخ کښی وچليدې.

خدای زده څومره علل او اسباب سره يو ځای شوه او څومره شرايط وجود ته راغله چه پدغو ټولو باندی د غوټۍ زندگی مرتبه شوه. د سحر نری شمال په دی غوټۍ ورو، ورو د شفقت لاس تيرولو د شپی پرخې ورباندې خپله درافشانی کوله چه څو د شمال په ډېره دلاسانه غوټۍ خپل شين داوڼ له مخه لرې کړ. د چمن طراوت، د مرغانو نغمو، د اسمان د شنی فضا لاانتهائيت، د لمر زرينو پلوشو، د سپوږمۍ مرغوبيت، د ستورو مرموزو اشارو او د کايناتو نظام ته ئې وکاته او په نيمه خوله ئې وخندل.

چه څو بيا دې خوله خندا ته جوړوله نمر د ماسپښين ځای ته راغلې و غوټۍ دده خواته مخ واړاوه او سر ئې ټيټ کړو.
کوم وخت چه د نمر پريواته له پلوه د نمر د طلائی پلوشو سره د نسيم په لگيدو د غوټۍ نازکی پاڼې رپيدی نو دی په داسی اواز چه ايله د شاعر د زړه غوږونو اوريدی شو ويل:
پاکی تا لره ده ای خالقا، ای د کايناتو صانعا ستا عالم څومره ښايسته دی، څومره گلالی دی او څومره وسيع؟ مگر ای خاونده! زما د زندگی وار همدا و «پس له لږ سکوته» باداره؟ پاکی ده تا لره زه راضی يم چه ستا د بې انتها ملك يوه ډېره، جزئی برخه په ما ښايسته شوه؟

ستا د مخلوقاتو د سترگو طراوت وگرځېدم، بلبلان را باندې

وچغیدل، بوراگان را باندی والوتل، د صبا وږمی زما خوشبوئی یووړه
او خپه زړونه ئی پی خوشحاله کړل.... ډېره ثنا ده تالره چه زه
گل یم او اغزی نه یم، نمر د غروب په حال کښی و، گل خپل زړه
په خپلو مړاوو پانو کښی راونغښت او د خپل حیات په وروستیو
لحو کښی ئی یوارې بیا دا وویل: «ډېره ثنا ده تا لره ای خاونده!
چه زه گل پیدا شوم او اغزی نه شوم» او ورژید.

Pre-reading

Background

Qiyamuddin Khadem was born in Ningrahar sometime around the turn of the century, and is the oldest of the 'older' modern writers. He was educated within his family and in mosque schools, and also studied in Peshawar and India. He was a journalist - an editor of *Islah,* a prestigious daily paper - and a member of the early Pashto Academy. He was also in politics, serving for a while as a senator in the Afghan Parliament. He was jailed briefly after the Communist coup, and died not long after he was released in 1978.

This essay was first published sometime in the forties. It is a philosophical statement to the effect that one should thank God for making one productive, or at least not harmful - a statement more pointed when considered in the context of the repression and cruelty that existed in the Afghan government prior to Shah Mahmud's tenure as Prime Minister.

Our copy of the essay appears in Ulfat's لیکوالی: املا او انشا , page 101.

Key vocabulary

wind, breeze *n, M2.* [shamā́l] شمال
golden *adj 4.* [tɪlāyí] طلائی
world *n, M2.* [ʔā́lam] عالم
bud *n, F3.* [ghuṭә́y] غوټۍ
atmosphere *n, F3.* [fazā́] فضا
cute, appealing *adj 2.* [golalә́y] گلالی
caress *phr.* [lā́s teraw-́] لاس تیرو-

sign, signal *n, F1.* [ishārá] اشاره
buzz, fly *smp. irreg. int. vb.* [aluz-́] الوز-
voice *n, M2.* [awā́z] اواز
tear *n, F1.* [wúxka] اوښکه
nightingale *n, M1.* [bәlbә́l] بلبل
bee (a big black one) *n, F3.* [bawrā́] بورا
ray (of sunlight) *n, F1.* [palwashá] پلوشه

creatures	*M irreg. Ar. pl.*	[makhlúq]	مخلوق
orderly	*adj 1.*	[moratáb]	مرتب
bird	*n, M1.*	[morgh]	مرغه
faded	*adj 2.*	[mṝáway]	مړاوی
tender	*adj 1.*	[nāzə́k]	نازک
breeze	*n, M2.*	[nasím]	نسیم
order	*n, M2.*	[nɪzā́m]	نظام
time, turn (as in 'my turn')	*n, M2.*	[wār]	وار
existence	*n, M2.*	[wujúd]	وجود
cloud	*n, F1 - [a].*	[wrédz]	وریځ
breeze	*n, F1.*	[waghmá]	وږمه
wide	*adj 1.*	[wasíʔ]	وسیع
once again	*phr.*	[yawāre byā]	یوارې بیا
lower	*der. tr. vb.*	[ṭiṭaw-́]	ټیټو -
small	*adj 4.*	[juzʔí]	جزئی
shout, sing	*smp. int. vb.*	[chəghég-]	چغېږ -
be drawn in	*smp. int. vb.*	[chalég-]	چلېږ -
by the time	*phr.*	[che tsó byā]	چه څو بیا
fragrance	*n, F3.*	[khoshbuʔí]	خوشبوئی
comfort	*n, F1.*	[delāsāyéna]	دلاساینه
satisfied	*adj 4.*	[rāzí]	راضی
quiver	*smp. int. vb.*	[rapég-]	رپېږ -
die	*smp. int. vb.*	[razhég-]	رژېږ -
golden	*adj 1.*	[zarín]	زرین
life	*n, M3.*	[zəndagí]	زندگی
branch, stem	*n, M2.*	[shākh]	شاخ
condition	*n, M2. Ar. pl.*	[shart]	شرط

Scanning hints

1. The overall paragraphing in this essay roughly corresponds to the logical structure, which is as follows:
    - Global conditions lead to the creation of a flower.
    - The flower blooms, and responds to the sun.
    - The flower addresses God.
    - The flower dies.
2. Before scanning, put periods after the full verbs.

Post-reading

۱. څومره علل او اسباب او څومره شرایط منځ ته راغلل چه د غوټۍ زندگی مرتبه شوه؟

۲. په غوټۍ باندې چا ورو ورو د شفقت لاس تیرولو؟

۳. څو چه غوټۍ خوله خندا ته جوړوله څه پېښ شوی وو؟

٤. غوټۍ ولی راضی وه؟

٥. بلبلان په څه شی وچغیدل او بوراګان په څه شی والوتل؟

Notes for Detailed Rereading

1. Mispunctuations: The question mark after باداره in the fifth paragraph should be an exclamation point, and the comma after the phrase او اغزی نه یم in the last paragraph should be a period.

2. The phrase واوښته را واوښته is another example (see the notes for Selection F) of the verb + را + verb construction which indicates repeated action.

3. The word لانتهاییت is an Arabic construction through and through. انتها is 'end', plus the noun ending یت which makes it 'final-ness', plus the negative لا , which makes it 'non-final-ness', or 'limitlessness'.

4. The term داوڼ refers to the part of the *tsadar* that a woman brings across her face when she encounters someone she shouldn't show her face to.

5. په نیمه خوله ئې وخندل is a poetic way to say the bud smiled, which is in turn a poetic way to say the bud blossomed.

6. As the bud is talking in a voice only the ears of the heart of a poet could hear, she addresses God in a series of vocatives, which traditionally translate as "O ___!" , i.e.:

پاکی خالقا صانعا خاونده باداره

7. Khadem repeats the phrase تا لره ده several times in the essay. It means '... is for you.' Twice, Khadem gives the Arabic word order - ده تا لره - rather than the Pashto order. Pashtun writers have often been influenced by Arabic as the "correct" language, in much the same way that writers and teachers of the western languages were (or are!) influenced by Latin as the "correct" language. The word order of Arabic is verb - subject - object; the word order of Pashto is of course subject - object - verb, which renders a Pashto sentence with Arabic word order dead flat ungrammatical. Tegey remembers an exchange with Khadem, in which Khadem wondered which was correct - the Arabic form or the Pashto form; Tegey suggested that Khadem ask his wife and daughters which they thought was correct; Khadem rejected that suggestion, but some time later admitted that occasionally (but only occasionally!) Tegey was right....

8. The phrase پس له لږ سکوته is found in dramatic scripts as a stage direction.

9. یووړه ([yúwṛa]) is a dialectal variant of the Kabul dialect's وې ووړ .

10. The verb وگرځېدم would ordinarily translate as 'I walked', but in the first sentence of the last paragraph it works better as 'I became' or 'I represented".

11. The word غروب, 'sunset', is an Arabic word, clearly related to the Pashto word for west, which is غروب and also borrowed from Arabic. Khadem uses another phrase for sunset - د نمر پریواته له پلوه - which refers more to the place where the sun sets than to its setting.

کله چه خادم په پښتو ټولنه کې کار کاؤ، یوه ورځ د یوه سړی جنازې ته ولاړ. کوم سړی چه مړ شوی ؤ، هغه د معارف د وزارت یو پښتون مامور ؤ. خو پدې مشهور ؤ چه له پښتو او پښتنو سره رښتینی مینه نه لری.
کله چه خادم له جنازې نه بېرته راغی نو راته یې وویل: سړی د ځینو کلمو په معنا په کلونو کلونو نه پوهیږی. خو کله داسې موقع راشی چه سړی په ډېره اسانه پرې پوه شی. مثلاً ما ټول عمر د «متعصب» او «بې تعصب» کلمې اورېدې، خو په معنا یې نه پوهېدم. نن خدای هسی پرې پوه کړم.
ما ورته وویل: څنگه؟
ده راته وویل: د ... په قبر د ادبیاتو د پوهنځی رئیس وویل: خدای دې وبخښی بې تعصبه سړی ؤ. دده له دې خبرې سره زه پوه شوم چه «بې تعصب» یعنی «دووس».

تړی -

sincere, real *adj. 2.* [rixtínay]	رښتینی	unbiased *adj 1.* [be taʔsúb(a)]	بې تعصب
life *n, M2.* [ʔómər]	عمر	funeral *n, F1.* [jənāzá]	جنازه
biased *adj 1.* [mutaʔsɪb]	متعصب	cuckolded *adj 1.* [dawás]	دووس
meaning *n, F1.* [maʔnā]	معنا	president *n, M1.* [raʔís]	رئیس
opportunity, time *n, F1.* [moqé]	موقع		

Faculty of Letters *phr.* [de edebiyāto pohandzáy] د ادبیاتو پوهنځی

Note: Advocates of the Pashto language and those who worked for it were frequently called *mutasib* by a number of Persian speakers.

Selection H

ملاله

- سمندر د بدرښو

څه کم زیات د اتیاکالو خبره ده کال دولس سوه اوه نوی هجری و د برات د میاشتی اولسمه ورځ وه د پرنگی فوځ د میوند په میره کښی پروت و په هر ساز او سامان پوره، په خوراك څکاك موړ تك سور اوړی و، د آسمان نه اور وریدو، ځمکه تیغنه وه ملك سور تنور و کانی د گرمۍ له تاوه چاودل، پېریانو تنورونه اچولی و، هوا سره لمبه وه اوبه نه وی او که چیرته کوهی یا چینه وه نو په هغو د دښمن قبضه وه د مسلمانانو غازیانو سره اوبه خلاصی شوی وی له تندې د هر چا ژبی وتلې وې مرۍ وچې؛ شونډې سپینې تښتیدلې وې، سره ددې ملاتړلی ولاړ و او دا یی غوښتل چه ددین دښمن، د آزادۍ دښمن د خپل ملك نه وباسی ورك یې کړی خو ددښمن زور ډېرو او خښ ناست و او جنگېدو آخر چه په غازیانو تندې ډیر زور وکړو نو داسې واېی چه ځینو ځېنو په شا وکتل، زړونه ئې پریوتل، وارئې خطا شو، امام حسېن ر ض مسلمانانو ته یو سبق پریښی دی چه که چیری هم د حق او باطل تر مینځ جنگ وی د باطل ډېر زور وی د حق ملگری په سرونو هم کم وی او په وسله هم او لوږې تندی پری هم راشې خو بیا هم بایده دی چه د ذلیل ژوند ځنې د عزت مرگ واخلی خو کله کله مسلمانان داسبق هېر کړی نو ځکه پری وار خطایی غلبه وکړی همدغه وجه ده چه په میوند کښې هم مسلمانانو تېښته وکړه او په شا روان شول ورستو ددوی ښځی وې په هغو کښې یوې جینۍ سر هسك کړو او د ځان سره ئی ووې چه دا خو کار خراب شو؟ دا جینۍ ملاله وه، ملاله د ملی غرور او کلکی پښتو ډکه په تلوار د ښځو د منځ نه د غازیانو په لور ور روانه شوه چه نزدی ورغله لکه د زړوره، نره شیرببره، ودریدله او لکه یوه جرنیله ئې د زړه د اخلاصه نعره کړه چه:

ای پښتنو میړنو!

د هر جنگیالی پښتون غوږ ته دا چغه ورسیده او په جنگ کښې ئ د ملالې ورته وکتل ملالې د زړه د جوشه دا لنډۍ ووی چه:

یه که ځار:

که په میوند کښې شهید نشوې   خدایږو لالیه بې ننگۍ ته دې ساتینه

د ملالۍ د لنډۍ یو یو توری د هر غازی په زړه لکه دغشی ور ښخ شو اودې چه دا ټپه ختم کړه نو سمدستی ئ د الله تعالی نامه واخسته «الله اکبر» او لکه د وږې زمرۍ ئ د دښمن په لور ورمنډه کړه او په منډه کښې یی دا بله لنډۍ شروع کړه:

یه قربان: ......

خال به د یار په وینو کیږدم   چه شینکی باغ کښې گل گلاب وشرمومه

د ماتو مسلمانانو غازیانو د غیرت جذبه په جوش شوه، مات زړونه یې جوړ شول لکه چه مړه را ژوندی شی د هر غازی په رگ رگ کښې پښتنی وینی منډه وکړه وهښته ئ ودریدل، ملاله بیا د دوی تر منځ وتلی او په دښمن ورغلې وه هر یو ورپسی ورمنډه کړه او د کفارو په لښکرو ورغلل دښمن څه مقابله خو وکړه خو مسلمانان چه یو وار په کلکه د الله تعالی نوم واخلی نو غرونه ورته هم نه ټهگیږی آخر دښمن مات شو هغوی به په شا تښتیدل او میړنو غازیانو به وهل ډیر ئ مړه کړل او ډیر وتښتیدل توپې او گولۍ ترې په ځای ځای پاتی شوې میوند فتح شو- دا چا فتح کړو؟.

دا پښتنی ملالی:

نه زرها ځلمۍ ورغلی تر کماله   نه یوه نره ملاله میوند واله

Pre-reading

Background

Samandar da Badrasho was from Peshawar, born in the early 1900's. He went as far as the fourth grade in a modern school in Nawshera. He worked as a broadcaster in Radio Peshawar, and wrote poetry which won him acclaim.

This essay recounts a battle that took place between the British and Afghans (Pashtuns) on the Maywand Plain (in southern Afghanistan) in 1880, and the part played in the battle by one of the Pashtuns' camp followers, the girl Malala. Malala's story is

probably only loosely based on fact, but whatever really happened, Malala is now a legendary Pashtana heroine. The more conventional hero of the battle was Sardar Mohammad Ayub Khan.

The essay of course gives the Pashtun point of view of the battle. Here is how Louis Dupree describes it (*Afghanistan,* p. 410-411):

> 'But some months would follow before the British left Afghanistan, and they would suffer another disastrous defeat at the hands of the Afghans. On July 27, 1880, Mohammad Ayub Khan, fifth son of Amir Sher Ali, decisively defeated a British force under Brigadier G. R. S. Burrows in open battle at Maiwand, near Qandahar. of the 2, 476 British and Indian soldiers engaged in the fighting, 971 were killed in action, 168 wounded. In addition, the Afghans slaughtered 331 camp-followers and wounded seven; 210 horses were killed and 68 wounded (*Abridged Official Account of the Second Anglo-Afghan War,* 1908, p. 526.) At the battle of Maiwand a legendary Pushtun heroine, Malalai, used her veil as a standard, and encouraged the warriors by shouting the following couplet (*landay*) in Pashto (Shpoon, 1968, p. 48)
>
> Young love, if you do not fall in the battle of Maiwand,
> By God, someone is saving you as a token of shame."

(The landay appears in Samandar's essay as well; you can compare Shpoon's translation with your own, and with the translation given in the Notes for Detailed Rereading section.)

Dupree gives a footnote to all this (p. 411): it seems that this was the battle in which Dr. John H. Watson, as in "Elementary, my dear Watson", was wounded. See Arthur Conan Doyle's *A Study in Scarlet* for the details. It also seems that the Baker Street Irregulars at one point asked the Afghan government for permission to put up a monument to Dr. Watson, baffling the Afghans who couldn't understand why anyone would erect a monument to a fictional character, and on a site where the monument erectors' side lost...

Our copy of the essay appears in Ulfat's لیکوالی املا او انشا , page 146, with the notation that it comes from پښتنی .

Key vocabulary

Christian *n, M1.* [parangáy] پرنگی	great God *phr.* [allāh tālā] الله تعالی
towards *phr.* [pə lór] په لور	fire *n, M2.* [wor] اور
intensity, strength *n, M2.* [tāw] تاو	wrong *n, M1.* [bātə́l] باطل
thirst *n, F1.* [tə́nda] تنده	*alternative of* باید [bāydə́] بایده
cannon *n, F1.* [tópa] توپه	dishonor *n, F2.* [be nangí] بی ننگی

against, compared to *prep.*	[dzə́ne]	ځني
abbrev. for Ar.	[radiyálahu ʔanhú]	رض
vein *n, M2.*	[rag]	رگ
pride *n, M2.*	[ghorúr]	غرور
arrow *n, M3.*	[ghə́shay]	غشی
stone *n, M3.*	[kā̃ṇay]	کاڼی
infidel *n, M1.*	[kufā̃r]	کفار
bullet, ammunition *n, F2.*	[gwələ́y]	گولۍ
army unit *n, M irreg.*	[laxkár]	لښکر
plain, desert *n, F1.*	[merá]	مېره
brave, masculine *adj 1.*	[nər]	نر
panic *phr.*	[wār khatā kég-]	وار خطا کېږ -
raise *der. tr. vb.*	[haskaw-́]	هسکو -
run away *phr.*	[texta kaw-́]	تښته کو -
withstand *der. int. vb.*	[ṭingég-]	ټینگېږ -
emotion *n, F1.*	[jazbá]	جذبه
female general *n, F1.*	[jarnáyla]	جرنیله
fighting man *n, M1.*	[jangyaláy]	جنگیالی
boiling *adj 1.*	[jósh]	جوش
alternative of نجلۍ *n, F2.*	[jenə́y]	جېنۍ
noise, shout *n, F1.*	[chə́gha]	چغه
explode *smp. irreg. int. vb.*	[chw-́]	چو -
spring *n, F1.*	[chiná]	چینه
wrong *adj 1.*	[kharā̃b]	خراب
entrenched *phr.*	[khakh nā̃st]	خښ ناست
drinking *n, M2.*	[tskāk]	څکاک

Scanning hints

1. Samandar's style, as exemplified in this essay, is straightforward and unadorned. He starts with a description of the conditions of the battle, then describes what happened. The narrative includes two traditional landays, which are set apart from the prose via punctuation. The essay ends with a couplet, also punctuated separately.

2. Before scanning, go through the passage, putting periods after each full verb. Samandar's sentences are very short.

3. One of the characteristics of Samandar's style is that he deletes parallel verbs - in particular و - , parallel to something in English like

As for ammunition, they were well supplied; as for food and water, full.

The deleted verbs have been added (and double-underlined) in the following sentences from the text (and see Note 5 below):

په هر ساز او سامان پوره و، په خوراک څکاک موړ و.

د مسلمانانو غازیانو سره اوبه خلاصی شوی وی، له تندې د هر
چا ژبی وتلې وې، مری وچې وې، شوندې سپینې تبتیدلې وې، ...

Post-reading

١. د پرنګی پوځ څه وخت په میوند کې پروت ؤ؟

٢. ملالې له ټولو غازیانو نه څه وغوښتل؟

٢. امام حسین مسلمانانو ته څه شی پری ایښی ؤ؟

٤. ملاله د ښځو له منځ نه د چا په لور ور روانه شوه؟

٥. ملالې له لندۍ نه پخوا غازیانو ته څه وویل؟

٦. ملالې دوهمه لندۍ څه وخت شروع کړه؟

٧. د چا د غیرت جذبه په جوش راغله؟

Notes for Detailed Rereading

1. Misprint: تهگهړی should be تهنگهړی

2. هر ساز او سامان is literally ' every instrument and tool'; together in this context, they refer to the superior equipment of the British force.

3. A *ghazi* is a Moslem who participates in wars against non-Moslems. These wars may be for religious purposes, or to defend one's country.

4. The various words for 'red' in the description of the heat are parallel to English 'white-hot', and serve to emphasize how hot it was. The fire from the sky was from the sun, not from ammunition.

5. The term ملا تړلی is literally 'tied waist', and refers to the fighting man's having tied his sword on for battle. For practical purposes, the term is parallel to English 'able-bodied', i.e. the men who are able to fight.

6. Samandar doesn't want to take responsibility for saying that some Pashtuns considered retreating, so he uses the phrase داسې وایی 'it is said that ...' in the sentence

نو داسې وایی چه ځینو ځهنو په شا وکتل.

7. ر ض is the abbreviation for the Arabic phrase [radwiyaláhu ʔánhu], inserted when one has mentioned someone close to Mohammad. The phrase translates roughly as 'May

God be content with him'. The lesson that Hussein taught is explained in a long *if-then* sentence. That sentence is repeated below, with western punctuation and a restored deleted verb:

چه که چیری هم د حق او باطل تر مینځ جنگ وی، د باطل ډېر زور وی، د حق ملگری په سرونو هم کم وی او په وسله هم (کم وی)، او لوږې تندی پری هم راشې، خو بیا هم بایده دی چه د ذلیل ژوند ځنې د عزت مرگ واخلی.

8. The sentence ورستو ددوی ښځی وې refers to the practice whereby women accompanied the soldiers into battle. These women were parallel to western 'camp followers' , but were considered virtuous and honorable.

9. The word نر is usually 'male' or 'masculine' as opposed to ښځه. Samandar's use of it as a feminine adjective, in the context of Malala's being like a lioness, suggests that Malala was man-like in her bravery....

10. The word شیرببره consists of the Persian word for lion - [sher] شیر - and the Persian word for tigress - [bábra] ببره. Later in the essay, Samandar uses زمری , the Pashto word for lioness.

11. The phrases یه قربان and یه که خار are preliminaries to the chanting or singing of a landay. Malala clearly sang rather than shouted.

12. The landays translate idiomatically as something like

'If you are not a martyr in Maywand,
By God, lover, they will keep you as [an example of] dishonor.'

and

'I am making a beauty mark from the blood of my lover
And I will shame the flowers in the green orchards [with my beauty].'

13. The final couplet was written by Samandar, to summarize Malala's heroism. It translates something like

'Not a thousand young men can approach the skill
Of one brave Malala of Maywand.'

Answers to Post-reading Questions

Selection A.

۱. که بېگناه بندی خلاص شی د گډوډو او پریشانو خوبونو تعبیر به وکړی.

۲. بېگناه بندی د طبیعت په رمزونو او اسرارو پوهیږی.

۳. بېگناه بندی له خپلو جفاکارو ورنو سره ښه سلوك کوی.

٤. دا بندی فکر دی.

Selection B.

۱. تر څو چه د ښځو مخونه پټ وی.

۲. په کومه خبره کې چه ابتکار وی هغه د ادب پردې ته ډېر ضرورت لری.

۳. د لیکوال قافله د مچیو ده.

٤. له قافلې سره د سبا وږمو خوشبویی بار کړې ده.

Selection C.

۱. د علم د زده کوونکو په ډله پسې یو مغرور بې علمه زلمی رهی نه شو.

۲. د خاندان د خولۍ سیوری هغه بې علمه زلمی ته د هما سیوری ښکاریده.

۳. شلم قرن له دې بې علمه زلمی نه د تحصیل ډپلومه وغوښته.

٤. شلم قرن دې بې علمه زلمی ته وویل: «ای ناپوه او بېکاره ځلمیه! دا خولۍ ډېره زړه شوې او له موده لوېدلی ده.»

Selection D.

۱. په ټولو پانو کې پاکه پانه د قران پانه ده.

۲. د چین ما چین ښاپېرو د لیکوال وطن ته د چایو پانه راوړې ده.

٣. که د چای پانه په وکیل ووهی رښتیا به درله د روغ کړی او دورغ
به درله رښتیا کړی.
٤. پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کې د قران په پانو سترگی غړولې.

Selection E.

١. لیکوال چه له کوره ووت هدیرې ته ولاړ.
٢. ښایی چه کوم غریب سړی او یا کومی کونډې به لگولې وه.
٣. د پوهو قومو پوهان د کور د ډیوې مثال لری.
٤. نه! هغه قوم چه پوهه نه لری د پوهانو قدر ورسره نه وی.

Selection F.

١. د آرین د لسو خیلونو سر او سترگې زه وم.
٢. د باختر او بلخ په زرینه زانگو زه زنگیدم.
٣. د آمو او اباسیند تر منځ د بخدیا، پارتیا، پښتیا،
اراکوزیا او گندهارا ځمکې دی.
٤. پښتنی جونو ته ما په مزه رباب واهه.
٥. زما په نامه ټول قام قبیل ښایسته او سرلوړی ؤ.
٦. د شریفانو، پاکانو او اصیلانو نسل آرین نومیږی.

Selection G.

١. ډیر زیات علل او اسباب او ډیر زیات شرایط منځ ته راغلل
چه د غوټۍ زندگی مرتبه شوه.
٢. د سحر نری شمال په غوټۍ باندې ورو ورو د شفقت لاس
تیراؤ.
٣. څو چه غوټۍ خوله خندا ته جوړوله نمر د ماسپښین ځای ته
راغلی ؤ.
٤. غوټۍ ځکه راضی وه چه د خدای د بی انتها ملك یوه ډیره
وړه برخه پرې ښایسته وه.
٥. بلبلان په غوټۍ وچغیدل او بوراگان په غوټۍ والوتل.

BEST COPY AVAILABLE

Selection H.

۱. د پرنګی پوځ د کال دولس سوه اوه نوی هجری د برات په میاشت کې په میوند کې پروت ؤ.
۲. ملالې له ټولو غازیانو وغوښتل چه د آزادۍ دښمن له خپل ملك نه وباسی.
۳. امام حسین مسلمانانو ته یو سبق پری ایښی ؤ.
٤. ملاله د ښځو له منځ نه د غازیانو په لور ور روانه شوه.
٥. ملالې له لندۍ نه پخوا غازیانو ته وویل: ای پښتنو میړنو!
٦. ملالې دوهمه لندۍ هغه وخت شروع کړه چه د دښمن په لور یې ور منده کړه.
۷. د ماتو مسلمانانو غازیانو د غیرت جذبه په جوش راغله.

From the joke book:

د یوه ړانده د یوی ښځی سره نکاح وشوه. په ړومبۍ شپه ښځې ړانده ته وویل: افسوس چه تا زما ښایست او سپین رنګ لیدی شوی نو تا به په خپل قسمت ناز کولی.
ړانده وویل: کم بختې! که چېری ته واقعی ښایسته او سپینه وی نو سترګه ورو ماله ولی پریښودلی؟

افسوس چه	if only *phr.* [afsús che]
ړومبۍ = لومبۍ	
سترګه ور	with eyes *adj irreg.* [stərgawə́r-]
ښایست	beauty *n, M2.* [xāyə́st]
کم بخته	silly you *phr.* [kam bákhta]
ناز کو-	take pride *phr.* [nāz kaw-́]
نکاح کېږ-	get married *phr.* [nikāh keg-]
واقعی	really *adv.* [wāqi]

Unit 2: Articles

Introduction

The pieces in this section are articles - [muqālá] مقاله in Pashto. The primary purpose of a *muqāla* is to inform or to argue a point: as such, it can be either a news article, an editorial, or a piece of research. *muqālas* are published in newspapers and journals.

We have shortened the articles, even the excerpts. There are factors which encourage Pashtun writers to be lengthy and repetitive: newspapers and journals pay by the word, and - not surprising given the literacy and education rates in Afghanistan, which severely limits the number of people capable of producing articles - are frequently hungry for material to fill their pages; and there is a traditional opinion that the longer a piece is, the higher the scholarship it exhibits.

The selections in this unit include a classic analytical article by Ulfat, an excerpt from a long article on the *atan*, an excerpt from a speech reprinted as an article, a humorous feature article from a newspaper, and some short news briefs.

رشتين به ډيرې زياتې ليکنې کولې او متعدد کتابونه يې خپاره شوی وو. يو ورځ يې ماته د خپل دغه مهارت په ارتباط وويل: «بېگاه شپه مې غوښتل چه د زيری جريدې ته يوه لنډه مقاله وليکم. خو د ليکلو په وخت کې رانه اوږده شوه او په پای کې کتاب ترې جوړ شو.»

- تړی

become long *der. int. vb.* [ugdég-] - اوږدېږ

in relation *phr. w/* ... د [pə irtebāt] په ارتباط

weekly bulletin *phr.* [de zíri jaridá] د زيری جريده

be published *n, M2.* [khpareg-] - خپارېږ

message, *name of bulletin published in Kabul.* *n, M3.* [zéray] زېری

numerous *adj 1.* [mutaʔdíd] متعدد

expertise *n, M2.* [mahārát] مهارت

Selection A

احمق څوك دی؟

الفت -

هغه چه د دنیا په سود او زیان نه پوهیږی او د گتی په ځای تاوان
کوی خلق ورته احمق، بې عقل او ساده وائی...

د احمق او ساده یو مثال ملا نصرالدین دی چه په ظرافت او
مسخره توب هم شهرت لری.

ددغه مرحوم د حماقت دلیل دخلقو په نزد دادی چه ده به په یوه
روپۍ څلور دانې هگۍ واخستلی هغه به ئې وخوټولی په رنگ به ئې
سرې او شنې کړې بیا به ئې د روپۍ پنځه دانې خرڅولې یعنی د
گتې په ځای به ئې تاوان کاوه او خپل مال به ئې ارزانه خرڅاوه...

مونږ په خوله وایو چه عقل بېل شی دی او د دنیا مال بېل شی دی.
څوك به عقل لری مال به نه لری، ځینو نورو سره به مال وی
او عقل به نه وی، مگر په عملی ډول د هر چا عقل او بې عقلی د دنیا
د گتی او زیان له مخې معلوموو او په حقیقت کښې گتې ته عقل وایو
او تاوان بې عقلی یا حماقت بولو.

زمونږ په خیال او تصور کښې دا نشی راتلی چه ملا نصرالدین به
دا کار ددې دپاره کاوه چه نرخ ارزانه کړی او خپل احسان په دغسې
تجارت کښې پټ کړی چه خریدار ئې په سخاوت هېڅ پوه نشی او
کرامت حماقت وگڼل شی.

که زمونږ گمان نېك او ښه وای ملا نصرالدین به مو د خیر او فیض
خاوند گانه او د هغه په عقل پورې به مو نه خندل.

هغه بل کال زمونږ په هیواد کښې قحطی او گرانی وه یوه لوی
سوداگر له هرات نه ډیره غله قندهار ته راوړه او په خلقو ئې د بازار

BEST COPY AVAILABLE

له نرخه ارزانه خرڅه کړه یعنی گټه ئې ونکړه تاوان ئې وکړ دا کار هیچا د هغه په بې عقلۍ حمل نکړ او په اخبارونو کښ ئې ډیره ستاینه وشوه.

هغه ته چا ملانصرالدین و نه ویلی بلکه د خیر او برکت خاوند ئی وباله.
یو وخت زه د یوه شتمن سړی کره میلمه شوم د هغه په کاله کښې هر څه پاخه شو. مگر سکړك ئې نه درلود. د کاله خاوند څو غلمینې ډوډۍ خپلو همسایه گانو ته ولېږلې او هماغومره سکړکان ئې راوړه.

ما ته دا معلومه شوه چه دوی هره ورځ دغه راز تجارت کوی او پخپل کاله کښې جواری نه پخوی...

که دغه راز کار یو خوار او غریب وکړی حماقت دی.

مگر د بډایانو دپاره صفت دی...

که خواران او غریبان له اسراف او تبذیر نه کار واخلی ډېره لویه ناپوهی او نادانی ده. مگر بډایان په اسراف او تبذیر د جود او کرم خاوندان گڼل کیږی.

دغه عقل چه د خوار او غریب رهبری کوی د بډایانو دپاره نه دی په کار.

هو! عقل هغه امسا ده چه گوډ او ضعیف انسان ورته اړ دی.
هغه چه دقوت او قدرت خاوند دی دغه د ضعیفانو وسله ورته نه ښائی.

د عقل عینکې د کمزوری نظر بینائی زیاتوی او د تېز نظر خاوندان ئی کله کله د ډول او فیشن دپاره په سترگو کوی.

که څوك عقل او هوښیاری لټوی د خوار او غریب په کور کښې دی ولټوی زورور او بډایان له دغه شی نه بی نیازه دی...

د زورورو په مخکښې عقل گونگ وی او ډېر مزخرف معلومیږی هر څه چه بی ضرورته وی او احتیاج ورته نوی بد ښکاری او قیمت ئی لږ

وی. که چیرې په انسان کښې ډیره نیمگړتیا او کمزوری نه وای او عقل ته ئی احتیاج نه درلودای عقل او پوهی به دغومره قدر نه درلوده...

یو بډای که په زرهاو روپۍ یوه شپه په قمار کښې بایلی احمق نه دی هغه چه د ورځې د شلو یا دیرشو روپو په سگرتو اور لگوی یا د سینما او تیاتر په تشه ننداره پیسی ورکوی ځوك ورته احمق نه وائی، مگر که یو مزدور یوه ورځ کار ونکړی او وزگار وگرزی احمق دی ځکه چه بیگا ته په کور کښې څه نلری او وږی پاته کیږی...

کله چه یو بډای یوه ښکلی نفیسه تابلو په ډیرو روپو اخلی یا ښینی انتیك او زاړه شیان د تش نمود دپاره په ډیر لوړ قیمت را نیسی هغه بل چه یو زوړ قلمی کتاب چه ذوق او صنعت پکښې خرڅ شوی په گرانه بیه اخلی او د هماغه کتاب چاپی نسخی ډیرې ارزانه لاس ته راځی ته ووایه چه دغه راز تاوانونه د څه دپاره دی؟

که غرض معنوی استفاده وی هماغه معنی په چاپی کتاب کښې هم شته معلومه شوه چه مال تاوانول د نامه او شهرت دپاره د شوق او ذوق دپاره دهوا او هوس دپاره حماقت نه دی صنعت دی او ستاینه ئې کیږی مگر پدی شرط چه سړی خوار او فقیر نه وی بډای وی او ډیرې پیسې ولری.

اوس خو به پوهیدلی یاست چه احمق ځوك دی او مونږ چا ته احمق وایو؟

Pre-reading

Background

This piece is halfway between what we have defined as an article and what we have defined as an essay. Its length and analytic nature qualify it as an article; its language qualifies it as an essay.

The article was probably written in the fifties, and originally published in a newspaper. Our copy of the essay appears in غوره نثرونه, pp. 17 - 20.

Key vocabulary

compliment	*n, M2.*	[sɪfát]	صفت
art	*n, M2.*	[sɪnʔā́t]	صنعت
humor, wit	*n, M2.*	[zarāfát]	ظرافت
wisdom	*n, M2.*	[áqəl]	عقل
glasses	*n, F1.*	[aynáke]	عینکی
reason, purpose	*n, M2.*	[gharaz]	غرض
poor	*adj 1.*	[gharíb]	غریب
famine	*n, F2.*	[qatí]	قحطی
gambling	*n, M2.*	[qemā́r]	قمار
strength	*n, M2.*	[quwát]	قوت
dialectal obl. form of [kor]		[kālə́]	کاله
weak	*adj 2.*	[kamzóray]	کمزوری
inflation	*n, F2.*	[grāní]	گرانی
lame	*adj 1.*	[gwəḍ]	گوډ
dumb, speechless	*adj 1.*	[gwəng]	گونګ
search	*smp. tr. vb.*	[laṭaw-́]	لټو-
nonsensical	*adj 1.*	[muzakhráf]	مزخرف
spiritual	*adj 4.*	[mānawí]	معنوی
decoration	*n, M2.*	[namúd]	نمود
show	*n, F1.*	[nəndārá]	ننداره
shortcoming	*n, F3.*	[nimgəṛtyā]	نیمګړتیا
jobless, idle	*adj 1.*	[wuzgā́r]	وزګار
egg	*n, F2.*	[hagə́y]	هګۍ
desire	*n, F3.*	[hawā́]	هوا
caprice	*n, F2.*	[hawás]	هوس
kindness	*n, M2.*	[ihsā́n]	احسان
stupid	*adj 1.*	[ahmáq]	احمق
needy	*adj 1.*	[aṛ]	اړ
gain,	*n, F1.*	[istifādá]	استفاده
extravagance	*n, M2.*	[isrā́f]	اسراف
cane	*n, F3.*	[amsā́]	امسا
rich man	*n, M1.*	[baḍā́y]	بډای
price	*n, F1.*	[báya]	بیه
foolish	*adj 1.*	[be ʔáqəl]	بې عقل
loss	*n, M2.*	[tāwā́n]	تاوان
mere, empty	*adj 1.*	[təsh]	تش
view	*n, M2.*	[tasawə́r]	تصور
sharp	*adj 1.*	[tez]	تېز
generosity	*n, M2.*	[jud]	جود
stupidity	*n, M2.*	[hamāqát]	حماقت
customer	*n, M1.*	[kharidā́r]	خریدار
blessing, benefit	*n, M2.*	[khayr]	خیر
boil	*smp. tr. vb.*	[khuṭaw-́]	خوټو-
good taste	*n, M2.*	[zawq]	ذوق
increase	*der. int. vb.*	[zyātég-]	زیاتېږ-
naive	*adj 4.*	[sādá]	ساده
praise	*n, F1.*	[stāyə́na]	ستاینه
generosity	*n, M2.*	[sakhāwát]	سخاوت
cornbread	*n, M1.*	[sokṛə́k]	سکړك
profit	*n, M2.*	[sud]	سود
merchant	*n, M1.*	[sawdāgə́r]	سوداګر

Scanning hints

1. Ulfat starts this article with a premise about stupidity:

هغه چه د دنیا په سود او زیان نه پوهیږی او د گتی په ځای تاوان
کوی خلق ورته احمق، بې عقل او ساده وائی...

then argues against the validity of the premise by giving a number of examples. In almost all the examples, he shows that a particular action is considered stupid under one set of circumstances, and benevolent/generous/appropriate under another set of circumstances.

2. Synonyms:

خیال او تصور   خیر او فیض   اسراف او تبذیر
سخاوت او کرامت   خیر او برکت   ناپوهی او نادانی
نېك او ښه   خوار او غریب   جود او کرم

3. Guess:

تیاتر   سینما   انتیك   فیشن   تابلو

Post-reading

١. د ملا نصرالدین د حماقت دلیل څه شی ؤ؟

٢. په عمل کې د هر چا عقل د څه شی له مخې معلومیږی؟

٣. کله چه یوه سوداگر له هرات نه غله راوړه او په قندهارکې یې
د بازار له نرخه ارزانه خرڅه کړه خلکو هغه ولې احمق و نه باله؟

٤. د عقل همسا ته څوك اړ دی؟

٥. که څوك عقل او هوښیاری لټوی، نو چیرته یې باید ولټوی؟

٦. که یو مزدور یوه ورځ کار ونه کړی خلك ولی ورته احمق وایی؟

٧. بډایان انتیك او زاړه شیان د څه دپاره په ډیرو پیسو اخلی؟

Notes for Detailed Rereading

1. The word مرحوم is 'forgiven' in Arabic, referring to God's forgiveness to someone who has died.

2. دانې is a grammatical quantifier, e.g. the word 'piece' in 'a piece of bread' or a piece of chalk'. Pashto, like English, usually just counts things with numbers, e.g. 'four eggs'.

3. The phrase د دنیا مال is an idiom meaning 'worldly goods' (as opposed to heavenly attributes).

4. The sentence below is convoluted, even for native speakers.

زمونږ په خیال او تصور کښې دا نشی راتلی چه ملا نصرالدین به
دا کار ددې دپاره کاوه چه نرخ ارزانه کړی او خپل احسان په دغسې
تجارت کښې پټ کړی چه خریدار ئې په سخاوت هیڅ پوه نشی او
کرامت حماقت وګنل شی.

The idea expressed is something like:

'It wouldn't occur to us that Mullah Nasruddin lowered the price and hid his kindness in this business, in such a way that his customers would be unaware of his generosity and instead consider it stupidity.'

5. سکرک is cornbread, a flat round loaf of corn flour and water, baked in a tandur. The whole point of Ulfat's example here is based on the Pashtun opinion that cornbread is of much lower quality and desirability than wheat bread.

6. The phrase نه دی په کار is an idiom. It translates as 'is irrelevant for', or 'is not needed by'.

7. Throughout the essay, Ulfat uses خاوند coupled with attributes. In these contexts, it translates best as 'a man of ...' or 'the possessor of ...'

8. The phrase معلومه شوه چه is used here by Ulfat as a logical transition. It translates as 'it [thus] becomes obvious that ...'

Selection B

- علی محمد منگل

ډمه ډول دی ښه شه　　دا ډول دې ولی غلی کی
حکیم مو ښه گډیږي　　نیازمین صورت یې ستړی کی

چې ډول وهی خوانان ټولیږي　　یا به لښکر وی یا غدۍ د ژنیو ځینه

پښتنی ملی اتڼ

په منگلو کې اتڼ (گډیدا) په څو ډولو دی؟

پښتنی ملی اتڼ ډیر خندن دود او ملی عنعنه ده چې د گران هیواد په زیاتو برخو په تېره د پښتنو په ټولو سیمو کې دا ملی عنعنه په زیاته مینه سره تر سره کیږي، افغانان دا ملی دود د جنگ، اختر، واده، خپلواکۍ په ورځو، جشن او پسرلی په لومړی ورځ کې په خاصو مراسمو او ډولونو سره په خوښۍ تر سره کوی...

په حقیقت کې اتڼ یوه خند نه ملی لوبه ده...په گران هیواد کې ملی اتڼ یوازې نرینه نه کوي، بلکې د پښتنو پیغلې، جنکۍ او ښځې یې هم د ښادیو او ییدونو (اخترونو) په ورځو کې په ډېره مینه او خوشالۍ سره کوي، ددې له پاره دغه څو پامونه (بیتونه) وگوری چې په موضوع باندې رڼا اچوی:

خت مې گلبدن گونځې یې ورای نه شم
زه چې گډه نه شم د سلیم ښځه راوړی نه شم
یمو (زما) شېرین جانانه !
لیلو (لیلی) گډیږي غورځوی سره دسمالونه
خت مې خنځیري دی، زه یې ورای نه شم
یمو (زما) ادکې مورې اتڼ کړای نه شم

په واده کی اتڼ څنگه پیل کیږي؟

موږ دلته د واده په وخت کې د اتڼ په شروع کیدو باندې غږیږو

چې څنګه په کلو او باندو کې د اتڼ دود په دې ښادی کې د ولس تر منځ تر سره کېږي.

په منګلو کې د چارشنبې په ورځ د هلکپلار یا تره او ورونه خپلو کلیوالو ته خبر ورکوي چې سبا د زیارت ورځ ده موږ د خپل زوی او ورور دپاره د واده په نیت ورا جوړوو، زموږ په ښادۍ کې خو په تاسې ګډون کوئ کله چې کلیوال خبر شی د چارشنبې په ورځ خپلې تورې ځنې په وییو (هګیو) مینځی، د غوا په زېړو غوړیو یې غوړوی، د پنجشنبې (زیارت) په ورځ د تنکی بریځر په وخت کې خپل ملی لباس او جامې اغوندي، ځوانان د ختونو (کمیسونو) د پاسه د لیس او چرمینو نه جوړ شوي سره، شنه او زرغونه واسکټونه چې له بخمل نه جوړ شوي اغوندي، د واسکټونو د پاسه د پنځو ګمټو (سلوکړتوسو) بندونه غاړې ته اچوی، او تر ملا یې تړی، خپل پنځه ډزې، لیسنی او غوږور ټوپک متونو ته اچوی، ډول ډول تورې، نسوارې سپینې او خړې لونګی په سر کوي، د ټکندې یاستاغ بریځر په وخت کې ډول وهونکی د کلی تر شا یا منځ کې درمند او میدان ته ځان رسوي او په ډېر ټاس او خراپ سره د چوغې (چیغې) ډول وهی، ځوانان یا د هلك د کلی وروځی ځوانان چې د ډول بږغ واوری له خپلو کورونو نه راوزی او د اتڼ میدن ته چې ډول وهونکی په کې ولاړ دې ځانونه ور رسوی، ځوانان چې د اتڼ میدان ته داخل شی د چوغې (چیغې) د ډول له غږ سره پوړته غورځی او ټوپونه وهی، نو یونیم تن د ټوپکو ډېډې (ډزونه، باړونه، وارونه) کوي، د څه شېبو له پاره ډول وهونکی د چوغې (چیغې) ډول ددې له پاره وهی چې ځوانان را غونډ شی، کله چې ځوانان ټول له کورونو نه د اتڼ میدان ته راورسیږي په دې وخت کې ډولچی د ډول غږ دچوغې (چیغې) له حالت نه د اتڼ دپاره اړوی او ځوانان د میدان په منځ کې دوی ډلې کیږي، یوه ډله د میدان په یوه سر کې په کتار سره دریږي، او بله ډله د میدان په بل سر کې په یوه کیله او کتار سره دریږي، لاسونه سره ورکوي،یو وارې یو کتار په لوړ آواز د اتڼ بیت وایی بیا یې بل کتار د اتڼ بیت په لوړ آواز د دوی د پام او اتڼ د بیت د ورګرزولو او مخی کولو له پاره وایی...

Pre-reading

Background

This piece is excerpted from a long article on the Pashtun national dance which appeared in *Kabul* in August, 1980. The excerpt focuses on the *atan* as it is danced among the Mangal tribe in Paktyā.

Key vocabulary

mommy	*n, F1.*	[adáka]	ادکه
style	*n, M2.*	[andāz]	انداز
velvet	*n, M2.*	[bakhmál]	بخمل
decorative thread	*n, F1.*	[chərmá]	چرمه
alarm, summons	*n, F1.*	[chígha]	چیغه
shirt, blouse	*n, M2.*	[khət]	خت
shoulder-length hair	*n, F1.*	[tsə́ṇe]	څڼې
ancient	*adj 1.*	[dzənḍán]	څنډن
over, on top of	*phr.*	[de pāsa]	د پاسه
enter	*der. int. vb.*	[dākhelég-]	داخلېږ-
medium green	*adj 1.*	[zarghún]	زرغون
happy occasion	*n, F2.*	[xādí]	ښادی
body	*n, M2.*	[surát]	صورت
band of robbers	*n, F2.*	[ghadə́y]	غدی
gather	*der. int. vb*	[ghwənḍég-]	غونډېږ-
line	*n, M2.*	[katār]	کتار
quality	*n, M2.*	[kayifiyát]	کیفیت
line	*n, F1.*	[kíla]	کیله
twenty-cartridge group	*n, F1.*	[gamṭá]	گمټه
gather in material	*n, F1.*	[gwə́ndza]	گونځه
outfit, costume	*n, M2.*	[lebās]	لباس
turban	*n, F2.*	[lungə́y]	لونگی
gold/silver lace or braid	*n, M2.*	[lays]	لیس
square	*n, M2.*	[maydān]	میدان
competition	*phr.*	[məkhi kawə́l]	مخی کول

Scanning hints

1. This article starts out with the refrain from the song sung while dancing the *atan*. It continues with a sample *landay*, then goes into a prose discussion of the national *atan*. The point in the second paragraph is illustrated with a six-line poem. We have replicated the original's format as closely as possible, including bold-face for sub-titles.

2. Mangal uses a lot of dialectal words, and when he uses one that he thinks will not be understood, he puts the more common word in parentheses. (Sometimes the less common word is in parentheses.) The unusual words are listed below, with their more widespread equivalents and English glosses:

English	Common Pashto word	Mangal's word
torn, broken	څیرې	[bázha] بږه
couplet	بیت	[pām] پام
early morning	سهار	[tankay bridzár] تنکی بریځر
shot (from a gun)	ډزه	[ḍíḍa] ډېډه
young man	ځوان	[zhə́ṇay] ژڼی
???		[laysaní] لیسنی
popular	منلی	[nyāzmín] نیازمین
late morning	څاښت مهال	[stāgh bridzár] ستاغ بریځر
member of a ورا	ورابانی	[wrutsáy] وروڅی
egg	هګۍ	[wey] ویی

Post-reading

۱. پښتانه د ملی اتڼ دود څه وخت تر سره کوی؟

۲. اتڼ یوازې نارینه کوی؟

۳. ځوانان په واده کې د ختونو د پاسه څه اغوندی؟

۴. ډول وهونکی د بریځر په وخت کې چېرته ځی؟

۵. ځوانان چه د اتڼ میدان ته داخل شی څه کوی؟

۶. ځوانان چېرته دوې ډلې کیږی؟

۷. د اتڼ بیت دواړه کتاره یو ځای وایی او که یې یو وارې یوه ډله
وایی او بیا یې بله ډله؟

BEST COPY AVAILABLE

Notes for Detailed Rereading

1. A free translation of the refrain of the *atan song* is as follows:

Musician, may your drum be torn!
Why did you silence that drum?
Our Hakim was dancing well,
His lovely body was getting tired...

The couplet given after the refrain is a *landay*. During an *atan*, the dancers alternate the refrain with *landays* of their choice. The *landay* can be anything, but well-constructed *atans* include *landays* that have a word or an idea in common with the refrain. A written article of course cannot convey the very distinct rhythm of the music that accompanies the *atan*, or the way in which the refrain and landays are chanted.

2. A دم. in rural Afghanistan is a barber, and one of the barber's duties is to act as musician, which includes beating the drum for the *atan*. A دم in Afghanistan does not enjoy particularly high social status. In the Northwest Frontier Province of Pakistan, however, the term refers to minstrels, who as composers and poets enjoy much higher status.

3. تر سره کېږ- is an idiom; it translates best as 'be carried out' or 'be accomplished'.

4. When the author uses the phrase گران هيواد in the first paragraph, he means 'our dear country', in this case Afghanistan.

5. The phrase ادکې مورې in the poem about the girl and her blouse is a vocative phrase ('O dear mother'). Masculine vocatives end in ه-; when a feminine noun ending in ه- occurs in the vocative, the ending is ې .

6. غږېږو: the author is referring to himself in the plural.

7. The ملك mentioned in the discussion of weddings is the groom.

8. د زيارت ورځ is the 'day of shrine', i.e. Thursday. See Shinwara's essay in Unit 1.

9. The phrase

سبا د زيارت ورځ ده موږ د خپل زوی او ورور دپاره د واده په
نيت ورا جوړوو، زموږ په ښادۍ کې خو به تاسې گډون کوئ

is a direct quote, i.e. the wording of the invitation.

10. The verb -مينځ , 'wash', is a simple transitive verb. There is another verb, also 'wash', which is a doubly irregular, stress-shifting verb with two possible past stems. The alternatives and their forms are given below:

Pres. Imp.	[mindz´]-مينځ	[premindz´]-پرېمينځ
Pres. Prf.	[wə́mindz-]-ومينځ	[prémindz-]-پرېمينځ
Past Imp.	[mindz(ə́l)-]-مينځل	[premindz(ə́l)-]-پرېمينځل *or* [prewól-] -پرېوول
Past Prf.	[wə́mindz(əl)-]-ومينځل	[prémindz(əl)-]-پرېمينځل *or* [préwol-] -پرېوول

11. An 'eared gun' is a rifle from British occupation times, with a sight (the 'ear') on the barrel.

12. A درمند is a stack of harvested grain, corn, etc. Here, it probably refers to a communal place in the village where the grain is stacked.

13. حالت usually means 'state', status' or ;'situation'. In this context, it refers to the drum's rhythm; the drummer shifts from a rhythm which signifies that everyone should come to him, to the unique *atan* rhythm.

14. The words تاس and خراپ are onomatopes, reflecting the sound of the drum and the dance.

Selection C

د جدی شپږمه
د افغانستان د معاصر تارخ توره ورځ

- پروفیسر عبدالرسول امین

... د ۱۳۵۸ کال د جدی په شپږمه نیټه زمونږ د ملت د تاریخ په پاڼو کې یوه نه هېریدونکې تراژیدی ثبت شوله او نن موږ د هماغې تورې ورځې د غندلو له پاره، د خپل میړنی مسلمان او مجاهد اولس د تاریخی میړانې د لمانځلو له پاره را ټول شوي یو. ¶ موږ افغانانو ټل د ګاونډیتوب او د یو او بل په کورنیو چارو کې د نه لاس وهنې پربنسټ له ګاونډیو هیوادونو سره اړیکې ساتلې وې او په دې لړ کې مو له روسانو سره هم ورته چلند کړی و، او هیڅکله مو د هغوی له پاره کومې سرحدي او امنیتی ستونزې نه وې پیدا کړې...

خو روسانو ددې ټولو عیني واقعیتونو پر خلاف د ښه ګاونډیتوب په غولوونکو شعارونو، زموږ له پاره یوازې ستونزې او بد مرغۍ پیدا کړي دي...

د ۱۳۵۸ کال د جدی په شپږمه نیټه یې سرو پوځونو پر افغانستان یرغل وکړ او د یو مستقیم تیري له لارې یې خپل یو لاس پوځی رژیم د واکمنۍ پر ګدۍ کینولو... له دغی خونړۍ پیښې سره سم زموږ مسلمان، میړنی او مجاهد ملت د تاریخ یو بل امتحان ته چمتو شو. د جهاد بیلا بیلو سنګرونو ته یې ور ودانګل او له خپل دین، خپل هیواد او خپل ناموس څخه د ساتنې مورچلې یې جوړې کړې. موږ دې ته مجبور کړی شو چه هر څه پریږدو او تورې را واخلو، دا ځکه چې ددین او وطن غوښتنې مو مخې ته ولاړې وې...

اوس چې روسان یوازې په فزیکی لحاظ له افغانستان څخه وتلي دي، په حقیقت کې د هغوی مداخلو او تجاوز نوی ډولونه او لا پیچلی بڼه پیدا

کړې ده. هغوی اوس هم په افغانستان کې د خپل لاس پوځي رژیم
ملاتړ کوي. د کابل مزدور رژیم ته نه یوازې هر اړخیزې مرستې ورکوي،
بلکه اوس هم په ټول اولس کې ناکوبې رواني دي او تر اوسه پورې
لا شوروی، زموږ د مسلمانو او وطن دوستو خلکو د ارادې او غوښتنې
په مخالف لوری ولاړ دی.

افغانان به ترهغې پورې خپل سپیڅلي اسلامي جهاد ته ادامه ورکوي چې
په افغانستان‌کې یې دخپلې خوښې یواسلامي حکومت نه وي‌جوکړی.
دا د هغوی د جهاد د پیل او دوام یو اساسي ټکی دی: روسان په
نړیواله ټولنه کې، د افغانستان په وړاندې ځان تش د انسانیت او
اخلاقی گناه په نوم نه شي تبرئه کولی. هغوی باید چې اوس د خپلو
گوډاگیانو حمایت پرېږدي، او افغانان خپلې خوښې ته پرېږدي، چې
پخپله خوښه په افغانستان کې یو اسلامي حکومت منځ ته راولی. روسان
د افغانستان د ټولنې د تباهۍ اساسي مسؤلین دي او لازمه ده چې
هغوی افغانانو ته د ټول جنگ او ټولې تباهۍ بشپړ تاوان ورکړي...

اوس چې افغانستان د بري په وروستي پړاو او د بشپړې آزادۍ په
درشل کې دی، موږ هیله کوو چې د افغانستان ټول قهرمان جهادي
تنظیمونه به په خپلو کې لا متحد او متفق شي. دغه اتحاد به زموږ
د بشپړ وروستني بري ضامن وي.

لازمه ده چې د دوست او مسلمان هیواد پاکستان د هغو هر اړخیزو مرستو
له امله مننه وکړو چې ددی‌هیواد خلکو او حکومت زموږ سره کړی دی.

موږ هیله لرو چې په راتلونکې کې به دغه دواړه اسلامي هیوادونه د
ورورولۍ د اوسنې ثبوت د واقعیت په اساس د یو او بل د ملاتړ په
حیث دورونو غونډې ژوند وکړي. موږ افغانان د دوست دوستې او د
دښمن ترخې تجربې نه هیروو، موږ له نورو دوستو هیوادونو څخه هم د
زړه له کومې مننه څرگندو چې د هجرت د ستونزو په برخه کی یې
مرستې کړې او زموږ د اسلامي جهاد سره یې ملاتړ کړی دی او
کوي یې.

BEST COPY AVAILABLE

Pre-reading

Background

This article is the transcription of a speech read by Professor Rasul Amin at a conference on the tenth anniversary of the Soviet invasion of Afghanistan. We have deleted portions of the speech which do not have to do with the subject matter.

Rasul Amin is the director of WUFA, an organization funded by Pakistan and some of the western countries to provide an outlet for scholars resistant to the communist government in Afghanistan. WUFA has been headquartered in Peshawar, and has published a quarterly journal خپلواکی (in which this article appeared, in the October 1989 issue), the journal WUFA in English, and a newsletter. Professor Amin was educated in Pakistan, and was a professor at Kabul University until 1979. He was imprisoned for a short time, and after his release he fled to Peshawar. See Unit 6 for a sample of his less formal writing.

Key vocabulary

direct	*adj 1.*	[mustaqím]	مستقیم
responsible	*adj 1 irreg.*	[masúl]	مسول
support	*n, M2.*	[mlātáṛ]	ملاتړ
cruelty	*n, F1.*	[nākóba]	ناکوبه
threshold	*n, M2.*	[darshál]	درشل
continuation	*n, M2.*	[dawā́m]	دوام
pure, sacred	*adj 2.*	[spetsə́lay]	سپیڅلی
problem	*n, F1.*	[stúnza]	ستونزه
border	*n, M2.*	[sarhád]	سرحد
stronghold	*n, M2.*	[sangár]	سنگر
slogan	*n, M2.*	[sheʔár]	شعار
guarantor	*n, M1.*	[zāmín]	ضامن
condemn	*smp. tr. vb.*	[ghənd-́]	- غند
deceiving	*adj 2.*	[ghulawúnkay]	غولوونکی
amity	*n, M2.*	[gāwanḍitób]	گاونډیتوب
throne	*n, F3.*	[gadə́y]	گدۍ
interference	*n, F1.*	[las wahána]	لاس وهنه
ethical	*adj 4.*	[akhlāqí]	اخلاقی
security	*n, M2.*	[amniyát]	امنیت
success	*n, M3.*	[baráy]	بری
total	*adj 1.*	[bə́shpəṛ]	بشپړ
basis	*n, M2.*	[bansə́ṭ]	بنسټ
form	*n, F1.*	[báṇa]	بڼه
on the contrary	*phr.*	[pə khelā́f]	په خلاف
acquit	*der.tr.vb.*	[tabreʔá kaw-]	تبرئه کو-
aggression	*n, M2.*	[tajāwə́z]	تجاوز
experience	*n, F1.*	[tajrubá]	تجربه
invasion	*n, M3.*	[tiráy]	تیری
point	*n, M3.*	[ṭə́kay]	ټکی
be recorded	*der. int. vb.*	[sabtég-]	ثبتېږ -
proof	*n, M2.*	[subút]	ثبوت
attitude, approach	*n, M2.*	[chalánd]	چلند
ready	*adj. 4*	[chamtú]	چمتو
support	*n, M2.*	[hemayát]	حمایت

help, support	*n, F1.*	[mrásta]	مرسته
world community	*n, F1.*	[nuṛəywā̃la]	نړیواله
migration	*n, M2.*	[hɪjrát]	هجرت
attack	*phr.*	[yarghál kaw-́]	یرغل کو-
respect	*smp. tr. vb.*	[lmā̃ndz-́]	لمانځ-
united, aligned	*adj 1.*	[mutahéd]	متحد
interference	*n, F1.*	[mudā̃khalá]	مداخله

Scanning hints

1. The author begins with a statement of the purpose of the speech. He then briefly touches on the treachery of the Russian/Soviet invasion, and the forced Afghan response. He comments that the Russian withdrawal and their acknowledgement of error is not sufficient. He concludes by thanking Pakistan and other western countries for their help.

2. The author alternates between زمونږ and زموږ, and between په and پر

3. Guess: رژیم تراژیدی

Post-reading

١. کومه غونده چه لیکوال خبرې پکښی وکړې هغه د ځه دپاره جوړه شوې وه؟

٢. د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ځه وخت د تاریخ یوه بل امتحان ته چمتو شو؟

٣. اوس چه روسان له افغانستان نه په فزیکی لحاظ وتې دی، د هغوی مداخلو او تجاوزونو ځه بڼه پیدا کړې ده؟

٤. د افغانانو د جهاد د پیل اساسی ټکی کوم دی؟

٥. روسان باید افغانانو ته ځه شی ورکړی؟

٦. اوس چه افغانستان د بری په وروستی پړاو کې دی، د افغانستان ټول جهادی تنظیمونه باید ځه وکړی؟

٧. افغانان د پاکستان د دولت او خلکو د ځه شی مننه باید وکړی؟

Notes for Detailed Rereading

1. The original seventh paragraph reads as follows:

لازمه ده چې د دوست او مسلمان هیواد پاکستان له دولت او خلکو
څخه د هغوی د هر اړخیزو مرستو له امله مننه وکړو چې ددی
هیواد خلکو او حکومت زموږ سره بشري او اقتصادي مرستې کړي
دي او زموږ سپېڅلي جهاد، چې د وارو هیوادونو مشترك هدف دی،
ملاتړ یې کړ دی.

There has been some kind of printing mixup, as the last three lines above don't make sense. It is impossible to reconstruct what Professor Amin wrote: our correction of the paragraph to

لازمه ده چې د دوست او مسلمان هیواد پاکستان له دولت او خلکو
څخه د هغوی د هر اړخیزو مرستو له امله مننه وکړو چې ددې
هیواد خلکو او حکومت زموږ سره کړی دی.

makes sense, but probably varies somewhat from what Professor Amin had in mind.

2. In the first paragraph, Amin uses the word اړيکې, 'connection, relation', which is not a common Pashto word. اړيکې is a masculine noun, but - probably because its synonym رابطه is feminine, it's considered feminine as well - hence the feminine ساتلې وې immediately after.

3. In the first paragraph, the nouns سرحد and امنيت appear with final ی's. In this context they are being used to modify ستونزې - 'border and security problems' - and so have been given the Persian adjective ending.

4. The phrase لاس پوڅی in the third paragraph translates literally as 'hand raised', and carries the connotation that something wild has been domesticated and in the process become tame and passive. It is the standard translation for 'puppet' as in 'puppet government'.

5. In the third paragraph, سنگر and مورچله appear. سنگر translates as 'stronghold' - an area, usually a natural formation like a cliff or cave or river bank - that has been fortified with guns, etc. مورچله is used both for 'stronghold', and also in hunting contexts for 'blind', e.g. something you build to hide behind so whatever you're hunting doesn't see you. مورچله, by the way, is usually *n, M2*.

6. The verb مجبور کېږ- is one of the typical derivative intransitive verbs that translates as a passive, e.g. 'be forced'. Amin uses the transitive form مجبور کو-, which translates literally as something like 'cause to be forced to...' Amin uses the form deliberately, to emphasize his point that the Soviets forced the Afghan response.

7. Amin uses شوروی as a short form for اتحاد شوروی, exactly parallel to English use of the term 'Soviets'. Afghans, like Americans, used the terms for 'Russian' and 'Soviet' interchangeably, before the dissolution of the Soviet Union.

8. The phrase د یو او بل د ملاتړ په حیث in the last paragraph translates as 'in support of one another'.

9. The phrase په درنښت which ends the speech/article is literally with respect. It's customarily used to signal the end of a piece of writing or a speech, much the way 'sincerely' or 'yours truly' is used to end letters in English.

From the joke book:

یو ډیر غټ سړی د یوه اوچت بلډنګ د نهم منزل نه لاندی
وغورزیدو. کله چه په هوش کښی شو، نو په هسپتال کښی پروت ؤو.
د نرس نه یې تپوس وکړ: زه په خیریت سره یم که نه، مسټر؟
نرس ځواب ورکړو: ته خو په خیریت سره ئې. لیکن تا لاندی
چه کوم څلور سړی راغلی وو، هغه مړه دی.

however, but *conj.* [lékɪn] لیکن	heavy *adj 1.* [ghaṭ] غټ
floor, level *n, M2.* [manzə́l] منزل	fall *smp. int. vb.* [ghurdzég-] غورزیږ-
consciousness *n, M2.* [hush] هوش	

English words: هسپتال نرس مسټر بلډنګ

Selection D

ټوکه نده واقعیت دی

- م. ن سالارزی

وایی کله چې د شوروی اتحاد پخوانی جمهور رئیس میخائیل گرباچف د امریکا د جمهوررئیس بوش په بلنه امریکا ته سفر کړی و، بوش د گرباچف ډیر توصیفونه وکړل او گرباچف یې د نړۍ والی سولې د تامین، د شرق او غرب تر مینځ د اړیکو دښه والي اصلی‌محور وگانه، جمهوررئیس بوش جمهوررئیس گرباچف ته وویل دا چې اوس د شرق او غرب تر منځ سوړ جنگ پای ته رسیدلی او د دوو ابر قدرتونو د مخامخ کیدلو خطر هم له مینځه تلل دی اوس د سپینی ماڼۍ واك لرونکی تا ته ډیر دقدر په سترگه گوري او امریکائیان تا خپل نژدی او صمیمي دوست گڼی. نو زما یوه هیله ستا څخه دا ده چې نن به رسمي میلمستیا څخه تیر شوو، زه غواړم چې ستا په فریمایش درته نن خواړه پاخه کړو، گرباچف ورته وویل: اشنا زه خو هسی هم امریکا ته په خدمت کولو او د سوسیالیزم دښمن معرفی شوی یم ددی لپاره چه نړیوالو ته د پانگوالو ځان ضد وښایم نو ځما ارزو دا ده چې د یو څو لویو امریکایی پانگوالو د زړونو څخه راته کباب تیار کړی، بوش په ځواب کی وویل چه یاره! مونږ لوی امریکایی پانگوال که پانگی ډیری لرو ولی زړونه مو ډیر کوچني دی مونږ د خپلو شخصي او ځانگړو گټو او اهدافو پرته په وړیا توگه یو ډالر هم چاته نه ورکوو، مگر کله چې په یوه مسئله کښی زمونږ ځانگړی گټی او اهداف موجود وی هغه وخت مو زړونه ډیر لوی (وی) د پانگی قربانی څه کوی چې د ځانونو قربانۍ ته هم حاضریږ، ستا د غوښتنی لپاره که یو شمیر پانگوال قرباني هم شي مهمه نده ځکه تاسو څو نشو خپه کولای، که تاسو خپه کړو نو په نړۍ کښی زمونږ ځانگړی گټی او اهداف د خطر سره مخامخ کیږي نو مجبور یوو چې دخپلو گټو او اهدافو د ساتلو لپاره څو تنه قرباني ورکړو او تا خوشحاله

وساتو چی په نتیجه کی د گرباچف د غوښتنی سره سمه غذا تیاره شوه. کله چه جمهور رئیس بوش مسکو ته په سفر لاړ، نو جمهوررئیس، گرباچف ددی لپاره چی کسات یی ادا کړی وي د جمهوررئیس بوش څخه یی د خپلی خوښی د غذا د تیارولو د فرمایش غوښتنه وکړه، جمهوررئیس بوش وویل خوږه یاره! که نن راته د یو څو تنو لویو لویو کمونستانو د مغزو څخه غذا تیاره کړی نو ډیر به خوښ شم. جمهوررئیس گرباچف د بوش د غوښتنی سره سم د غذا د تیارولو لارښوونه وکړه، ولی د ډوډۍ د ټاکلي وخت څخه څو ساعته زیات تیر شوو، اما غذا تیاره نشوه. جمهوررئیس بوش، گرباچف ته وویل چی یاره د ډوډۍ د ټاکلي وخت څخه څو ساعته زیات تیر شوي، ډوډۍ نده تیاره؟ پدی وخت کی جمهور رئیس گرباچف یو آه وکړ او وی ویل عفوه غواړم د هغه وخت څخه چی تاسو د غذا فرمایش ورکړی دی تر اوسه پوری مونږ یو زیات شمیر غټ غټ کمونستان حلال کړل خو په ډیر تاسف سره باید ووایم چی د یوه په سر کی هم ماغزه نه وو، کاشکی چه تاسو دکمونستانو د ژبو څخه د غذا فرمایش ورکړی وی، ځکه د کمونستانو ژبی ډیرې اوږدی دي ولی په سرونو کښی یی بالکل ماغزه نشته...

Pre-reading

Background

This article was published in January 1992, some months after the dissolution of the Soviet Union and the resignation of Mikhail Gorbachev as its president. It appeared in *Mujahid Wolas Newspaper*, a publication of the Afghan Mujahid Information Centre in Oslo.

Key vocabulary

request, desire *n, F3.* [arzó] ارزو
relation *n, M3.* [āṛikáy] اړیکی
goals *n, M2. Ar. pl.* [ahdāf] اهداف
at all *phr.* [bélkwəl] بالکل
capitalist *n, M1.* [pāngawāl] پانگوال
capital *n, M3.* [pānga] پانگه
freely *phr.* [pə waṛyā toga] په وړیا توگه
regret *n, M2.* [tāʔasúf] تاسف
accomplishment *n, M2.* [tāmín] تامین
compliment *n, M2.* [tawsíf] توصیف
scheduled *adj 2.* [ṭākálay] ټاکلي
let alone *phr.* [tsá kawe che] څه کوی چی
private *adj 2.* [dzāngəṛay] ځانگړی
peace *n, F1.* [sóla] سوله
improvement *n, M3.* [xəwālay] ښه والی
beg pardon *phr.* [ʕáfwa ghwāṛ-] عفوه غواړ-
food *n, F3.* [ghezā] غذا
order (for food) *n, M2.* [farmāísh] فرمایش
disappear*phr.* [lə mándza dz-] له مینځه ځ-
axis *n, M2.* [mehwár] محور
brain *n, M2.* [maghz] مغز
international *adj 1.* [naṛəy wāl] نړیوال
authority *phr.* [wāk larúnkay] واك لرونکی
however, but *conj.* [wále] ولی

Scanning hints

1. This article is a 'report' about incidents in the relationship between Presidents Bush and Gorbachev. The hearts and brains mentioned in the article are literal, not figurative.

2. The piece has apparently not been edited, and there are several gross misprints and arbitrary punctuation marks. Go through the piece, inserting periods after full verbs and colons after the occurrences of وویل . The conjunction چی is used twice merely as a signal that the sentence has ended.

3. Guess:

بوش دالر سپینی مانۍ سوړ جنگ
سوسیالیزم کمونست میخائیل گرباچف

Post-reading

۱. جمهور رئیس بش جمهوررئیس گورباچوف څنگه سړی وگانه؟

۲. بش له گرباچوف نه څه هیله وکړه؟

۲. گورباچوف له بش نه څه آرزو وکړه؟

٤. کله چه بش مسکو ته ولاړ گورباچوف د هغه د خپلې خوښې د غذا د تیارولو د فرمایش غوښتنه ورنه وکړه؟

۵. بش گورباچوف ته څه وویل؟

٦. گورباچوف غټ غټ کمونستان ولی حلال کړل؟

۷. کمونستانو ماغزه لرل؟

۸. د کمونستانو ژبې څنگه وې؟

Notes for Detailed Rereading

1. Watch for major typographical errors. The inserted (وی) in the nineteenth line of the article was omitted from the original.

2. The phrase ابر قدرت has been constructed out of the Persian ابر and the Arabic قدرت.

3. سپینه مانه is literally 'white castle'.

4. د قدر په سترگ گور- is an idiom: 'look with favor on'.

5. رسمي میلمستیا څخه تیر شوو means 'get beyond the formal banquet', i.e. to become on closer terms with.

6. The phrases د سوسیالیزم دښمن معرفی شوی and ځان د پانگوالو ضد وښایم translate as 'show myself to be anti-socialism' and 'show myself to be anti-capitalism', respectively.

7. کسات usually means 'revenge', but here it works better as 'reciprocate'. The verb ادا کو- usually occurs with the word انتقام, which is the normal one for 'revenge'.

Selection E

News Briefs

1.

د خواخوږی پیغام

د افغانستان د جمهور رئیس محترم نجیب الله له خوا د اطریش د
فدرالی جمهوریت د جمهور رئیس کورت والدهایم په نامه ددغه هیواد د
مسافر وړونکی الوتکی د راغورزیدو له امله چی د سر زیان یی اړولی
دی دغه هیواد ته د ډاډ گیرنی پیغام مخابره شویدی.

په پیغام کی دافغانستان د خلکو ژوره خواخوږی ځرگنده شویده.

- هیواد (5/30/91)

2.

مزارشریف :

میډیا: له جهادی سنگرونو څخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی
دی د مزارشریف نومیالو مجاهدینو د مزارشریف په ښار کې د
دښمن په پوځی مرکزونو د درنو وسلو ډزی وکړی چی د هغو په
نتیجه کی د مزدور رژیم د قواو دوه ټانکونه تخریب او په هغو
کی ناست کسان وژل شوی او یا ټپیان شوی دی.

خبر زیاتوی چی دښمن ته زیات مالی زیانونه هم اوښتی دی.

د یو بل خبر له مخی مجاهدینو د بلخ ـ جوزجان په لویه لار د
رژیم پر پوځی کاروان برید وکړ چی د هغی په نتیجه کی پنځه
عسکر او ملیشه وژل شوی او څلور په پوځی اکمالاتو بار لاری
سوځیدلی دی.

جهاد هنداره (11/6/91)

3.

اخبار خارجی

د دیکویار او عرفات ترمنځ کتنه

د فلسطین د خبری اژانس د خبر له مخی د فلسطین د آزادی
غوښتونکی سازمان رئیس یاسر عرفات د ملگرو ملتو د سازمان

له سرمنشی هاویر پریز دیکویار سره د نایجیریا په پایتخت په
ابوجا کی د افریقا د یووالی سازمان په اوه ویشتمه غونډه کی کتنه
او خبری وکړی.
دغه آژانس خبر راکوی دوی د لبنان په جنوب کی د اسرائیلو د
پرله پسی بریدونو په باب خبری وکړی دوی همدا راز د ژنیو د
ځلورم کنوانسیون د لاسلیك کوونکی غونډی د جوړیدو غوښتنه
وکړه او د منځنی ختیځ د سولی د بهیر د پرمختګ په خاطر د
امریکا د متحده ایالاتو او شوروی اتحاد د هلوځلو په باب
خبری وکړی.

- هیواد (6/8/91)

Pre-reading

Background

These news briefs are typical of those appearing in newspapers. Such briefs are frequently from news services such as میدیا and اخبار خارجی. Brief #1 appeared just after one of those plane crashes that attract international attention; brief #2 appeared a month or two before the demise of the communist government in Kabul, when the Afghan *mujaheddin* were still engaged in sporadic fighting around the cities controlled by the government; and brief #3 appeared during Xavier Perez de Cueillar's tenure as Secretary General of the United Nations. You can tell by the tone of the articles that هیواد was published in Kabul (still under the communist government) and د جهاد هنداره was published by a *mujaheddin* organization in Pakistan.

Afghan newspapers contain news, editorials, and poetry. While there are Pashto-only and Dari-only papers, most publish in both, with both languages appearing in any given issue, and the frequency of one language over the other depending on the locale and political position of the newspaper. During the communist regime, the government-backed newspapers were mostly in Dari, while the *mujaheddin* publications were mostly in Pashto in Pakistan, and in Dari/Farsi in Iran. In general, an article is printed in the language it is submitted in, although frequently articles are translated into Pashto. See Unit 6 for some examples of these translations.

Key vocabulary

Austria	*n, M2.*	[utaraísh]	اطریش
equipment	*n, M irreg.*	[ɪkmālāt]	اکمالاتو
attack	*n, M2.*	[brid]	برید
movement, process	*n, M2.*	[bahír]	بهیر
continuous	*phr.*	[parla pəsé]	پرله پسی
progress	*n, M2.*	[pərməkhtág]	پرمختګ
for the sake of	*phr.*	[pə khatə́r]	په خاطر
message	*n, M2.*	[payghā́m]	پیغام
destroy	*der tr vb*	[takhribaw-́]	تخریبو-
injured	*adj 4.*	[tapí]	ټپی
according to	*phr.*	[de ... lə mə́khe]	د ... له مخی
consolation	*phr.*	[ḍaḍ girə́na]	ډاډ ګیرنه
organization	*n, M2.*	[sāzmā́n]	سازمان
force	*n, F3.*	[qəwá]	قوه
meeting	*n, F1.*	[katə́na]	کتنه
famous, brave	*adj 2.*	[numyāláy]	نومیالی
efforts	*n, F1.*	[ale dzále]	هلې ځلې
by the same token	*phr.*	[həmdā́ raz]	همدا راز

Scanning hints

1. We have put the headlines in bold face. The second brief doesn't have one.

2. Guess:

(*1) کورت والدهایم فدرالی

(*2) لاری (British English!) کاروان ټانګ

(*3) کنوانسیون یاسر عرفات هاویر پریز دیکویار
ژنیو نایجیریا اژانس
اسرائیل لبنان ابوجا

2. In *3, there are several titles:

Palestine Liberation Organization	د فلسطین آزادی غوښتونکی سازمان
United Nations	د ملګرو ملتو سازمان
General Secretary	سرمنشی
Organization of African Unity	د افریقا د یووالی سازمان
Signatory	لاسلیك کوونکی
Middle East	منځنی ختیځ

Post-reading

۱. د افغانستان جمهوررئیس نجیب اله چا ته پیغام استولی دی؟

۲. نجیب اله کورت والدهایم ته د څه شی پیغام استولی دی؟

۲. مجاهدینو د مزارشریف په ښار کې پر څه شی ډزې کړی دی؟

٤. مجاهدینو د بلخ ـ جوزجان په لویه لار پر څه شی برید وکړ؟

٥. د فلسطین د آزادی غوښتونکی سازمان رئیس یاسرعرفات له چا سره وکتل؟

٦. یاسرعرفات او دیکو یار پر څه شی خبرې وکړې؟

Notes for Detailed Rereading

1. مسافر وړونکی الوتکه in #1 is literally traveler carrying plane', i.e. a passenger plane.

2. د سر زیان اړولی in #1 is literally 'loss of head', i.e. casualty.

3. The phrase په هغو کی ناست کسان in #2 translates most economically as "those inside".

Answers to Post-reading Questions

Selection A.

١. د ملا نصرالدين د حماقت دليل دا ؤ چه د روپۍ څلور دانی هگۍ به يې واخستې. هغه به يې وخوټولې. په رنگ به يې سرې او شنې کړې بيا به يې د روپۍ پنځه دانې خرڅولې.

٢. په عمل کې د هر چا عقل د دنيا د گټی او تاوان له مخې معلومېږی.

٣. خلکو دغه سوداگر ځکه احمق ونه گانه چه شتمن ؤ.

٤. د عقل همسا ته گوډ او ضعيف انسان اړ دی.

٥. که څوك عقل او هوښياری لټوی، د خوار او غريب کره دې ولټوی.

٦. خلك ځکه ورته احمق وايی چه بيگا ته په کور کی څه نه لری.

٧. د نمود دپاره يې په ډيرو پيسو اخلی.

Selection B.

١. پښتانه د ملی اتڼ دود د جنگ، اختر، واده، خپلواکۍ په ورځو جشن او د پسرلی په لومړيو ورځو کې تر سره کوی.

٢. اتڼ يوازې نارينه نه کوی بلکه پيغلې، جنکۍ او ښځی يې هم کوی.

٣. ځوانان د واده په ورځ د ليس او چرمينو نه جوړ شوی واسکټونه اغوندی.

٤. ډول وهونکی د بريځر په وخت کې د کلی تر شا يا منځ کې درمند او ميدان ته ځان رسوی.

٥. ځوانان چه د اتڼ ميدان ته داخل شی د چيغی د ډول له غږ سره پورته غورځی.

٦. ځوانان د ميدان په منځ کې دوې ډلې کيږی.

٧. د اتڼ بيت يو وارې يوه ډله په لوړ آواز وايی او بيا يې بله ډله په لوړ آواز وايی.

Selection C.

١. کومه غونډه چه لیکوال خبرې پکښې وکړې هغه پرافغانستان باندې
د روسانو د یرغل د غندلو او د افغانستان د مجاهد ولس د
لمانځلو دپاره جوړه شوې وه.
٢. د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس ملت د شورویانو د یرغل
له خونړۍ پیښې سره یوه بل امتحان ته چمتو شو.
٣. اوس چه روسان له افغانستان نه په فزیکی لحاظ وتی دی، د هغوی
مداخلو او تجاوزونو پېچلی بنه پیدا کړې ده.
٤. د افغانانو د جهاد د پیل اساسی ټکی د یوه اسلامی حکومت
جوړول دی.
٥. روسان باید افغانانو ته د ټول جنګ او ټولې تباهۍ بشپړ تاوان
ورکړی.
٦. اوس چه افغانستان د بری په وروستی پړاو کې دی، مونږ هیله
کوو چه د افغانستان ټول قهرمان جهادی تنظیمونه به په پخپلو
کې لا متحد او متفق شی.
٧. افغانان د پاکستان د دولت او خلکو د هغو هر اړخیزو مرستو
مننه باید وکړی چه له افغانانو سره یې کړې دی.

Selection D.

١. جمهور ریس بش جمهور ریس گرباچوف د شرق او غرب تر منځ
د اړیکو د ښه والی اصلی محور وگانه.
٢. بش له گرباچوف نه هیله وکړه چه نن به له رسمی میلمستیا
نه تیر شو.
٣. گورباچوف له بش نه دا آرزو وکړه چه د یو ځو لویو امریکایی
پانگه والو د زړونو څخه کباب ورته پوخ کړی.
٤. خوکله چه بش مسکو ته ولاړ گرباچوف د هغه د خپلې خو ښې د
غذا د تیارولو غوښتنه ورنه وکړه.
٥. بش گرباچوف ته وویل: خوږه یاره! که نن راته د یو ځو تنو لویو
کمونستانو د مغزو غذا تیاره کړې نو ډېر به خوښ شم.

BEST COPY AVAILABLE

٦. گورباچوف غټ غټ کمونستان ځکه حلال کړل چه له مغزو نه یې غدا جوړه کړی.
٧. نه کمونستانو ماغزه نه لرل.
٨. د کمونستانو ژبې ډېرې اوږدې وې.

Selection E.

١. د افغانستان جمهور رئیس د اطریش د فدرالی جمهوریت رئیس کورت والدهایم ته پیغام استولی دی.
٢. نجیب اله کورت والدهایم ته د ډاډگیرنې پیغام استولی دی.
٣. مجاهدینو د مزارشریف په ښار کې د دښمن پر پوځی مرکزونو ډزې کړی دی.
٤. مجاهدینو د بلخ ـ جوزجان په لویه لار د رژیم پر پوځی کاروان برید وکړ.
٥. د فلسطین د آزادی غوښتونکی سازمان رئیس یاسرعرفات د ملگرو ملتو د سازمان له سرمنشی هاویر پرزدیکویار سره وکتل.
٦. یاسر عرفات او دیکویار په خپلو کې د اسرائیلو په پرله پسې بریدونو خبرې وکړې.

From the joke book:

یوه کور ته نیمه شپه غل ننووت. د یوه کټ نه علاوه چه پکښی د کور مالك ویده ؤ، تمامی سامان ئی یوړو. په آخر کښی مالك ویښ شو او ویې کتو چه کور خالی دی. کټ ئی واخست، ورپسی روان شو. غل چه د کور مالك په داسی حالت کښی وینی، وائی: ته دا څه کوی؟ د کور مالك وائی: زما دا خیال دی چه تاسو زما د پاره د کرائی کور کتلی دی.

finally *phr.* [pə akhə́r ke] په آخر کښی
all *adj 4.* [[tamāmí] تمامی
thief *n, M1.* [ghal] غل
find *smp. tr. vb.* [kat-] کتـ-
rental *adj 4.* [krāyí] کرائی
except for [lə ... na ʔalāwá] له ... نه علاوه

Unit 3: Stories

Introduction

Modern Pashto short stories reflect a long oral tradition which includes the [nakə́l] نکل and the [qɪsá] قسه. *nakəls* are longish fairy tales and romances, told either within the family to pass a winter evening, or among men in the *hujra* by professional story-tellers - or at least by some talented story-teller in the neighborhood. *nakəls* told in the *hujra* include songs, and are frequently accompanied with music from the rabob. The stories are either fairy tales, some borrowed from Persian or Arabic, or romances. Some of the more famous Pashtun romances are *Adam Durkhanəy, Momɪn Shirinəy, Zarif Khan Mābəy,* and *Dalay aw Shahəy* from the Afghanistan/Pakistan border area. In addition to the central plots, romances like these usually contain references to uniquely Pashtun customs; they, and their modern counterparts, can provide wonderfully clear insights into Pashtun ideal values and behaviors, as well as spin a terrific yarn.

In contrast to the *nakəl, qɪse* are anecdotes and jokes: Mullah Nasruddin stories are perfect examples of traditional *qɪse,* and *qɪse* are used throughout this reader as fillers.

The *nakəl* and *qɪsa* comfortably made the shift to print. There are very few Pashto dramas or novels, either modern or traditional. But collections of Pashto *qise* and *nakəls* are easily found, and the *nakəl 's* modern counterparts - *lanḍe qɪse* (a direct translation of the Western term *short story*) - appear regularly in newspapers, journals, and collections. After the communist coup in 1979, most of the Afghan intellectuals and writers fled to Peshawar, where they regrouped and continued their writing. In that circle, the *landa qisa* has effectively replaced the *adabi parcha* as the vehicle for descriptive prose.

A modern Pashto *lanḍa qisa* is either a narrative with a strong central plot, or a descriptive piece patterned after such western short stories as Crane's *The Open Boat*: In *Intermediate Pashto* , Munshi Ahmad Jan's *Badal* in Unit 25 exemplifies the former, and Tegey's *Jar Worbal* in Unit 28 exemplifies the latter. A particular story, of course, can include both elements; much of the description the original *Badal* was deleted in the interests of space and reducing the vocabulary load.

Of course, there are well-told and ill-told stories. From the Pashto learner's point of view, it would appear that (vocabulary problems aside) the better the quality of the Pashto, the easier it is for the non-Pashtun to understand the story.

In this Unit, Selection B, Munshi Ahmad Jan's آدم درخانۍ, is one of the *nakəl* mentioned above, rewritten in short story form. The other three selections are examples of narrative *lanḍe qɪse*.

Selection A

یوه رښتیانی قصه

- الفت

څوکاله: پخوا تاماس خان اپریدی له تیرا نه د مومند و غرونو ته ولاړ او په لاره دیر بی پروا تیریده، دده ټوپك دیر ښکلی او دیر، باوری و ځکه ئی له چا نه ویره نه کیده د مومندو بنارس خان چه د هغه قیمتی ټوپك ولید دومره ئی خوښ شو چه په هیڅ شان ئی زړه نشو صبرولی، مومند سړی چه ښه ټوپك ووینی نوبیا ځان نه وینی او د سره په سودا هم ددغسی ټوپك خستلو ته تیار وی.

بنارس خان په همدغه اراده له کلی او ودانی نه لری د تامام خان مخه ونیوله او غږ ئی پری وکړ چه ټوپك همدغلته کیږده او ځه تاماس خان چه دا غږ واوریده سمدلاسه ئی یوی تیږی ته ځان پناه کړ او په دزو ئی شروع وکړه دا ځکه چه یو پښتون هیڅکله دا پیغور نشی قبلولی چه په ژوند چا ته خپله وسله تسلیم کړی دا کار په پښتنو کښی یوه بی غیرتی ده او ددغسی سړی اولادونه هم د خپل پلار پدغسی نامه شرمیږی تاماس خان پدی پوهیده چه که دده د زی له بنارس خان سره شروع شی نو ارو مرو نو مومند د هغه په مرسته را رسیږی او لوپه شخړه جوړیږی مګر سره لدی دی مجبور ؤ چه په یوه سر جنګ شروع کړی او د بی غیرتی نوم په ځان کښیږدی په دی جنګ کښی بنارس خان ووژل شو او د تاماس خان ګولی د هغه په تندی ونښته مګر د دزو په اوریدو له یوی خوا او بلی خوا د مومندو چیغه را ووته او تاماس خان دیر کوشش کاوه چه له دغه ځایه په منده پښی وباسی.

هر کله چه دی د غره سړی و نو بیائی هم یو ځای ته ځان ورساوه مګر په مخکښی ئی له نورو کلیو نه نور خلق را ووتل او دی پوه شو چه دوه خوا جنګ نشی کولی ځکه ئی د یوه خوړ په غاړه یوه کاله ته پناه ور وړه او د ځان د حمایت غوښتنه ئی وکړه، ده ته دا معلومه وه چه که یو خونی او قاتل هم د یوه پښتانه کور ته پناه وروړی هغه

پړی له سر او ماله تیریږی او چاته ئی په لاس نه ورکوی د پښتنو
دغه پښتنی عادت دیر شهرت لری او هر پښتون ترینه هر چیرته
خبر دی تاماس خان په پدغه کاله ننوت نو ځان ورته په امن او آمان
کښی ښکاره شو او باور ئی درلود چه د کاله خاوند که څه هم په
قام مومند دی بیا هم پدی هیڅکله نه راضی کیږی چه دی نورو
مومندو ته وسپاری تاماس خان اپریدی چه د مومند په کاله کښی
لږ غوندی دمه جوړه کړه نو خلق له توپکو سره هلته را ورسیدل
او کاله خانو میر اکبر خان ته ئی وویل چه ستا د زوی قاتل په
کاله در ننووت چه د بنارس خان غوندی یو توریالی ځلمی ئی وژلی
دی له دی خبر سره سم د بنارس خان مړی هم را ورسید او
میر اکبرخان د خپل گران ځوی په دیر لوی غم اخته شو. دلته
تاماس خان په ځان وویریده او پدی پوه شو چه په لوی لاس ئی
لکه اجل نولی ځان مرگ ته وسپاره ده دیر افسوس کاوه چه کاشکی
د بل چا په کور کښی ننوتی وای او د ځوی مړی له کاله نه په
څنگ وای میر اکبر خان په دغه وخت کښی دیر عجیب او غریب
حال درلود کله به د انتقام جذبه پری دومره غالبه شوه چه باید
سمدلاسه د قاتل په ستونی چاړه را کاږی او خپل زړه پری یخ
کړی ځکه چه ده ته دا هم نه وه معلومه چه تیری او تجاوز د
بنارس خان له خوا و او تاماس خان د ځان ساتلو دپاره دغه اقدام
ته مجبور شوی دی مگر له دغی جذبی سره به د پښتنو او پښتونوالی
قانون هم دده مخی ته دریده چه د یوه پناه راوړونکی حمایت نه
کول دیره لویه نامردی ده چه پښتون ئی هیڅکله تحمله نش کولی.

ددی دوه دوله متضادو غوښتنو تاثیر د میر اکبرخان ځوی مړی
فکراو خیال لکه ماشوم لوباوه چه کله به ئی یو تصمیم ښه وگاڼه او کله
بل مگر وروستنی قطعی فیصله دا وه چه قاتل وبخښی او د ځوی په مرگ
صبر وکړی ځکه ئی نور مومندو ته وویل ښه ده چه تاماس خان پناه
راوړونکی د بل چا ځوی نه دی وژلی او زما د ځوی قاتل دی، دده بخښل
یواځی ځما کار دی که ده بل څوك وژلی وای اوس به ئی ماته ساتنه
گرانه وه او دده حمایت به ماته په دیر لوړ قیمت تمام شوی و.

تاسی واورئ چه ما تاماس خان ته عفوه وکړه تاسی اوس ده ته څه زیان نشی رسولی ځکه چه دی زما پوروړی دی او ماته ئی پناه راوړی ده، زه نه غواړم چه یو پښتنی قانون مات کړم او هغه څوك ووژنم چه زما کورته په دیر امید راغلی او خپل ځان ئی ماته سپارلی دی که زه دا کار وکړم یوازی زما نوم نه بدیږی د تولو مومندو نوم بدیږی، تاسو باید پدی راضی نشئ چه مونږ او تاسو په قومونو کښی په بدنامه یاد شو او هغه عادت پریږدو چه له پلرونو او نیکونو را پاته دی.

مومند پدی خبرو قانع شول او تاماس خان له خپل توپك سره صحیح او سالم خپل کور او کلی ته روان شو چه د مومندو بدرگه هم ورسره وه.

Pre-reading

Background

This story was published in *Kabul* magazine in 1958, when Ulfat was head of the Pashto Academy. It is a simple narrative about one Pashtun's conflict between *melma palәna* and *badal*, and how he dealt with it.

A Pashtun in a position to take *badal* has three viable options: he can take revenge immediately; he can postpone revenge; or he can publicly forgive his enemy. A Pashtun who has offered refuge and hospitality to a stranger has no viable options other than to protect his guest.

Key vocabulary

trustworthy *adj 4.* [bāwarí] باوری

forgive *smp. tr. vb.* [bakhsh-́] بخښ-

cover, refuge *phr.* [panā́] پناه

debtor*n, M3.* [porawә́ṛay] پوروړی

alone *phr.* [pә·yawә́ sar] په یوه سر

taunt *n, M2.* [peghór] پیغور

bear *phr.* [tahamúl kaw-] تحمل کو-

accept *phr.* [rāzi kég-] راضی کیږ

surrender *smp. tr. vb.* [spār-́] سپار-

fight *n, F1.* [shkhә́ṛa] شخړه

win *der. int .vb.* [ghālibég-] غالبیږ-

grief *n, M2.* [gham] غم

assassin *n, M1.* [qātә́l] قاتل

be convinced *phr.* [qāne kég-] قانع کیږ-

slit *smp. irreg. tr. vb.* ښکل- [kāg] کاږ

difficult, expensive *adj 1.* [grān] گران

contradictory *adj 1.* [mutazā́d] متضاد

block the way *phr.* [mәkha niw-́] مخه نیو-

fear *n, F1.* [wéra] وېره

Scanning hints

1. This story is a straightforward narrative, with occasional breaks to explain various Pashtun behaviors and values. The main characters are Tamas Khan, an Afridi, and Banaris Khan and Mir Akbar Khan, Momands.

2. Commas are frequently used in place of periods. زوی is consistently spelled as ځوی .

3. Synonyms:

صحیح and سالم   فکر and خیال   خونی and قاتل

4. The course of action in the story frequently hangs on the meaning of a conjunction or conjunctive phrase. Review:

however	مگر	since	ځکه چه
then	نو	for this reason, therefore, so	ځکه
since, because	هر کله چه	if, even if	که
although	که څه هم		

Post-reading

١. د تاماس خان اپریدی توپك څنگه توپك ؤ؟

٢. د تاماس خان اپریدی مخه چا ونیوله ؟

٢. پښتون ولې خپله وسله چا ته نه تسلیموی؟

٤. د تاماس خان گولۍ د بنارس خان په کوم ځای ونښته؟

٥. که حتی یو قاتل او خونی د یوه پښتانه کره پناه وروړی، د کور
خاوند څه ورسره کوی؟

٦. تاماس خان د چا د پلار په کاله ورننووت؟

٧. د بنارس خان پلار له تاماس خان سره څه وکړل؟

٨. تاماس خان صحیح او سالم چیرته ولاړ؟

Notes for Detailed Rereading

1. The story is set in the border region between Afghanistan and Pakistan, and travel there has always been dangerous. The implication is that Tamas Khan was unconcerned because he had great faith in his rifle and his ability. Rifles vary greatly in both beauty and function, the lesser of them with a tendency to jam and not eject used cartridges; Tamas Khan's rifle was apparently a good one.

2. د سر په سودا is literally 'with the price of (one's) head'. A close English idiom is something like 'give one's right arm for' or 'give an eyetooth for'.

3. کلی او ودانی is a phrase, literally 'village and farm', which refers to a village and the area around it, i.e. places where you're likely to run into someone.

4. غږ ئی پری وکړ = something like 'his voice rang out'. توپك همدغلته كيږده او خه is a direct quote.

5. پناه وروړ- is the formal request for sanctuary that no Pashtun can refuse.

6. له سر او ماله: the people giving refuge must protect their guest with their manpower and their property, i.e. they must go to any length to protect him, even if he is an evil man.

7. سپار- is to put something or someone under someone's surveillance and safekeeping.

8. خلق له توپكو سره هلته را ورسيدل i.e. the men who were chasing Tamas Khān.

9. ستا د زوی قاتل ... is a direct quote.

10. To do something په لوی لاس, or literally "with big hand", is to do it intentionally or resolutely.

11. اجل is 'death. An اجل نیولی is someone whose fate has decreed that it is his moment to die. A parallel English idiom is 'one whose time has come'.

12. The phrase زوی مری is parallel to our 'orphan', 'widow' or 'widower', and can be extended with other relatives. مری also has the feminine form مرې.

13. The phrase عجیب او غریب translates best as something like 'heart-rending' or 'agonizing'. Literally, both words mean something like 'strange', and غریب also means 'poor'.

14. زړه یخ کو- is literally to make one's heart cold, i.e. to satisfy oneself. In this case, the satisfaction would come with the killing.

15. د ... مخی ته درېږ- : to stop in someone's face is to come to someone's mind.

16. ښه ده چه تاماس خان پناه راوړونکی د بل چا ځوی نه دی وژلی او
زما دځوی قاتل دی، دده بخښل یواځی ځما کار دی که ده بل ځوك
وژلی وای اوس به ئی ماته ساتنه گرانه وه او دده حمایت به ماته په ډیر
لوړ قیمت تمام شوی و.
is a direct quote. The price that Mir Akbar Khān is referring to is the grief that some other son's family would heap on him for having protected Tamas Khan.

17. بدرگه is always singular, but the بدرگه can consist of more than one. A بدرگه guarantees safe passage. The term also means 'chaperone'.

لندۍ:

په گودر څه ټکل لوېدلې
چې کشره خور یې بدرگه ور سره ځی

watering-place, trysting place *n, M irreg..* [gudár] گودر
thunder, catastrophe *n, M2.* [ṭakál] ټکل
little sister *phr.* کشره خور

Selection B

قادر خان ختمگر

- محمد روحاني وردگ

زموږ د تاریخ ښوونکی له کلي څخه راغلی و، سهار تر څاښته به په ښوونځي کښې و او بیا به یې په بایسکل پښه واړوله او مخ په کور به روان شو کور یې د «کابل د علي آباد» روغتون تر شا دغره په ډډې و او په میاشت کښې یې پنځه سوه افغانۍ کرایه ورکوله، د کور خاوند ژمنه ورسره کړې وه، چې که یې د دوو کوټو تر څنگ یوه بله کوټه چې تاداو یې پخوا ایښودل شوی و، ودانه کړي، نو له کرایې څخه به ورته سل روپۍ کمې کړي. نو له دې کبله به یې بایسکل په چټکۍ سره څغلاوه، چې کوټه ژر ودانه کړي. چې هم یې کور پراخ شي او هم یې کرایه کمه شي، سهار وختي له لمانځه وروسته به هم د کوټې په ودانولو بوخت و او د اوو بجو په شا او خوا کښې د «فوتی اعلانونو» له اوریدو څخه وروسته به مخ په ښوونځي را روان شو.

ټولگي ته به چې را ننووت، تر هر څه د مخه به یې له خپلې «قره قلی» خولۍ څخه دوړې وڅنډلې او د لاسونو له ویښتو څخه به یې وچې ختې وتوږلې، د لومړي کتار په یوه میز به کښیناست، په ستړي غږ به یې پوښتنه وکړه «ښه زموږ لوست چیری ؤ؟» دوو- درو زده کوونکو به په گډو وډو غږونو د پخواني ساعت د لوست وروستنۍ خبرې ور په زړه کړې ...... او ده به خبرو ته ادامه ورکړه. یو- دوو زده کوونکو به یې په خبرو کښې ور ودنگل او و به یې ویل: ...... بیا هم دا زموږ د کتاب موضوع نه ده...... صیب ! خو ده به خپلو خبرو ته دوام ورکړ، لکه هیڅ یې چې نه وي اوریدلي.

وروسته - وروسته زده کوونکي وپوهیدل، چې زموږ ښوونکی نه یواځې ښوونه کوي، ختې هم کوي، نو ورو ورو یې نوم د زده کوونکو تر منځ قادرخان ختمگر شو، له دې چې قادرخان ختمگر ډیر وخت د کوټې په ودانولو بوخت و؛ نو ښوونځي ته به بې «مطالعې» او بې

BEST COPY AVAILABLE

«تیاري» راغی، زیاتره وخت به د زده کوونکو پوښتنو ته عاجز پاتې شو او په مسکا- مسکا به یې ویل: «په کتاب کښې یې ولولئ.» د قادر خان ختمگر او زده کوونکیو تر منځ یو خاص کړکیچ منځ ته راغی او په دوو درو اوونیو کښې قادرخان ختمگر ته چا په ټولگی کښې پام نه ساته او ان دا چې له قادرخان ختمگر سره ملنډې هم پیل شوې، ځینو به یې خولۍ د میز له سره واخسته، چې په خندا خندا یې ورته پاکه کړي او ځینو به یې د کرتۍ له جیب څخه چې دوره په میخ به ځوړنده وه وچه ډوډۍ را وایسته او یو له بله به یې وویشله، نوم یې له قادر خان ختمگر څخه په «قادرختمگر، ختمگر» واړول شو او څه موده ورروسته بیخی ختمی» شو.

«ختمی» ډیر ښه پوهیده چې دا کړکیچ ولې منځته راغلی، اوس دی هغه پخوانی «قادرخان» نه و؛ خو دی په دې قانع و، چې کمبښت دده له خوا دی، ځانته به یې ډاډ گیرنه ورکوله، چې د کوټې ودانول به پای ته ورسیږی او دده ځوان زوی «قسیم» به چې لا تراوسه په کلي کښې و راشي او ځانگړې خونه به ولری......

کلني امتحان ته لا څلور میاشتې پاتې وې، چې د ښوونځي سرښوونکی «ختمی» خپل د فتر ته چې راز راز شعارونه په کښې ځوړند وو، وغوښت او د نالایقۍ او بې کفایتۍ په نامه یې ځواب ورکړ! او دا هغه وخت و چې د خونې ودانول هم نژدې پای ته رسیدلي وو.

ختمي هیله نه درلوده، چې په خپله دنده پاتې شي، ان په دې سوچ نه و، چې د کور لگښت او کرایه به له کومه کیږي ... پر بایسکل سپور شو او ځوان زوی ته یې کړې ژمنه ور په یاد شوه.

«ختمي» د علی آباد روغتون تر شا د غره لمنې ته را ورسید او له بایسکل څخه کوز شو، په ستړیا سره یې گامونه مخ په کور ایښودل، ختمي لا کورته نه'و رسیدلی، چې کوچنۍ لور یې «میمونه» په منډو منډو مخی ته ورغله او ویې ویل: «پلاره ! پلاره، مور مې خبره شوه، چې زموږ پر کلي بمباري شوې.... هغه ژاړي ختمي په وارخطایۍ سره کورته را ورسید، مخ یې شین و او د تندي گونځې یې لا ژورې ښکاریدې، ښځې په چیغو چیغو او ژړا ژړا دده د ځوان زوی د شهادت خبر ورکړ.

دی په داسی حال کښې چې رېږدیده او لا بې وسه ښکاریده «ودانۍ» خونې ته ننووت او د زړه له کومې یې ژړل.

اوس «ختې» او کورنۍ یې سرحدي سیمو ته نژدې په یوه کمپ کښې اوسېږي، د شهید زوی د عکس قاب یې په یوه وسپنیز صندوق کښې ایښی او د مهاجرو په یوه خاورین ښوونځي کښی ښوونکی دی. دی بیا تاریخ لولي او زده کوونکو ته په مینه مینه ښوونه کوي... او په دې خوښ دی چې په کابل کښې یې د «تاریخ ماتریالیزم» د زده کړې اوښوونې په ځای ختې کولې او په ټولګی کښې یې د زده کوونکو پام دخپلې کرتۍ او «قره قلۍ» خولۍ دورو او ختو ته اړولی و.

Pre-reading

Background

This story appeared in the July-August, 1991 issue of *Spedey* ("Dawn") a bi-monthly literary journal in Pashto and Dari published in Peshawar by Pesarlay, a famous Pashtun poet and writer from Kunduz. *Spedey* is a literary journal - it's a good source for modern short stories - and as such is not particularly political in nature. Its writings reflect, however, generally anti-communist, pro-independence point of view of the intellectual Afghan community.

This story takes place during the communist regime in Afghanistan, and assumes
1) that the reader is familiar with Kabul,
2) that the hill behind Ali Abād Hospital is a poor area, and
3) that history teachers in the city (which was, of course, under the control of the communist government) were obliged to teach "historical materialism", i.e. the communist brand of history.

Key vocabulary

promise	*n, F1.*	[zhmə́na]	ژمنه
fatigue	*n, F3.*	[stəṛyā́]	ستړيا
thought	*n, M2.*	[such]	سوچ
slogan	*n, M2.*	[sheʔár]	شعار
instruction	*n, F1.*	[xowə́na]	ښوونه
helpless	*adj 1.*	[ʔājə́z]	عاجز
Karakol	*phr.*	[qara qolə́y]	قره قلی
tension,	*n, M2.*	[kaṛ kéch]	کړکېچ
refugee camp	*n, M2.*	[kamp]	کمپ
shortcoming	*n, M2.*	[kamə́xt]	کمښت
expense	*n, M2,*	[lagə́xt]	لگښت
reading, study	*n, M2.*	[lwəst]	لوست
because	*phr.*	[lə dé che]	له دې چې
smile	*n, F3.*	[məskā́]	مسکا
making fun	*n, F1.*	[malánḍe]	ملنډې
peg, nail	*n, M2.*	[meykh]	مېخ
incompetence	*n, F2.*	[nālāyaqə́y]	نالايقۍ
build	*der. tr. vb.*	[wadānaw-́]	ودانو
even	*phr.*	[an dā́ che]	ان دا چې
be bombed	*phr.*	[bambārī́ keg-]	بمباري کېږ-
unprepared	*phr.*	[be tayārī́]	بې تياري
inefficiency	*n, F2.*	[be kefāyatə́y]	بې کفايتۍ
helpless	*adj 4.*	[be wasa]	بې وسه
give attention	*phr.*	[pā́m sāt-́]	پام سات-
remind	*phr.*	[pə zṛə́ kaw-́]	په زړه کو-
wide	*adj 1.*	[parākh]	پراخ
base	*n, M2.*	[tādā́w]	تاداو
hurry	*n, F2.*	[chatakī́]	چټکۍ
of mud	*adj 4.*	[khā́wrī́n]	خاورين
mason	*n, M1.*	[khaṭgár]	خټگر
mud	*n, F1. Usu. pl.*	[kháṭa]	خټه
operate	*smp. tr. vb.*	[dzghəlaw-́]	څغلو-
fire	*phr.*	[dzawāb warkaw-]	ځواب ورکو-
job, duty	*n, F1.*	[dánda]	دنده
dust	*n, F1.*	[dúṛa]	دوړه
study	*n, F1.*	[zdá kṛa]	زده کړه

Scanning hints

1. The story is a straightforward narrative, from the point of view of one of the students of the main character, Qadər Khān. The action takes place in Kabul, but shifts in locale in the last paragraph.

2. The author uses quotation marks to set off names and nicknames.

Post-reading

۱. د قادرخان کور چېرته ؤ؟

۲. قادر خان به چه ټولگی ته ننووت تر هر څه دمخه به يې څه کول؟

۳. د قادرخان نوم ولې قادرخان خټگر شو؟

٤. کلنی امتحان ته څومره وخت پاتې ؤ چه د ښوونځی سر ښوونکی «خټې» خپل دفتر ته وغوښته؟

٥. د «خټې» لور څه نومېده؟

٦. خټې چه ریږدیده او خونې ته ننووت څه يې وکړل؟

۷. «خټې» د خپل شهید زوی د عکس قاب چېرته ایښی دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. پښه اړول is literally 'throw one's leg over (a horse or bicycle)', i.e. to mount or get on.

2. The Afghan unit of currency's offical name is *afghanay,* but it was earlier also called a rupee. The two terms have been used side by side, but the latter is dying out.

3. فوتی اعلان , 'death notices' was a program on Kabul Radio which came on at 7 every morning.

4. په گډوډ غږونو is literally 'with mixed voices'. All the students spoke up at once.

5. په خبرو کښې ور ودنگل is literally 'ran into his speech'. They interrupted him.

6. خټې کو- , literally 'do mud', has been extended in modern times to include masonry (with fired bricks) and plastering. Originally, the term referred to the forming of walls with mud. The soil around Kabul is clayey, and it is possible to form rough bricks from mud. To construct a wall, a layer of mud or a row of mud bricks is laid, then left to dry for a day. Another layer or row is laid on top of the first, and so on until the wall is the desired height. خټې کول is very dirty work.

7. The teacher's name is Qadər Khan. Students would ordinarily address him and refer to him by that name.

8. دده خوان زوی «قسیم»: is the real reason for Qadər Khān's anxiety to finish the room. From subsequent mention of the son it becomes clear that Qadər Khān had promised that the son could come to the city when the room was finished.

9. د شهید زوی د عکس قاب یې په یوه وسپنیز صندوق کښې ایښی : The picture of the dead son in its frame has been put into a metal trunk for safekeeping.

10. The phrase خاورین ښوونځي indicates that the school is very poor, with undoubtedly limited curricula and resources.

11. The last sentence of the story refocuses the attention of the reader, and must be completely understood if the force of the story is to come through. Here it is, with "standard" punctuation:

او په دې خوښ دی چې په کابل کښې یې د «تاریخی ماتریالیزم»
د زده کړې او ښونې په ځای، ختې کولې او په ټولگی کښې یې د
زده کوونکو پام د خپلې کرتۍ او «قره قلۍ» خولۍ دوړو او ختو
ته اړولی و.

Selection C

آدم درخاني

- مونشي احمدجان

درخانۍ په صوات کښ د برى بازدري د يو طاوس خان نوم پښتون لور وه چه خداي ډير لوي ښايست ورکړي وه. او د پاياؤ خان نوم يو پښتون هلك چنغله وه. يوه ورځ د درخاني د ترور د لور واده وه. په هغي کښ ي د کوزي بازدري يو آدم خان نوم خانزاده باند سترگی خوږي شوي. تپ له دواړه لاسه خيژي. هغه هم پر باند زړه بايلود. دي اور داسي لنبه وکړه چه د واده خلاصيدو او د ميلمنو د رخصتيدو نه پس دواړو په لاره کښ هرو مرو يو بل ته په غلا غلا وکتل. ماسخوتن په حجره کښ چه آدم خان يوه گته رباب ووهلو نو يو سوړ اسويلي ي وکړ. او ميرو بلو خپلو خوږو يارانو ته ي د زړه حال ووې. د هغه دا مراد وه چه په دي شپه د اشنا ديدن ته لاړي. پردو کورونو ته تلل د خالصي دل نه وو. ولي ميرو بلو هم ورته حلال کړي چرگان وو. سمدستي ي ملا وتړله او شپه په شپه بري بازدري ته لاړل. بلو ي چرته د څوکي دپاره ودرولو او دوي دواړه د درخاني کورته ورغلل. ميرو ورته وړنبي رو گودر صحيح کړي وه. آدم خان د اشنا کټ ته ورسيد. درخو تار په تارپه پالنگ اوده پرته وه. څنگزني سپوږمي او يو نيم ستوري ي په غلا غلا ديدن کولو. ده يو ساعت په غتو سترگو ورته وکتل. چه ښه زور زير ئ وويست نو روغوندي ي د ښپي گته تر نه ونيوه او ويښه ي کړه. چه درخو سترگي وغړولي نو هغه بشره ورته ولاړه وه چه د چا په خيال کښ اوده شوي وه. حيرانه شوه چه دا خوب دي که ويښه. څو ځله ي سترگي ومښلي او بياي وغړولي چه ښه ييقين ي راغي نو پاڅيده. او ورترغاړه وته. غوږ کښ ي ورته ډير ډير هرکلي ورکړ. او بيا ي د خپلي ميني دفتر ورته پرانست. په خلقو لويه شپه تيره شوه او په دوى د سترگي رپ وه. ميرو شپيلي ووه مطلب ي دا وه چه چرگانو بانگونه وو. ملايانو اخ توخ جوړ کړ هسيي نه چه شرمينگي جوړه شي او داوښ

په شا مو سپي ؤ نه خوري. آدم درخاني د اوښکو ډکي سترگي يو بل نه جدا شول.

دي نه پس د آدم خان د عمر مزه ورکه شوه. او رو رو داسي له برمه پريوت چه کټ ئ ونيو. په درخاني هم خپلي ميني زور وکړ. چه صبر ئ خلاص شه نو يو څل د استاد په خوله او يو څل د دائي په خوله څه نښي نښاني او سوال جواب ئ وليږه راوليږه. پس له دي پاياؤ هم زر تر زره واده جوړ کړ او د درخاني ډولی ي راوړه.

آدم خان ډيري ايري په سر واچولي او ډيري خاوري ي ونوستي. آخری ئځان بي شرم کړ او خپل پلار حسن خان ته ئ غټ پريکړي وو چه که څما ژوند د پکار وي نو دابي له درخو گران دي. حسن خان ته دا خبره د پښتو په مذهب کښ ناروا ښکاره شوه خو د زوی ميني هر څه ته تيار کړ. «هندو د يار دپاره د غوا غوښې خوړلي دي» په خپلو عزيزانو کښ ي يو ميرمامي نوم پښتون وه چه په پيسه او متو کښ ډير تکړه وه هغه ته ي پټکي په ښپو کښ وغورزوه وي و چه په خداي به شی په تا به شي د درخاني د راوستو څه بند راته وتړه. هغه ورسره په بره باز دره لښکر وکړ او مراد ته ورسيد درخاني ي په زور راوسته.

آدم خان درخاني ميرمامي کره کښينوله د زړه غوندي ي په ځای کړ. ولی پاياؤ هم آخر پښتون وه قام ورپسي وه. خو وائي «چه په گوره مري نو په زهرو ي څه له وژني» مير مامي ته ي ډير ي روپي ومنلي او هغه دا بي ننگي وکړه. چه درخو ي پاياؤ ته لاس نيولي ورکړه.

يوه ورځ د ميرمائي زوي گوجر خان ته آدم خان څه گله گوڅه وکړه. هغه بوتکي څه چل وکړ چه ټول قام ي د پلار نه په دي بيغيرتي واړولو او بيا ي د آدم خان دپاره په بره بازدره لښکر وکړ خو پاياؤ هم څه د هاتي په غوږ کښ اوده نه وه. ورته رامخکښ شه_ او د دواړو قامونو يوه ټوټه جنگ ښه وشه. خو گوجر خان ماتي وکړه څلويښت کس سړي ي مړه شول. بلو هم په کښ سر ورکړ. آدم خان باند يو غم نه دوه شول.

ځو ورځي پس د هندوستان پاړوگان چرته د آدم خان په حجره را پیښ شول. چه د آدم خان ي داسي بد حال ولید نو تپوس ي وکړ. میرو ورته قصه تیره کړه هغو د دیدن ذمه ووهله. «ړوند د خداي نه څه غواړي دوه سترگي» آدم خان او میرو د جوگي جامي واغوستي، سرونه ي ببر کړل او کنراوي ي په ښپو کړي د پاړوگانو بالکیان شول. تلل تلل په برباز دره ورغلل. د پایاؤ په ډیو ډي کښ ي پیټارونه کوز کړل. د مارانو تماشه ي جوړه کړه. د بین په اواز ډیر هلکان جنکي او نر ښځي پر راغونډ شول. پایاؤ هم ورته راووت. درخو هم تنبي نیمکښو کړي اشناسره ئ د سترگو هرکلي وکړ «چا ماران کتل او چا یاران»

پاړوگانو پایاؤ نه پنداره واخسته او کور سره یو باغ کښ ي دیره ونیوه. هر چرته به گرزیدل خو دلته به راتلل. درخو به هم وخت بیوخت باغ پلو مخ ښکاره کولو. ځو ورځي پس پایاؤ پر بد گمان شه او دوي ئ له باغ نه وشړل. دا اسره هم ښوره شوه.

لږي ورځي پس آدم خان یخني ووهلو او تبه بریښ ئ ملگري شول. په دارو درملو څه ښیگړه ونه شوه. او آخري له دنیا نه سفر وکړ.

چه د آدم خان د مرگ خبر وگرزید او درخو پر خبره شوه نو سمدستي په زمکه راپریوته سترگي ئ حق ته ونیولي. خپل پردي پر راټول شول لاس ښپي ي ورته ومښل. سپیلني ئ ورته لگي کړل نظرونه مات شول. لنډه دا چه دم، دعا، بند تعویذ هر څه خلاس شول خو درخاني وه چه ساه په کښ ؤ نه غړیده. یخه تخته شوه او تخته پاتي شوه. چا هوښیار بنده چه وکته نو روح ي پخوا الوتي وه.

دا خبره هم مشهوره ده چه دوی دواړه په مړوني قبر کښ یو ځاي شوي دي. خو دا راته هسي د یارانو گپ ښکاري چه خلق ئ د خپل زړه خوشحالولو دپاره وائي.

دا هم خلق وائي چه د آدم خان د قبر ډکي نه چه څوک شهباز جوړ کړي نو رباب ي زر زده کیږي. والله اعلم.

BEST COPY AVAILABLE

Pre-reading

Background

This story is one of the famous Pashtun romances mentioned in the introduction, retold by Munshi Ahmad Jan as part of his instruction in Pashto for British officers stationed in the last century in the Northwest Frontier Province of Pakistan. Almost nothing is known of Ahmad Jan except that he was one of the teachers of the British troops who wanted to learn Pashto, and that he was a superb story-teller. He collected and rewrote the more famous romances and tales in the area (some are originally Persian, some Pashto, and some Indian), and also apparently wrote some stories, for the purpose of providing his students with something to read. (As we mentioned in the unit introduction, an abridged version of one of his original stories is given in Unit 25, *Intermediate Pashto.*)

It is evident from the texts that Ahmad Jan made an effort to include as many Pashtun proverbs and songs as the text would allow, and that he successfully made an effort to capture natural, spoken Pashto in print.

The stories of Munshi Ahmad Jan constitute some of the finest written examples of Pashto folklore and the Pashtun style of story-telling, and are well worth reading. They are collected in at least two volumes: د قصه خوانی گپ and هغه دغه have been published in Peshawar, and are readily available.

Key vocabulary

bag of tricks	*n, M2.*	[peṭār]	پېټار
board	*n, F1.*	[takhtá]	تخته
strong	*adj 4.*	[takṛá]	تکړه
performance	*n, F1.*	[tamāshá]	تماشه
trick	*n, M2.*	[chal]	چل
fiancee	*n, F1.*	[chenghála]	چنغله
son of a khan.	*n, M4.*	[khānzādá]	خانزاده
midwife	*n, F4 .*	[dāyí]	دائی
be stationed	*phr.*	[derá niw-́]	ديره نيو-
cart for bride	*n,F2.*	[ḍoláy]	ډولۍ
guarantee	*phr.*	[zәmá wah-́]	ذمه وه-
blink	*n, M2.*	[rap]	رپ
sigh	*n, M3.*	[asweyláy]	اسويلی
ash	*n, F1.*	[irá]	ايره
cockcrow	*n, M2.*	[bāng]	بانگ
power	*n, M2.*	[bram]	برم
face	*n, F1.*	[bashrá]	بشره
arrange	*phr.*	[band ...taṛ-́]	بند ... تړ-
devil	*n, M31*	[butakay]	بوتکی
flute	*n, M2.*	[bin]	بين
snake charmer	*n, M1.*	[pāṛú]	پاړو
bed	*n, M2.*	[pāláng]	پالنگ
unfamiliar	*adj. 2.*	[pradáy]	پردی
stealthily	*phr.*	[pә ghlā́ ghlā]	په غلا غلا

be defeated	*phr.*	[māte kaw-́]	ماتي كو-
ethic, religion	*n, M2.*	[mazháb]	مذهب
taste	*n, F1.*	[mazá]	مزه
illegitimate	*adj 4.*	[nārawā́]	ناروا
signal	*phr.*	[nə́xa nəxāna]	نښه نښانه
throw	*smp. tr. vb.*	[nust-]	نوست-
be lost	*der. tr. vb.*	[wrəkeg-]	ورکېږ-
beforehand	*phr.*	[wṛunbáy]	وړنبی
awake	*adj. 1.*	[wīx]	ويښ
welcoming	*n, M3.*	[harkəláy]	هرکلی
catch cold	*phr.*	[yakhni wah-́]	يخني وهـ -
certainty	*n, M2.*	[yaqín]	يقين
be freed	*der int vb.*	[rukhsatég-]	رخصتيږ-
passage	*n, M2.*	[raw gudár]	رو گودر
soon	*phr.*	[zə́r tər zə́ra]	زر تر زره
soul	*n, F3.*	[sā]	ساه
that night	*phr.*	[shpá pə shpa]	شپه په شپه
whistle	*phr.*	[shpelay wah-́]	شپيلی وه-
good, use	*n, F1.*	[xegə́ṛa]	ښيگړه
frankly	*phr.*	[ghwət prekə́ray]	غټ پر يکړی
grief	*n, M2.*	[gham]	غم
intention, desire	*n, M3.*	[ghunḍáy]	غوندي
reproach		[gila gutsa kaw-́]	گيله گوڅه كو-
make smoke	*phr.*	[lugay kaw-́]	لوگی كو-

Scanning hints

1. This is a romance, a story of unrequited love reminiscent of *Romeo and Juliet* or *Werther*. The story takes place in Kuza Bazdara and Bara Bazdara, in Swat. The story is a straightforward narration of events, unlike other versions which include songs and other diversions characteristic of stories told orally. As might be expected, the vocabulary is often from Pakistani Pashto, and many of the words and phrases are not used extensively today (remember that Ahmad Jan was writing in the last century).

2. We have modernized only one spelling no longer in use, the spelling of the particle ږ, which Ahmad Jan spelled as ږه. In our copy of the story, [dz] is spelled with ځ or څ i.e.
[wradz] ورځ [khedz] خيڅي [dzal] ځل [dzān] ځان [dzāy] ځاي

3. Characters in the story:

The heroine	[durkhānáy/durkhó] درخانی / درخو
Her father	[tāwús khān] طاوس خان
Her fiance, then husband	[pāyā́w khān] پاياو خان
The hero	[adám khān] آدم خان
His close friends	[miráy] ميری and [baló] بلو

His father	[hasān khān]	حسن خان
Tribesman of Hasan Khān	[mirmamáy/mirmáy]	میرمامی/ میرمی
Mirmamay's son	[gujár khān]	گوجر خان

Post-reading

۱. درخانۍ د چا لور وه او چا زړه پرې بایلوده؟

۲. میرو او بلو څوک وو؟

۳. درخانۍ دخپلې مینې دفتر چا ته پرانست؟

٤. د آدم خان پلار څوک ؤ او له میرمامی نومی پښتون نه یې څه وغوښتل؟

٥. آدم خان درخانۍ د چا کره کښېنوله؟

٦. د گوجر خان لښکر له چا سره جنگ وکړ او چا ماتی وکړه؟

۷. چا ماران کتل او چا یاران؟

۸. آدم خان ولی مړ شو او درخانۍ ولې مړه شوه؟

Notes for Detailed Rereading

1. باند سترگی خوږې شوي: If someone's eyes become sweet on you, he/she likes you.

2. تك له دواړه لاسه خيږي.: 'It takes two hands to clap', i.e. the feeling was mutual.

3. The حجره is Adam Khān's father's guest house. Everyone clearly lived close enough to one another for the guests to have gotten home by that evening.

4. گته رباب وهل is to play the rabob for a little while.

5. ورته حلال کړي چرګان وو : To be a slaughtered chicken to someone is to be at his beck and call.

6. د خالصي دل کېږي- is a proverb roughly parallel to English's '...be a piece of cake.' Khalasa is a place in Pakistan where it is apparently easy to make *dal,* a kind of cooked mush of split wheat or corn kernels.

7. ملا تړل : to tie up one's waist is to arm oneself, or to get ready or prepare for something.

8. تار په تار means 'stretched out' or 'sprawled' in this context; ordinarily it means 'separated', or 'thread by thread' which is the literal translation. This phrase is a very strong description of Durkhanəy's beauty.

9. ويده = اوده

10. The phrase زور زير refers to two of the symbols indicating vowels in texts used to teach children to read the Koran (*tashkil* in Arabic). Here, it indicates that Adam Khān examined Durkhanəy very thoroughly.

11. د خپلي ميني دفتر ورته پرانست: In other words, Durkhanəy told him all about her love for him.

12. اخ توخ جوړول is to clear one's throat, or to make clearing-throat sorts of noises.

13. د اوښ په شا مو سپي و نه خوری is a phrase, literally 'not get bitten by a dog while riding on a camel'. The whole sentence refers to Miray's warning them that they were about to cause an uproar - to embarrass themselves or to bring everyone's attention to the fact that something strange - like getting bitten by a dog when you're high up on a camel - was going on. Durkhanəy's bed was undoubtedly close enough to the rest of her family that she and Adam Khān had to be very careful.

14. ځواب = جواب

15. خان بي شرم کړ: It is not fitting for a son to talk about his romantic interests to his father. Adām Khān was quite desperate.

16. «هندو د يار دپاره د غوا غوښی خوړلي دي» Ahmad Jan threw in this proverb, which translates straightforwardly.

17. هغه ته پتکي په ښپو کښ وغورزوه: A parallel English idiom is to go to someone hat in hand.

18. «چه په گوره مري نو په زهرو ي څه له وژني»: You can catch more flies with honey than with vinegar.

19. د هاتي په غوږ کښ اوده نه وه : to be asleep in the ear of an elephant is to be caught napping.

20. قصه تيرول = tell a story

21. «ړوند د خداي نه څه غواړي دوې سترگي» is a proverb referring to the fact that Adam Khān was dying to see Durkhanay.

22. جوگي: Jugis are, in English, Yogas.

23. «چا ماران کتل چا ياران»: Some were watching the snakes, and some were watching the lovers. This is a proverb, but not one in wide use today.

24. ديره نيول is to become stationed, or to set up shop. The magicians and their apprentices set up camp in the orchard, and used it as their headquarters. They would go around the area giving shows, and return at night to the orchard.

25. تبه بريښ ملگري کېدل : i.e. Adam Khān's cold turned into pneumonia.

26. خپل پردی: friends and strangers

27. A شباز is a pick like those used by guitar players. Adām Khān played the rabob very well.

Selection D

قبر

- میر مهدی شا مهدی

نن چه کوم وخت ماته چا وویل چه لېوني پذیر مړ شو، نو د انالله و
انا لیه راجعون نه [وروسته] مې ناڅاپي د خولې نه اوختل چه «قبر کښې
ښخ کړې شو؟» دا تپوس مې ځکه اوکړو چه هغه به د قبر نه ډېر زیات
ویرېدو، هغه چه به د قبر نامه واورېده نو داسې به پاره شو لکه ګیدړ
چه د سپي په بوی پوه شي، هغه به همیشه مزل په منډه کولو او که ...
چا به ورته اوویل چه پذیر کاکا! په ادیره ورغلې نو هم داسې به په بل
مخ پاره شو...
هغه په لېوني پذیر مشهور وو...
د هغه به دا عادت وو چه کوم وخت به ئې منډه کړه نو په چغه به ئې ویل
«هغه دی قبر- را وې نیسئ» او د سترګو په رپ کښې به د خلقو د
نظر نه غیب شو، هغه ته به که چا د قبر او ادیرې نامه وانخسته نو که
هغه به په ادیره کښې روان وو نو هم به په ځان نه پوهېدو خو چه کوم
وخت به ورته چا اوویل چه لېونیه! قبر دې نو بس بیا به ئې اچولی وو-
لېوني پذیر که هر څومره د نابلده کسانو په نظر کښې یوه نخره
وه ولې بیا هم چه هغه چاته معلوم و نو د هغوی ورسره ډېره زیاته
مینه وه...

خدای شته چه ځما په نظر کښې خو ډېر زیات مظلوم وو، ځما ډېر
زیات خوښ وو، ځما زړه که به ډېر غوښتل چه زه دې ورسره خبرې
اترې اوکړم او یو ځل دې دده د خولې نه هم دغه نه هېرېدونکې قیصه
واورم، خو ځما دغه ارمان تر مرګه پوره نه شو، او همیشه چه چرته به د
هغه نامه چا مجلس کښې واخسته او یا به ماله مخې له راغلو نو ځما په
ذهن کښې به هغه ټوله واقعه تېره شوه او د واقعې د تېرېدو سره سم
به ځما زړه نور هم درد اوکړو...
نن هم د هغه د نامې د اورېدو سره سم ځما په ذهن کښې د نن نه

اوويشت كاله اگاهو هغه درد ناكه واقعه رايادهٔ شوه كومه چه به همېشه ژوندۍ وی، همېشه د قبرونو څلی ورانيږی او اواريږی خو دغه قبر هيچری ورانېدې او اوارېدې نه شی، لېونې پذير به نن په قبر كښې ښخ شوې وی، هغه ته كه قبر هر څومره بو بلا ښكارېدو او هغه تر نه مندې وهلې، خو د عمر اخری منزل قبر دې، او هغه خپل منزل ته اورسېدو، ولې د هغه د ژوند هغه وخت هيڅوك نه شی هېرولې چه هغه د كلی يو سفېد پوش سړې وه، [د] هغه په خپلو عزيزانو، تربورانو كښې ښه كارِ جوړ وه، او دا ځكه چه د هغه ډېر كم خرڅ وه، په كور كښې يو هغه او يوه ئې لور وه۔

د هغه ښځه د واده په نهم كال مړه شوې وه، هغه لا ځوان ؤه خو هغه بله ښځه نه كوله، هغه به همېشه ويل چه بله ښځه زه ځكه نه كوم چه بيا به مې دا لور وهی، او دا لور په ما باندې د هر څه نه زياته خوږه ده۔

د هغه كه هر څومره خپلې لور سره مينه وه خو د هغه متعلق خلقو داسې مشهوره كړې وه چه پذير ډېر شوم دې او د شومتيا د وجهې نه بل واده نه كوی او د ځنې كسانو دا خيال وو چه پذير له هسې هم څوك لور خور نه وركوی ... ځكه چه هغه ډېر بدرنگ وو. هر څه چه وو خو حقيقت دا ؤ چه د هغه خپلې لور سره ډېره زياته مينه وه.

د خداې قدرتونه وو چه څومره پذير كاكا بدرنگ وو نو هغومره ئې لور ښائسته وه، هغه اوس ښه مكمله پېغله وه، د هغې د حسن خبرې هر ځاى مشهورې وې، ولې تقريباً د شلو پنځوويشتو ورځو نه پرې د پلار څه شك پېدا شوې ؤ ځكه چه هغه څو كرت د شپې د بدرو كټ خوشې ليدلې ؤ او هم ددغومره مودې نه به مسلسل د څلاستو په وخت كښې د هغې سرته تك تور څادر پروت ؤ.

په دغه شپه خو ئې مكمل يقين راغلو ځكه چه د څو ورځو نه دا خبره مشهوره شوه چه د شپې شومه دم شی نو د دغه كلی نه د ميان رېحان بابا اديری ته يوه ښځه په تور څادر كښې ځی، او د ميان رېحان بابا منجور خو بيا تر دې حده پورې ددغې واقعې تصديق اوكړو چه كوم وخت شومه دم شی نو ددغه كلی يوه جينۍ په تك تور څادر كښې راشی او د ميان رېحان با با نه اخوا د يو قبر خوا كښې د زقوم بوټو ته لاړه

BEST COPY AVAILABLE

شی او چه لږه شېبه تېره شی نو ددغه ځایه یو ځلمې غوندې سړې بهر ته
را اوځی او هغه جینۍ هم هلته پاتی شې.

خدای خبر چه ددغه هلك او جینۍ ملاقاتونه به د څومره ورځو نه هلته
کېدل خو اوس پرې خلق خبر شول، او بیا چه د میان رحمان بابا منجور
یو درې شپې مسلسل اول دغه جینۍ او بیا هغه ځلمې اولیدل نو خبره
سمه مشهوره شوه.

هغه نن د ماسخوتن نه د بدرو تور څادر په نخښه کړې ؤ، نن د هغه
پوره یقین وو چه زه به په خپل مقصد کښې کامیابېږم–

نن بدرو هم څه شکی شوې غوندې وه، هغې د پلار د رویې او لهجې نه
پته لګولې وه، هغې ته هم د خپل ځان انجام معلوم ؤ، هغه په دغه خبره
پوه وه چه وړاندې څه کېدونکی دی، ولې هغه اوس هیچرې نه شوه واپس
کېدلې د هغې په زړه چه د کومې مینې هور بل ؤ هغه اوس هغې
هیجرې نه شو مړ کولې، د هغې هر قدم د خطرې ؤ خو هغه په دې هم
ښه پوه وه چه که په دغه وخت کې زه د خطرې نه اووېرېږم نو خدای
پاك به رانه پښتنه کوی–

هغې ته هغه خپل لوظ او اقرار ښه یاد ؤ، هغې ته هغه وخت هم د
سترګو د وړاندې ؤه چه کوم وخت هغې د یو څو کسانو په وړاندې
لوظ کولو او اول ورته هغوی ټولې پېښېدونکې خطرې اوښودلې کومې چه
به خامخا .... پېښېدونکې وې... د هغې اقرار نه پس تر نن شپې
پورې هغه پاتې نه شوه. هغه به هره شپه په خپله مینه کښې لېونې په
خپل مقصد پسې وته.

خدای خبر چه ولې هغې خپله مینه د پلار نه پټه ساتله..... ! د هغې
زړه ولې په خپل پلار زړور نه ؤ ...... !

او نن .... نن هغه بالکل نه شوه پاتې کېدې، هغې به خواه مخواه ځان
رسولو، د هغې په وجود د مینې لمبې نورې هم تېزې شوې وې– د
هغې دغه وخت نور هم شك زیات شو چه د نور کله نه ئې پلار مخکښې
اوده شو، او خلاف معمول په خوب کښې خرړېدو، خو بیا هم هغې خپل
تور څادر په سر واچولو او د بالخت د لاندې نه ئې څه کسوره غوندې
راواخسته لاس ئې پکښې اووهلو، یوکاغذ ئې ترنه را اوویستو، غلی

غونډې ئې ورته داسې اوکتل لکه چه د خپل زړه شك ئې ويستو او بيا ئې پکښې واچولو۔ او د پنجو په سر د کوره را اووته، او كه پذيرى كاكا ډېر کوشش کولو خو هغه په لاره دومره تېزه روانه وه چه که هغه ته هغه ځائ نه وې معلوم نو خداې خبر که به ئې لاندې کړې وه.

پذير غلی اول ځان منجور ته را اورسولو او چه کوم وخت په توره شپه کښې منجور يو مندرې غونډې سهورې ټوپك په لاس اوليدو نو ډېر سخت هيبت پرې راغلو، او كه چرې پذير پرې اواز نه وې کړې او هغه پېژندلې نه وې نو خداې خبر چه په هغه به څه تېرېدل۔

پذيرکاکا غلی غونډې منجور ته اوويل «راځه او هغه ځاى اوښايه، کوم ځائ کښې چه هغه ښځه او سړې يو ځاى کېږى»۔

منجور هغه سره روان شو او چه يو څو قدمه د ميان رهحان نه په وتو کښې وړاندې شو نو وړاندې د زقوم د ونو گڼ بوټې وو، دوى چه غوږ کېښو نو څه کش کش کېدل شپږ يا لس منټه به تېر شوى نه وو چه د هغه ځائ نه يو خړ غونډې سهورې را اووتو او نېغ په قبرونو کښې د دوى په لاره روان شو، چه يو څو قدمه دوى ته رانژدې شو دوى اوکتل چه هغه په برېتو گټې اووهلې او د يو طرف نه ټيټ برېت له ئې تاو ورکړو۔

د پذير ښه يقين پيدا شو چه دا هغه ځلمې دې چه كوم له ځما لور راځى، دغه وخت د هغه د ټوپك د شپيلۍ لاندې هغه ځلمى راغلې ؤ چه چا د هغه په خيال د هغه حيا او غيرت د پښو لاندې دل کول۔ د پذير سر چكر وخوړو او هغه وخت په ځان پوه شو چه كوم وخت ترق سره د ده د ټوپك د شپېلۍ نه لمبه وخته او د ځلمې په سينه ورننوته ـ او د يو «وئ» سره د يو قبر دپاسه پرېوتو۔

هغه په منډه د زقوم بوټو ته لاړو، د يو قبر په خوا کښې ئې د خپلې لور تور څادر او نور غونډ غونډې پنډوکې اوليد، گېر چاپېره ئې اوکتل، يو څو چغې ئې د «بدرو» «بدرو» اووهلې ولې هيڅ په پته پوه نه شو۔ او چه كوم وخت واپس راغلو او دځلمى د سره نه ئې پټكې راكښلو نو د سر وېښته ئې داسې دانه وانه شو كله چه د مور د مرگ نه پس به ور له پلار په گومنز دانه وانه کول ـ او څو دانه وانه کاغذونه د باد چپو سره

داسې یو خوا بل خوا والوتل لکه چه دوی د برطانې د حکومت خلاف انقلابی ډلې ته د خپلې سرغنه پېغلې د شهادت اطلاع ورکوله۔

Pre-reading

Background

Mir Mihdi Shah Mihdi is a journalist based in Peshawar, whose collected stories have been published in a book called دبودی، تل (*Rainbow*). Many of the stories in the collection have to do with revolutionary themes and occurrences: Mihdi was active in politics, in particular in the revolutionary movement led by Khan Abdul Ghafar Khan, the "Frontier Gandhi" who died in 1989. Abdul Ghafar Khan's party, called خدائی خدمتگر, or "God's Volunteers", was essentially anti-British, but from its members' uniforms, which were reddish-brown, they were thought to be communist. The movement also incurred the antagonism of many because women were allowed and encouraged to attend its rallies.

Key vocabulary

confirm	*der. tr. vb.*	[tasdiqaw-́]	تصدیقو-
gust	*n, F1.*	[chapá]	چپه
get dizzy	*phr.*	[chakár khwaṛ-]	چکر خوړ-
contrary	*adj 4.*	[kheláf]	خلاف
extent	*n, M2.*	[ĥád]	حد
beauty	*n, M2.*	[ĥúsun]	حسن
dignity, face	*n, F3.*	[ĥayā́]	حیا
snore	*smp. int. vb.*	[khərəṛég-]	خرړېږ-
gravestone	*n, M3.*	[tsə́lay]	څلی
concerning	*phr.*	[mutaʔələ́q]	متعلق
spread out	*phr.*	[dā̃ná wāna]	دانه وانه
mind, consciousness	*n, M2.*	[zéhən]	ذهن
take off	*smp. tr. vb.*	[rāksh-́]	راکښ-
other side	*phr.*	[ákhwa]	اخوا
graveyard	*n, F1.*	[adirá]	ادیره
message	*n, F3.*	[etlā́]	اطلاع
testimony.	*n, M2.*	[ɪqrā́r]	اقرار
ago	*adv.*	[agāhú]	اگاهو
destiny	*n, M2.*	[anjā́m]	انجام
revolutionary	*adj 1.*	[inqilābī]	انقلابی
pillow	*n, M2.*	[bāləkht]	بالخت
mustache	*n, M2.*	[bret]	برېت
monster	*n, F3.*	[búbalā]	بوبلا
run	*phr.*	[pāra kég-]	پاره کېږ-
bundle	*n, M3.*	[panḍukáy]	پنډوکې
away from	*phr.*	[pa wáto ke]	په وتو کې

flame	*n, F1.*	[lambá]	لمبه
way of talking, dialect	*n, F1.*	[lahajá]	لهجه
travel	*phr.*	[mazál kaw-́]	مزل کو-
continuing	*adv.*	[musalsál]	مسلسل
travel	*phr.*	[mazál kaw-́]	مزل کو-
unfortunate	*n, M1.*	[mazlúm]	مظلوم
meeting	*n, M2.*	[malāqā̃t]	ملاقات
shrinekeeper	*n, M irreg.*	[manjawár]	منجور
journey	*n, M2.*	[manzə́l]	منزل
focus on	*phr.*	[nəkhə kaw-́]	نخبه کو-
joke	*n, F1.*	[nakhra_]	نخره
incident	*n, F1.*	[wāqe?ā̃]	واقعه
fright	*n, M2.*	[haybát]	هیبت
behavior, approach	*n, F1.*	[rawiyá]	رویه
leading	*adj 4.*	[sarghaná]	سرغنه
chest	*n, F1.*	[siná]	سینه
suspicion, doubt	*n, M2.*	[shak]	شك
stingy	*adj 1.*	[shum]	شوم
bury	*der. tr. vb.*	[xakhaw-́]	ښخو-
point out	*smp. tr. vb.*	[xud-́]	ښود
listen	*phr.*	[ghwag gd-]	غوږ ږد-
step	*n, M2.*	[qadám]	قدم
bag	*n, F1.*	[katsoṛa]	کسوړه
comb	*n, M2.*	[guménz]	گومنز
search	*phr.*	[lās wah-́]	لاس وهـ-

Scanning hints

1. The story is told by a narrator, and starts with his hearing of the death of "crazy Pazir". He describes Pazir's odd behavior and his terror of graves and graveyards. He then describes Pazir's home life and his daughter. He then recounts the incident which led to Pazir's fear of graves. Proper names in the story are

The heroine	[budró]	بدرو
Her father	[lewanáy pazír]	لیونی پذیر
The object of the shrine	[myān rayhā̃n bābā]	میان ریحان بابا

2. The story has been abridged: we have deleted descriptive and repetitive passages, and some phrases that are grammatically awkward. Our deletions are indicated as usual with three dots. Mihdi uses a series of dots as well for effect; they are represented with five dots.

3. Our copy of the original story is hand-written, and contains a number of idiosyncratic spellings and punctuation. Watch for commas which frequently occur at the ends of sentences. The spellings of the various ی sounds are more arbitrary than usual. We have changed only one spelling - the particle spelled ږه has been modernized to ږ.

4. The writer often shifts into direct address when describing his characters' thoughts and feelings.

Post-reading

١. لیونی پذیر بله ښځه ولی نه کوله؟

٢. د پذیر لور به د شپې چېرته تله؟

٣. پذیر منجور ته څه وویل؟

٤. د پذیر د توپك شپیلۍ لاندې څوك راغلی ؤ؟

٥. پذیر وروسته له دې چه د توپك له شپېلۍ نه یې لمبه وخته
چېرته ولاړ؟

٦. پذیر د یوه قبر خوا ته څه ولیدل؟

٧. بدرو څوك وه او څه پرې وشول؟

Notes for Detailed Rereading

1. Mihdi's style is quite loose - which unfortunately makes it difficult for non-native speakers of Pashto to follow. Watch for unusual word order, for repeated connective words like هم and خو ; and for the same idea expressed twice. We have rewritten some of the more obscure sentences and passages below.

2. There are several direct quotes in the description of Pazir's fear of graveyards. They are:

پذیر کاکا! په ادیره ورغلې
«هغه دې قبر– را وې نیسئ»
لېونیه! قبر دې

3. لېونی پذیر که هر څومره د نابلده کسانو په نظر کښې یوه نخره وه ولې بیا هم چه هغه چاته معلوم و نو د هغوی ورسره ډېره زیاته مینه وه.
is, in more foreigner-friendly Pashto:
لېونی پذیر د نابلده کسانو په نظر مسخره و خو چا چه پېژانده په هغو ډېر گران و.

4. The phrase تر مرګ پوری translates, of course, as 'until death'; its idiomatic meaning is 'never'.

5. کومه چه = the relative pronoun چه.

6. The phrase سفېد پوش سړي is literally 'white-wearing man'. Here it means a dignified man.

7. د هغه ډېر کم خرڅ و: his expenses were low.

8. دهغه که هر څومره خپلې لور سره مينه وه خو د هغه متعلق خلقو داسې مشهوره کړې وه چه پذير ډېر شوم دې او د شومتيا د وجهې نه بل واده نه کوی او د ځنې کسانو دا خيال وو چه پذير له هسې هم څوك لور خور نه ورکوی ... ځکه چه هغه ډېر بدرنګ وو.

in more foreigner-friendly Pashto is:

په هغه خپله لور ډېره زياته ګرانه وه. خلقو دا خبره پسې جوړه کړې وه چې دی د شومتيا له امله واده نه کوی. ځينې کسانو به لا ويل چې پذير له هسې هم څوك خپله لور خور نه ورکوی. ځکه چه هغه ډېر بدرنګ وو.

9. د هغې سرته تك تور څادر پروت و: The girl of course wore her *tsādar* only when she was up and about, so it was odd of her to keep it close to her while she slept. The name Budro, by the way, is a diminutive; her real name was Budray. [-o] is a common diminutive ending for girls' names, e.g. دورخو in the previous story.

10. زه به په خپل مقصد کښې کاميابېږم is a direct quote.

11. پته لګولې وه : پته is literally 'address'. To discover the address of something is to see behind it, i.e. to perceive the underlying cause.

12. The sentence هغې ته هم د خپل ځان انجام معلوم و starts a digression on the state of Budro's mind, which continues for a couple of paragraphs.

13. به پوه وه چه که په دغه وخت کې زه د خطرې نه اوويرېږم نو خداې پاك به رانه پښتنه کوی — Budro is talking to herself, about what God would think of her on Judgment Day.

14. د خپل زړه شك ويستو: as if to remove her own doubts.

15. د پنجو په سر: on tiptoe

16. که پذیری کاکا ډېر کوشش کولو خو هغه په لاره دومره تېزه روانه وه
چه که هغه ته هغه ځائ نه وې معلوم نو خداې خبر که به لاندې کړې وه.
is, in more foreigner-friendly Pashto:
پذیر کاکا په ډېر چټکی پسې روان وخو هغه دومره تېزه روانه وه
چه که پذیری کاکا ته هغه ځاې نه وې معلوم چه دا ور روانه وه نو گومان
نه کوم چه لاندې کړې به یې وی.

17. د یو طرف نه تیټ بریټ له ې تاو ورکړو: The figure had a handlebar moustache, and while they were looking he gave the left side of it a twist downward..

18. دا هغه ځلمي دې چه کوم له ځما لور راځی: is a direct quote: Pazir is thinking to himself. In this phrase له = ته

19. د توپك د شپیلۍ لاندې: literally 'under the barrel of (one's) gun', i.e. in one's sights.

20. د پښو لاندې دل کو-: literally, 'crush *dal* under one's feet'; idiomatically, to crush or step on; here, Pazir's honor is being breached.

21. د .... په سینه : the chest of the shadowy figure with the moustache. The omission is Mihdi's, for reasons which will become clear in the next paragraph.

22. [way] وۍ is the sound one makes when he/she is badly wounded or hurt.

23. هیڅ په پته پوه نه شو: Here is the 'address' again. Pazir couldn't figure out what was going on – Budro was nowhere to be seen.

24. Lest you miss out on the climax of the story, here is the whole last paragraph rewritten in more friendly Pashto:
هغه په منډه د زقوم بوټو ته لاړو. د یو قبر په خوا کښې یې د خپلې
لور تور څادر او یو غونډ غونډې پنډوکې اولید؛ گېر چاپېره ئې اوکتل.
یو څو «بدرو» «بدرو» چغې یې ووهلې، ولې هیڅ په پته پوه نه شو.
چه کوم وخت واپس راغلو او دځلمی د سره نه یې پټکې راوکښلو نو د
سر وېښته یې داسې دانه وانه شو لکه چه د مور د مرگ نه پس به ور له
پلار په گومنز دانه وانه کول. څو دانه وانه کاغذونه د باد چپو سره
داسې یو خوا بل خوا والوتل، لکه چه د برطانې د حکومت خلاف
انقلابی ډلې ته یې د خپلې سرغنه پېغلې د شهادت اطلاع ورکوله.

Answers to Unit 3 Exercises

Selection A.

١. د تاماس توپك ډېر ښکلی او باوری ؤ.
٢. د تاماس خان اپریدی مخه بنارس خان ونیوله.
٣. ځکه دا کار په پښتنو کې یوه بې غیرتی ده.
٤. د تاماس خان گولۍ د بنارس خان په تندی ونښته.
٥. حتی که یو قاتل او خونی هم د یوه پښتانه کره پناه وروړی، د کور خاوند پرې له سر اوماله تېرېږی.
٦. تاماس خان د بنارس خان د پلار په کاله ورننووت.
٧. د بنارس خان پلار تاماس خان ته عفوه وکړه.
٨. تاماس خان صحیح او سالم خپل کور اوکلی ته ولاړ.

Selection B.

١. د قادر خان کور د کابل د علی آباد روغتون تر شا د غره په ډډې و.
٢. قادر خان به چه تولگی ته ننووت تر هر څه دمخه به یې له خپلې قره قلی خولۍ څخه دوړې وڅنډلې او د لاسونو له ویښتو څخه به یې وچې ختمې وتوږلې.
٣. د قادر خان نوم ځکه ختمگر شو چه شاگردان وپوهېدل چه هغه ختمې هم کوی.
٤. کلنی امتحان ته څلور میاشتې پاتې وې چه د ښوونځی سر ښوونکی «ختمې» خپل دفتر ته وغوښته؟
٥. د «ختمې» لور میمونه نومېده.
٦. ختمې چه رېږدیده او خونې ته ننووت د زړه له کومی یې وژړل.
٧. «ختمې» د خپل شهید زوی د عکس قاب په یوه اوسپنیز صندوق کې ایښی دی.

Selection C.

١. درخانۍ په صوات کې د برې باز درې د يوه طاوس خان نومی پښتانه لور وه او آدم خان زړه پرې بايلوده.
٢. ميرو او بلو د آدم خان ياران وو.
٣. درخانۍ د خپلې مينې دفتر آدم خان ته پرانست.
٤. د آدم خان پلار حسن خان ؤ او له ميرمامی نه يې وغوښتل چه درخانۍ راولی.
٥. آدم خان درخانۍ د گوجر کره کښېنوله.
٦. د گوجر خان لښکر د پاياو خان له لښکر سره جنگ وکړ او گوجر خان ماتې وکړه.
٧. خلکو ماران کتل او آدم خان او درخانۍ ياران کتل.
٨. آدم خان يخنی ووهلو مړ شو او درخانۍ په آدم خان پسې مړه شوه.

Selection D.

١. ليونی پذير بله ښځه ځکه نه کوله چه لور به يې ووهی.
٢. د پذير لور به د شپې د ميان ريحان بابا هديرې ته تله.
٣. پذير منجور ته وويل: «راځه هغه ځای وښيه کوم ځای کې چه هغه ښځه او سړی يو ځای کيږی.»
٤. د پذير د توپك د شپيلۍ لاندې هغه ځلمی راغلی و چه چا د هغه په خيال د هغه حيا او غيرت د پښو لاندې کول.
٥. پذير په منډه د زقوم بوټو ته ولاړ.
٦. پذير د يوه قبر خوا ته د خپلې لور تور څادر او څه نور غونډ غونډی پنډوکي ولېد.
٧. بدرو د پذير لور وه او خپل پلار ووژله.

Unit 4: Poetry

Introduction

The Pashtun tradition of written poetry dates back before Khoshal Khan Khattak - historical accounts of the Pashtuns mention poetry in the language as long ago as the 9th or 10th century A.D. The written tradition has coexisted with a (probably) longer tradition of Pashto oral folk poetry, which has its own rules of rhyme and meter. Both oral and written traditions are evident in modern Pashto poetry, as are very recent influences from western poetry.

Until very, very recently, to be an intellectual - or even to be literate - was to be a poet. The folklorist James Darmesteter, writing in the nineteenth century, summed the poet/intellectual up as follows (his bias can be attributed to his enthusiasm for folk poetry):

'...the *Sha-ir* is the literary poet, who can read, who knows Hafiz and Saadi, who writes Afghan Ghazals on the Persian model, who has composed a Divan. Every educated man is a *Sha-ir*, though, if he be a man of good taste, he will not assume the title; writing Ghazal was one of the accomplishments of the old Afghan chiefs. Hafiz Rahmat, the great Rohilla captain, Ahmed Shah, the founder of the Durani empire, had written Divans, were "Divan people," - *Ahli Divan,* as the expression runs. The *Sha-ir* may be a clever writer, he may be a fine writer ...'

Poets, as intellectuals, have been involved in the emergence of modern public life in Afghanistan, and for a long time were considered authorities on all subjects, including politics and government, by virtue of their erudition. The educated man not only had a store of poetry memorized, but also wrote poetry of his own. Before the forties, an appropriate poetic quotation constituted a logical argument for or against a point; even now, many Pashtun intellectuals have a store of memorized poetry - their own or others' - that they draw on for pleasure or to enhance their speech and writing.

In the sixties and seventies, as more and more Afghans were sent abroad for education, and as higher education developed in Afghanistan, the position of poetry and the poet in the society has become less central. Even so, poetry is still frequently the medium for expression of views on political and social subjects.

The most common form of Pashto poetry is the *ghazal*, of which there are examples in this unit. Poetic forms also include the *rubai,* the *qasida*, and the*kata*. The *rubai* is described in Selection A. A *kata* is exactly like a *ghazal* except that the first line does not rhyme; and a *qasida* is a longer poem (it might have as many as fifty or more lines) structured like the *ghazal.*

The selections in the unit are grouped by author, rather than by piece. Each poem is rephrased in prose, first to help you understand the poem, and second to show you the difference between ordinary and poetic language.

Selection A

الفت

مات کودړی

۱

۱. د ګودر په غاړه پروت ؤ مات کودړی
ویلی زه وم روغ منګی کلال جوړ کړی
۲. دلته لوبو کښې زه مات یوه زلمی کړم
یوې پېغلی په اوږه ومه راوړی

۲

۲. د جهان هره ذره کښې عشق عیان دی
مات کودړی سره هم د عشق داستان دی
۴. دېر مین په دې ګودر دی یو ځای شوی
دېر منګی دلته مات شوی لند بیان دی

Pre-reading

Background

This poem appears on page 167 of غوره اشعار , a collection of Ulfat's poetry published by the Pashto Academy in 1955.

The verses in this poem are of a form close to the [rubāʔíʹ] رباعی. The term's plural, رباعیات is familiar to western readers in the title *The Rubaiyat of Omar Khayyam* . A *rubai* consists of four half-lines, each of which is the same number of syllables; the first, second and fourth half-lines rhyme. Here is the most famous (to westerners) of Omar Khayyam's *rubai* , from the fourth edition of Edward FitzGerald's translation (1879). Note that the translation preserves the structure of the original and at the same manages English iambic pentameter:

A Book of Verses underneath the Bough
A Jug of Wine, a Loaf of Bread - and Thou
Beside me singing in the Wilderness -
Oh, Wilderness were Paradise enow!

In this poem of Ulfat's, the form deviates from that of the standard Pashto *rubai* in that each half-line has twelve syllables (standard Pashto *rubai* 's have ten or eleven), and in that the two verses are related (in standard *rubai* 's, the verses stand alone). The poem is on one of Omar Khayyam's themes, that the attributes of life and love are to be found in inanimate objects.

Key vocabulary

shard, piece of clay *n, M3.* [kawdə́ṛay] کودړی	story *n, M2.* [dāstā́n] داستان
shallows *n, M2.* [gudár] گودر	atom *n, F1.* [zara] ذره
in short *phr.* [lánḍ bayān] لنډ بیان	obvious, clear *adj 1.* [ʔayā́n] عیان
broken *adj 1.* [māt] مات	potter *n, M1.* [kulā́l] کلال

Scanning hints

1. Identify the rhyme scheme and the syllable structure of the verses.

2. Here is a prose version, with normal word order and deleted words restored:

۱. مات کودړی د گودر په غاړه پروت ؤ
ویلی زه روغ منگی وم، کلال جوړ کړی(وم)
۲. دلته یوه زلمی (په) لوبو کښې زه مات کړم
یوې پېغلی په اوږه (زه) راوړی وم
۲. عشق د جهان (په) هره ذره کښې عیان دی
د عشق داستان مات کودړی سره هم شته
٤. ډېر مین په دې گودر یو ځای شوی دی
لنډ بیان دی ډېر منگی دلته مات شوی دی

Notes for Detailed Rereading

1. A گودر is basically a shallow place in a river or creek where people can wade across. As such, it is a place where water jars can be filled, and as water carrying is a woman's job, the village گودر is also the place where women gather. And where a lover goes to catch a glimpse of or maybe a few words with his beloved.

2. A منگی is a tall (two or three feet) clay jar with shoulders and a narrow neck with a handle. It can be slung over the back by its handle so that its weight is carried on the girl's shoulder.

3. The phrase لنډ بیان translates literally as 'short statement'.

خوشحالی

۱. کوروکلی کښې سکوت او قراری وه
نه خندا وه نه د وړکو څه مستی وه
۲. یو ناڅاپه را پیدا کوم لیونی شو
چه کتل مې په کوڅو کښې خوشحالی وه

Pre-reading

Background

This short poem, also close in form to a traditional *rubai* , describes a simple village incident. Something unusual that happens in a village is a source of excitement for the children. The poem appears on page 184 of غوره اشعار .

Key vocabulary

liveliness, din *n, F2.* [mastí́] مستی	laughter *n, F3.* [khandā́] خندا
child *n, M3.* [wóṛkay] وړکی	silence *n, M2.* [sukút] سکوت
suddenly *phr.* [yaw nātsā́pa] یو ناڅاپه	quiet *n, F2.* [qarārí] قراری

Scanning hints

1. Identify the rhymes and syllable structure, and the way in which the poem deviates from the standard *rubai* structure.

2. Here is a prose version of the last two half-lines, with normal word order:

۲. یو ناڅاپه کوم لیونی را پیدا شو
کتل مې چه په کوڅو کښې خوشحالی وه

Notes for Detailed Rereading

1. The word وړکی is the diminutive of the usual word for 'child', وړ , which is the adjective meaning 'small' used as a noun. Forms from other dialects are [waṛakáy] وړکی and [waṛúkay] وړوکی.

2. The term لیونی carries a connotation of divine madness: a لیونی is not bound by ordinary considerations, but is free to act as his inner spirit dictates.

انسان

۱. زه جسم نه یمه ما روح ددې جهان وگنه
تیټ می مه بوله بام د خونې مې اسمان وگنه
۲. د خاورو گټو په تخت ناست یم په هوا کښې گرزم
ټول حیوانات می دی تابع ما سلیمان وگنه
۲. تیاره کښې نه یم په اسمان کښې مې ډیوه بلېږی
د اسمان واړه ملائك مې شاگردان وگنه
٤. دا ټول نقشونه د جهان او مختلف رنگونه
زما په ذوق او ارادې پسې روان وگنه
٥. په کایناتو باندی زه هر قسم لوبی کوم
بحرو فضا می د یوې مندی میدان وگنه
٦. شکایت نکړم له اسمانه څه گیله نلرم
زما له لاسه د فلك څیرې گرېوان وگنه
۷. سره له دومره اقتداره چه قدرت راکړی
په نری تار کښې می د زلفو اویزان وگنه
۸. د ښکلو مینه می په عقلو فکر لوبی کوی
چه ستا وربل شی پرېشان ما پرېشان وگنه
۹. د عشق پنجو نه نه خلاصیږم د لښکرو په زور
د ایاز مینه کښې اسیر شهنشاهان وگنه
۱۰. د لیلی یو اشارت بس دی د عاقل دپاره
دعشق سودا کښې لېونی ډېر هوښیاران وگنه
۱۱. د عشق او مینی په حرم کښې زه لوی شوی یمه
څوك چه بې مینې ژوند کوی هغه حیوان وگنه
۱۲. چه د جمال ډیوه شوه بله پتنگان شوه پیدا
لړی پتنگ و دغې شمع ته انسان وگنه

Pre-reading

Background

This poem (page 50 of غوره اشعار) is a [ghazál] غزل, which has the following characteristics:

- there are usually from seven to fourteen lines (*n, M2.* [bayt] بيت)
- each line consists of two half-lines (*n, F1.* [misrá] مصراع)
- each line must have the same syllable number as the first (*n, F3.* [matlā́] مطلع).
- the half-lines of the first line must rhyme; the second half-line of each line thereafter must rhyme with the first line.

This poem is a celebration of the human spirit, expressed in a series of metaphors. Ulfat wrote this poem under the same constraints that hindered free expression in the *adabi parche* (see Unit 1). The various mentions of sky are deliberately ambiguous - they can refer either literally to sky and space, or they can be interpreted as referring to God. The writer could get away with talking about the sky - he could always argue that the censor misunderstood, and that he really was talking about the sky and space - whereas any mention of God in other than worshipful terms would get him in trouble.

Key vocabulary

melancholy thought	*n, F3.*	[sawdā́]	سودا
complaint	*n, M2.*	[shekāyát]	شکايت
candle	*n, F1.*	[sháma]	شمع
shah of shahs	*n, M1.*	[shahenshā́]	شهنشاه
sky	*n, M2.*	[falák]	فلك
power, God, nature	*n, M2.*	[qudrát]	قدرت
stone	*n, F1.*	[gáṭa]	گټه
grow up	*der. int. vb.*	[loyég-]	لويږ-
differing, various	*adj 1.*	[mukhtalíf]	مختلف
angels	*n, M irreg. Pl.*	[məlāyák]	ملائك
painting	*n, M2.*	[naqsh]	نقش
imprisoned	*adj 1.*	[asír]	اسير
hint	*n, M2.*	[ɪshārát]	اشارت
power	*n, M2.*	[ɪqtɪdā́r]	اقتدار
hanging	*adj 4.*	[awezā́n]	اويزان
ocean	*n, M2.*	[baĥə́r]	بحر
moth	*n, M1.*	[patáng]	پتنگ
sad	*adj 1.*	[pereshā́n]	پرېشان
subject	*n, F irreg.*	[tābáʔ]	تابع
throne	*n, M2.*	[takht]	تخت
body, matter	*n, M2.*	[jə́səm]	جسم
curls	*n, F1. Alw. pl.*	[zúlfe]	زلفې

Scanning hints

1. Identify the rhyme scheme and syllable structure.

2. The poem is grammatically a series of commands, structurally parallel to English sentences like 'Consider me (to be) a lover of poetry'.

3. The poem is in first person; 'زه' is humanity, or man.

4. Here is a prose version, with ordinary word order, punctuation, and elided words restored:

۱. زه جسم نه یمه، ما ددې جهان روح وگنه.
تیټ می مه بوله؛ د خونې بام مې اسمان وگنه.
۲. د خاورو (او) گټو په تخت ناست یم، په هوا کښې گرزم.
ټول حیوانات می تابع (دی)، ما سلیمان وگنه.
۲. (په) تیاره کښې نه یم، په اسمان کښې مې ډیوه بلېږی.
د اسمان واړه ملائك مې شاگردان وگنه.
٤. دا د جهان ټول نقشونه او مختلف رنگونه
زما په ذوق او ارادې پسې روان وگنه.
٥. په کایناتو باندی زه هر قسم لوبی کوم.
بحرو فضا می د یوې مندی میدان وگنه.
٦. شکایت نکړم، له اسمانه څه گیله نلرم.
زما له لاسه د فلك گرېوان څیرې وگنه.
۷. له دا دومره اقتداره سره چه قدرت راکړی
په نری تار کښې می د زلفو اویزان وگنه.
۸. د ښکلو مینه می په عقل او فکر لوبی کوی
(کله) چه ستا وربل پرېشان شی، ما پرېشان وگنه.
۹. د لښکرو په زور د عشق پنجو نه نه خلاصېږم،
د ایاز مینه کښې اسیر شهنشاهان وگنه.
۱۰. د لیلی یو اشارت د عاقل دپاره‌بس دی
ډېر هوښیاران د عشق سودا کښې لېونی وگنه.

BEST COPY AVAILABLE

۱۱. د عشق او مینی په حرم کښې زه لوی شوی یمه
څوك چه بې مینې ژوند کوی هغه حیوان وگنه.
۱۲. د جمال ډیوه (چه) بله شوه پتنگان پیدا شوه
د دغې شمع لړی پتنگ انسان وگنه.

Notes for Detailed Rereading

1. می دی in line 4 is زما.

2. یوی مندی in line 10 is a phrase meaning the length one can run in one burst of energy.

3. In line 12, the phrase څیرې گرېوان translates roughly as 'torn placket'. If you punish or threaten someone, you grab him by the placket of his shirt. (Remember that traditional Pashtun shirts/tunics are collarless, with a hole for the head and a hemmed slit down the front.) Someone with a torn placket is someone who has been insulted.

4. In line 18, the Ayaz referred to is a (male) slave Ayaz, whom the Shahenshah - a king - allowed to give him orders.

5. The Layla mentioned in line 19 can be any girl.

زما خوب

١. وربل يې ما په خوب کښې پریشان لیدلی دی
ستا بخت خو مې رقیبه دغه شان لیدلی دی
٢. د گلو هار په غاړه محبوبا شوه را حضوره
بلبله دا وطن مې گلستان لیدلی دی
٢. کارغان به پکښې نه وی بلبلان به پکښې وی
باغونه به سمسور وی ما باغبان لیدلی دی
٤. دا توره شپه به خدای کاندی په مونږ باندی سبا
سپین مخ مې چه سبا غوندی روښان لیدلی دی
٥. تعبیر يې کړی ما په ظالمانو به چپه شی
چپه کاکل مې خوب کښې د جانان لیدلی دی
٦. مهار به دې په پوزه شی د سرو زرو خاونده
په سرو شوندو دپاسه مې پیزوان لیدلی دی
٧. زه پتې سترگې نه یمه په هر څه اوس پوهېږم
په خلاصو سترگو باندی ما جهان لیدلی دی
٨. له دامه که دې خلاص کړم په قفس کښې دې ایسار کړم
صیاده! ما خو ځورنگه زندان لیدلی دی
٩. عمل چه وی آزاد او انتقاد پکښې بندی وی
ما هلته د ظلمونو سخت طوفان لیدلی دی
١٠. که هر یو رانه وژنی خیال او فکر می مه وژنه
په دې کښې می وطن ته لوی تاوان لیدلی دی

Pre-reading

Background

In this *ghazal* , Ulfat dreams, then interprets his dream: thoughts of love - the dream - are interwoven with social and political commentary - the interpretation.

Our copy of the poem is on p. 203 of غوره اشعار.

Key vocabulary

hunter	*n, M1.*	[sayād]	صیاد
flood	*n, M2.*	[tofān]	طوفان
oppressor	*n, M1.*	[zālə́m]	ظالم
cage	*n, M irreg.*	[qafás]	قفس
crow	*n, M1 .*	[kārghə́]	کارغه
bangs	*n, M2.*	[kākwə́l]	کاکل
garden	*n, M2.*	[gwəlistán]	گلستان
beloved	*n, F3.*	[maĥbubā]	محبوبا
lead rope	*n, M2.*	[mahār]	مهار
hair growing around face		[worbál]	اوربل
wreath, garland	*n, M2.*	[hār]	هار
put into	*der. tr. vb.*	[isāraw-́]	ایسارو-
gardener	*n, M1.*	[bāghbān]	باغبان
blocked, censored	*adj 4.*	[bandí]	بندی
nose	*n, F1.*	[póza]	پوزه
nose ring	*n, M1.*	[pezwān]	پیزوان
appear	*der.int. vb.*	[ĥuzurég-]	حضورېږ-
various	*adj 4.*	[tsóranga]	څورنگه
snare, trap	*n, M2.*	[dām]	دام
rival	*n, M1.*	[raqíb]	رقیب
bright	*adj 1.*	[roxān]	روښان
flourishing	*adj 1.*	[samsúr]	سمسور

Scanning hints

1. Identify the syllable structure and rhyme structure of the poem.

2. In the first six lines, Ulfat alternates statements about his dream with statements about his interpretation of it. Then, in the last four lines, he shifts gears, and his comments (and vocabulary) are similar to those in his essay بېگنا بندی in Unit 1.

2. Prose version, with punctuation and elided words restored:

۱. ما یې وربل په خوب کښې پریشان لیدلی دی.
اې رقیبه! ستا بخت خو مې دغه شان لیدلی دی!
۲. محبوبا د گلو هار په غاړه را حضوره شوه.
بلبله دا وطن مې گلستان لیدلی دی.
۲. کارغان به پکښې نه وی، بلبلان پکښې وی.
باغونه به سمسور وی: ما باغبان لیدلی دی.
٤. خدای به دا توره شپه په مونږ باندی سبا کاندی،
(ځکه) ما سبا غوندی سپین مخ روښان لیدلی دی.
٥. ما یې تعبیر(داسې) کړی چه په ظالمانو به چپه شی.
(ما) د جانان چپه کاکل په خوب کښې پریشان لیدلی دی.
٦. د سرو زرو خاونده! مهار به دې په پوزه شی.

ما په سرو شوندو دپاسه پیزوان لیدلی دی
٧. زه پتی سترگې نه یمه په هر څه اوس پوهېږم
ما په خلاصو سترگو باندی جهان لیدلی دی
٨. صیاده! که دی له دامه خلاص کړم، په قفس کښې دی ایسار کړم.
ما خو څورنگه زندان لیدلی دی.
٩. (چېرته) چه عمل آزاد او انتقاد بندی وی.
ما هلته د ظلمونو سخت طوفان لیدلی دی.
١٠. هر یو (چه) را نه وژنی، خیال او فکر می مه وژنه!
په دې کښې می وطن ته لوی تاوان لیدلی دی.

Notes for Detailed Rereading

1. In line 4, کاندی = کوی

2. In line 5, the phrase چپه کاکل refers to the hair around one's face, tucked away from the eyes.

3. A مهار (line 6) is the line plus the nose ring of an ox or camel. A پیزوان is the decorative sort of nose ring worn by a girl or woman.

4. سرو زر (line 6) (literally 'red gold') is gold. سپین زر (literally 'white gold') is silver.

Post-reading

١. منگی د گودر غاړې ته چا راوړی ؤ؟

٢. په کوڅو کی ولی خوشحالی شوه؟

٣. الفت د «انسان» په شعر کې ټول حیوانات د چا تابع بولی؟

٤. الفت دا خبره ولې کوې؟

٥. ایاز څوك ؤ؟

٦. «زما خوب» اساساً عشقی شعر دی او که سیاسی؟

٧. الفت پدې شعر کې د څه شی هیله کوی؟

Selection B

غنی

ای زما وطنه !

١. اې زما وطن د لالونو خزانې زما!
٢. ستا هره دره کښې دی د تورو نښانې زما
----
٢. زه یم ستا د خاورې ته زما د مینې جوړه یې
٤. ته مې د غیرت او د پښتو رنگینې جوړ یې
٥. ته مې د نیکه او د بابا د وینې جوړ یې
٦. ستا زړه کښې ویدې دی تولې تللې زمانې زما
٧. اې زما وطنه د لالونو خزانې زما!
٨. سترگې مې لوگی شه ستا د خاورو د کورونو نه
٩. عقل مې ایرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
١٠. ځار شمه قربان شم ستا دغرونو نه سیندونو نه
١١. ستا هره دره کښې دی د تورو نښانې زما
١٢. اې زما وطنه د لالونو خزانې زما!
١٢. ستا عزت چه نه وی زه به نوم او عزت څه کړمه
١٤. ته چه خوار او زار یې زه به خوب او راحت څه کړمه
١٥. ستا سر چه وی ټیټ نو به زه شان او شوکت څه کړمه
١٦. مسته به دې خاوره کړم په وینې مستانې زما
١٧. اې زما وطنه د لالونو خزانې زما
١٨. یا خو به دې سیال کړمه وطنه د جهان
١٩. یا به ستا په پښو کښې تورې خاورې کړم دا ځان
٢٠. زه به درې ورې شم خو تا به کړم ودان
٢١. نر یمه پښتون یم تاته یادی افسانې زما
٢٢. اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

Pre-reading

Background

This poem has been popularized in song form by the singer Awal Mir, and has often been played on Kabul Radio.

Ghani (his full name is Abdul Ghani Khan Ghani Ashar) is the son of Khan Abdul Ghafar Khan, the "Frontier Ghandi" mentioned in Unit 3, Selection D. Ghani, now in his late seventies/early eighties, is considered one of the best Northwest Frontier poets. His writings are on social criticism - his entire family was involved in politics and Pashtun nationalism.

Our copy is taken from د غنى پلوشي , a collection of Ghani's poems published by the Pashto Academy in 1960/61.

Key vocabulary

glory	*n, M2.*	[shān]	شان
dignity	*n, M2.*	[shawkát]	شوکت
honor	*n, M2.*	[ʔɪzát]	عزت
sacrifice	*n, M2.*	[qurbān]	قربان
ruby	*n, M2.*	[lāl]	لال
lively	*adj irreg.*	[mastāná]	مستانه
mark	*n, F1.*	[nexāná]	نښانه
prosperous	*adj 1.*	[wadān]	ودان
story	*n, F1.*	[afsāná]	افسانه
sacrifice	*n, M2.*	[dzār]	ځار
valley, gorge	*n, F1.*	[dará]	دره
shattered	*phr.*	[dáṛe wáṛe]	دړي وړي
rest, comfort	*n, M2.*	[rāhát]	راحت
beautiful	*adj 1.*	[rangín]	رنگين
miserable	*adj 1.*	[zār]	زار
equal, rival	*adj 1.*	[syāl]	سيال

Scanning hints

1. The syllable structure of the poem does not match the punctuation in our copy. The first two lines are sort of a refrain, and rhyme. After the 'verses' - in this case three rhyming lines - a two-line refrain occurs which consists of one or both of the first two lines. If only one of the lines occurs, the second line in the refrain has the same rhyme as the other refrain lines. Go through the poem, marking the rhymes, and the pattern will become clear.

2. Here are the lines, rewritten with normal word order and punctuated:

١. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
٢. زما د تورو نښانې ستا (په) هره دره کښې دی.
٢. زه ستا د خاورې(جوړ) یم، ته زما د مینې جوړ یې.
٤. ته مې د غیرت او د رنگینې پښتو جوړ یې.
٥. ته مې د نیکه او د بابا د وینې جوړ یې.
٦. زما ټولې تللې زمانې ستا زړه کښې ویدې دی.
٧. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
٨. سترگې مې (د) ستا د خاورو د کورونو نه لوگی شی.
٩. عقل مې (د) ستا د پاره د فکرونو نه ایرې شی.
١٠. ستا دغرونو نه سیندونو نه ځار شمه، قربان شم.
١١. زما د تورو نښانې ستا (په) هره دره کښې دی.
١٢. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
١٢. ستا عزت چه نه وی زه به نوم او عزت څه کړمه
١٤. ته چه خوار او زار یې، زه به خوب او راحت څه کړمه؟
١٥. ستا سر چه ټیټ وی، نو به زه شان او شوکت څه کړمه؟
١٦. (زه) به دې خاوره زما په مستانې وینې مسته کړم.
١٧. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
١٨. وطنه یا خو به دې د جهان سیال کړمه.
١٩. یا به ځان ستا په پښو کښې تورې خاورې کړم.
٢٠. زه به دړې وړې شم، خو تا به ودان کړم.
٢١. نر یمه پښتون یم تا ته زما افسانې یادې دی.
٢٢. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!

Notes for Detailed Rereading

1. تللې in line 6 translates best as 'past' or 'bygone'.

2. The phrase سترگې مې لوگی شه in line 8 is an idiom; to make smoke of some part of one is to sacrifice it. The poet offers to sacrifice his eyes, which as the most important part of his body, amounts to an offer to sacrifice his whole self.

3. Line 14 - ستا عزت چه نه وی زه به نوم او عزت څه کړمه: 'If you have no honor, what use are name and honor to me?' The next two lines are roughly parallel.

Post-reading

١. غنی خان پدې شعر کې د خپل وطن دپاره څه غواړی؟

٢. غنی خان خپل عزت او نوم په څه شی کې غواړی؟

٢. غنی خان ولې غواړی چه ځان دړې وړې کړی؟

From the joke book:

استاذ: عابده! ستا په ځناورو کښې کوم یو خوښ دی؟
عابد: استاذجی، پیشو.
استاذ: ولی دې پیشو خوښه ده؟
عابد: ځکه چه کله زه د غوښې کټوې نه په غلا غوښه خورم الزام په پیشو لگی.

animal *n, M irreg.* [dzənāwár] ځناور	teacher *n, M1.* [ustāz] استاذ
masculine name . n, M2. [ʔābíd] عابد	be blamed *phr.* [ɪlzām lag(ed)-] الزام لگ-
clay pot *n, F1.* - [a] [kaṭáw] کټو	kitty *n, diminutive* [pishó] پیشو

Selection C

بینوا

د کوهستان شفق

١. هندکش په سر لمبې دی که آسمان سره کناره ده
٢. د کوم سوی زړګی آه دی یا د وینو فواره ده
٢. که چنګیز د عصر توره چه له تهکی را ښکاره ده
٤. یا خو بل د مینی اور دی
د فلك پرې سوی کور دی

٥. د سکندر د وخت شهید دی په حسرت ګوری بګرام ته
٦. یا لیوال روح د عاشق دی چه ورځی د یار سلام ته
٧. یا واله د سرو شرابو چه توئیږی یوه جام ته
٨. دا میدان د کربلا دی
که سالو سور د لیلا دی

٩. دا زړګی د آسمان وچاود که سینه د دیوانه ده
١٠. یا ساقی له لاسه ښکته چپه شوې پیمانه ده
١١. او که درس د عبرت لیك دی ښه رنګینه افسانه ده
١٢. مونږ ته یاده جانبازی کړی
د نیکونو سربازی کړی

Pre-reading

Background

Benawa, one of whose *adabi parche* is given in Unit 1, Selection C, is better known for his poetry. This poem is a capturing of his musing as he watches the sun set behind the horizon in Kohistan, an area north of Kabul at the foot of the Hindu Kush. The structure of the poem is reminiscent of Pashto folk poetry.

The poem was probably written at the end of the fifties. Our copy was published (page 33) in [preshān afkār] پرېشان افکار ('troubled mind') which is a collection of some of Benawa's poetry published by the Pashto Academy in the late fifties.

Key vocabulary

cupbearer *n, M1.* [sāqī] ساقی
bravery *n, F2.* [sarbāzī] سربازی
Alexander the Great *n, M2.* [skandár] سکندر
burning, aflame *adj 2.* [sə́way] سوی
chest *n, F1.* [siná] سینه
wine *n, M irreg. Alw. pl.* [sharāb] شراب
horizon *n, M2.* [shafáq] شفق
lesson *n, M2.* [ebrát] عبرت
time *n, M2.* [ásər] عصر
sky *n, M2.* [falák] فلك
fountain *n, F1.* [fawārá] فواره
edge, shore *n, F1.* [kenārá] کناره
writing *n, M2.* [lik] لیك
anxious *adj 1.* [lewāl] لېوال

story *n, F1.* [afsāná] افسانه
sound of a sigh. [ah] آه
flame *n, M2.* [bal] بل
cup of wine *n, F1.* [paymāná] پیمانه
pour *der. int. vb.* [to?ég-] توئېږ
scabbard *n, M3.* [tékay] تېکی
bowl *n, M2.* [jām] جام
sacrifice *n, F2.* [jānbāzī] جانبازی
Genghis (Khan). *n, M1.* [changéz] چنگېز
burst*smp. irreg. vb. Pst.* [chāwd-] چاود-
dismay, frustration *n, M2.* [hasrát] حسرت
crazy man *n, M1.* [dewāna] دېوانه
colorful *adj 1.* [rangín] رنگین
heart *n, M2.* [zəṛgáy] زړگی

Scanning hints

1. Identify the rhyme scheme and the syllable structure of the poem.
2. The poem is grammatically a series of simple questions, e.g. "Is it x, or is it y?". (The ک 's translate as 'or'.) Here is a prose version, with punctuation and elided words restored:

١. (دا د) هندکش په سر لمبی دی، که د آسمان سره کناره ده،
٢. د کوم سوی زړګی آه دی، یا د وینو فواره ده،
٣. که د چنګیز د عصر توره چه له تهکی را ښکاره ده؟
٤. یا خو د مینی اور بل دی او د فلك کور پرې سوی دی.

٥. (دا) د سکندر د وخت شهید دی(چه) په حسرتبګرام ته ګوری،
٦. یا لیوال روح د عاشق دی چه د یار سلام ته ورځی،
٧. یا واله د سرو شرابو چه یوه جام ته توئیږی؟
٨. دا د کربلا میدان دی که د لیلا سور سالو دی؟

٩. دا زړګی د آسمان وچاود، که سینه د دیوانه ده،
١٠. یا (د) ساقی له لاسه پیمانه ښکته چپه شوې ده،
١١. او که درس د عبرت لیك دی، ښه رنګینه افسانه ده،
١٢. مونږ ته جانبازی (یا) د نیکونو سر بازی رایادوی.

Notes for Detailed Rereading

1. [bagrăm] بګرام mentioned in line 5 is the area near Kabul where Alexander the Great built a city.

2. سلام ته تلل (line 6): to greet (someone).

3. واله (line 7) = ویاله

4. دېوانه, in line 9, is the Persian equivalent of Pashto لېونی.

5. [karbală] کربلا, mentioned in line 8, is the desert plain in Iraq where Yazid killed the grandsons of Mohammed.

6. The nouns [jănbăzí] جانبازی and [sarbăzí] سربازی , in the last line of the poem, are parallel in construction. بازی is Persian, and in that language translates roughly as 'losing' or 'playing with ...'. If you play with your soul or your head, you are risking them, i.e. engaging in bravery or sacrifice.

سپین غر

۱. جگی جگی ساقی راشه   د خوږمن زرگی په خوا شه
۲. ستا له سره سپلنی شم   تر سرو سترگو دی واری شم
۳. راته خانده راته داد کړه   پخپل داد بې وزلی ښاد کړه
۳. زما لوری ته ډېر ډېر شه   تر بې درد عالم را تېر شه
۵. په پیاله مې کړه نمنځنه   رانه لیری کړه پوهنه
٦. چه خراب مست دیوانه شم   له جهانه بیگانه شم
۷. سوزو ساز د مینی راکړه   لیونی عشق را عطا کړه
۸. چه دردمن سره یاری کړم   له بې دردو جدایی کړم
۹. روح آزاد زړه می خوشحال شی   پاك له خیرو له جنجال شی
۱۰. لکه موج مست می گذر وی   طوفانونه می په سروی
۱۱. کور د ظلم وستم وران کړم   لوړ او ټیټ سره یکسان کړم
۱۲. تر تاو وگرزم راپورته   ساقی مه کوه ځنډنورته
۱۳. هله راکړه د تاك وینه   چه می یخه شی پرې ینه
۱٤. هغه تاك چه یې رودلی   د سپین غر شیدې سپېڅلی
۱۵. په سر سبزو شنو درو کښی   په جاری ډکو شهلو کښی
۱٦. د ډ برو له بېخو نه   له خوږو سپینو چینو نه
۱۷. چه سپین باز غوندی پرواز کړم   د سپین غره نغمه آغاز کړم
۱۸. په نغمه کښی می شرر را   مسیحا غوندی اثر را
۱۹. چه دا مړ قوم بیا ژوندی کړم   ورته هیښ خپل و پردی کړم
۲۰. خلاص یې کړمه له ذلته   د غرور له بد غفلته
۲۱. لړ ټکان وخوری بیدار شی   د خپل ژوند په کارو بار شی
۲۲. پدې پوه شی چه ژوندون اوس   غواړی بل رنگه افسون اوس
۲۳. نه خلاصیږی په وینا څوك   په مړانه د بابا څوك
۲٤. لا به څو فخر په پلار کړی   یا په نوم د خپل تبار کړی
۲۵. ولاړی ولاړی هلا کېږی   که مغرور شوئ تبا کیږی
۲٦. ساقی پاڅه پیاله را کړه   له اور ډکه می وینا کړه

۲۷. چه ددې غره په لمن کښې   په دې لوی دښت و دمن کښې
۲۸. په آواز مې زلمی راشی   بیا د سپین غره شاو خوا شی
۲۹. پښتني جرگې شي غونډی   مرکې يې هر ځای پونډی
۲۰. په یو زړه په یوه خوله شی   یو له بله سره مله شی
۲۱. دا خراب کور بیا ودان کړی   په دنیا کښې ښکاره ځان کړی
۲۲. بېله فرقه یو ملت وی   بېلتون نه وی ټول وحدت وی
۲۲. و سپین غره ته له اسمانه   د نیکه روح شي گویانه:
۲٤. «دلته دې دغرو لمنې   زمونږ کیږدۍ دې پکښې پلنې
۲۵. دا وگړی ډیر کړی خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه!!

Pre-reading

Background

This poem is a *saqinama* - a poem or chant addressed to the *saqi*, usually translated as cup-bearer, who serves the wine. A *saqi* is a Persian court figure, often a Turkish slave girl who danced and served wine. Because of these *saqis*, the word *Turk* carries a connotion of beauty.

The *saqinama* is a poetic form in which half-lines must rhyme, and all half-lines must be of the same number of syllables.

This particular *saqinama* is a description of the author's thoughts - some having to do with wine, some with nationalism - as he watches the sun set over Spin Ghar in the Ningrahar/ Logar area of Afghanistan.

Our copy was published on pages 30-31 of پرېشانه افکار.

Key vocabulary

charm	*n, M2.*	[afsún]	افسون
begin	*phr.*	[aghāz kaw-́]	آغاز کو -
insensitive	*adj 4.*	[be dárda]	بې درده
waken	*der. vb.*	[bedārég-]	بېدارېږ -
strange	*adj 4.*	[begāná]	بېگانه
separation	*n, M2.*	[beltún]	بېلتون
same	*phr.*	[bela fárqa]	بېله فرقه
flying, aloft	*adj 1.*	[parwāz]	پرواز
spread, flattened	*adj 1.*	[plə́n]	پلن
gather	*der. vb.*	[pənḍég-]	پونډېږ -
cup, bowl	*n, F1.*	[pyālá]	پیاله
vineyard	*n, M2.*	[tāk]	تاك
be destroyed	*phr.*	[tabā kég-]	تباه کېږ -
shock	*n, M2.*	[ṭakān]	ټکان
flowing	*adj 4.*	[jārí]	جاری
separation	*n, F2.*	[judāyí]	جدایی
trouble, evil	*n, M2.*	[janjāl]	جنجال
sensitive, afflicted	*adj 1.*	[khugmán]	خوږمن
delay	*phr.*	[dzanḍ kaw-́]	ځنډ کو -
generosity, giving	*n, M2.*	[dād]	داد
sympathetic	*n, M irr.*	[dardemán]	دردمن
valley	*n, F1.*	[dará]	دره
plain	*n, F1.*	[daxt]	دښت
plain	*n, M irreg.*	[damán]	دمن
full	*adj 1.*	[ḍak]	ډك
misery	*n, M2.*	[zelát]	ذلت
suck	*smp. irreg. tr. vb. Pst.*	[rud-́]	رود -
tyranny	*n, M2.*	[setám]	ستم
flourishing	*adj 1.*	[sarsabz]	سر سبز
burning	*n, M2.*	[soz]	سوز
fire, flame	*n, M2.*	[sharár]	شرر
stream, creek	*n, F1.*	[shelá]	شېله
storm	*n, M2.*	[tofān]	طوفان
honor, grant	*vb. phr.*	[atā kaw-́]	عطا کو -
ignorance	*n, M2.*	[ghaflát]	غفلت
gather	*der. int. vb.*	[ghwənḍég-]	غونډېږ -
Pashtun tent	*n, F2.*	[kegdə́y]	کېږدۍ
talk	*der. int. vb.*	[goyānég-]	گویانېږ -
movement	*n, M2.*	[guzár]	گذر
lively, tipsy, high	*adj 1.*	[mast]	مست
messiah, Christ	*n, M1.*	[masiĥā]	مسیحا
friend	*n, F1.*	[mla]	مله
wave	*n, M2.*	[mawj]	موج
respect, honor	*n, F1.*	[nmandzə́na]	نمنځنه
sacrifice	*der. vb.*	[wāri kég-]	واری کېږ -
unity	*n, M2.*	[waĥdát]	وحدت
destroy	*der. tr. vb.*	[wrānaw-́]	ورانو -
human being	*n, M3.*	[wagə́ṛay]	وگړی
die	*der. int. vb.*	[halā keg-]	هلا کېږ -
quickly	*adv.*	[hála]	هله
surprised	*adj 1.*	[hix]	هیښ
level	*phr.*	[yaksām kaw-́]	یکسان کو -
liver	*n, F1.*	[yə́na]	ینه

Scanning hints

1. Identify the rhyme and syllable structure.

2. Structurally, the poem is a series of requests of the *saqi* (usually variations on a request for more wine) interspersed with the reasons why. Lines 24 and 25 are a shift in focus; they are pure preaching. Line 26 is a request, and the rest of the poem gives reasons.

3. Here is the poem in normal word order, with elided words restored and punctuated:

١. جگی جگی، ساقی، راشه! د خوږمن زړگی په خوا شه.
٢. ستا له سره سپلنی شم. تر سرو سترگو دی واری شم.
٢. راته خانده، راته داد کړه. بې وزلی پخپل داد ښاد کړه.
٢. زما لوری ته ډېر ډېر شه. تر بې درد عالم را تېر شه.
٥. په پیاله مې نمنخنه کړه. پوهنه را نه لیری کړه،
٦. چه خراب، مست، دیوانه شم، له جهانه بیگانه شم.
٧. د مینی سوزو ساز راکړه؛ لیونی عشق را عطا کړه؛
٨. چه دردمن سره یاری کړم؛ له بې دردو جدایی کړم؛
(می) آزاد (شی)، زړه (می)خوشحال شی؛ پاك له خیر او لهجنجال شی؛
٩. روح
١٠. گذر می لکه موج مست وی؛ طوفانونه می په سروی؛
(چه)د ظلم او ستم کور وران کړم؛ لوړ او ټیټ سره یکسان کړم.
١١.
١٢. ساقی! تر تا وگرزم؛ را پورته (شه) ته نور ځند مه کوه.
١٢. هله د تاك وینه راکړه، چه ینه می پرې یخه شی-
١٤. هغه تاك چه د سپین غره سپېځلی شیدې یې رودلی دی.
١٥. په سر سبزو شنو درو کښی، په جاری ډکو شهلو کښی،
١٦. د ډ برو له بېخو نه، له خوږو سپینو چینو نه...
١٧. چه سپین باز غوندی پرواز کړم؛ (چه) د سپین غره نغمه آغاز کړم.
١٨. په نغمه کښی می شرر را (کړه). مسیحا غوندی اثر را (کړه)،
١٩. چه دا مړ قوم بیا ژوندی کړم؛ ورته هیښ خپل او پردی کړم؛
٢٠. له ذلته او د غرور له بد غفلته یې خلاص کړم؛

BEST COPY AVAILABLE

۲۱. (چه) لږ تکان وخوری (او) بیدار شی؛ د خپل ژوند په کاروبار شی؛
۲۲. (چه) په دې پوه شی چه ژوندون اوس بل رنگه افسون غواړی؛
۲۳. (څوك) په وینا نه خلاصیږی؛ د بابا په مړانه څوك (نه خلاصیږی).
۲٤. تر څو به خلك په خپل پلار فخرکوی، یا په خپل تبار فخرکوی.
۲۵. ولاړی، ولاړی، هلا کښیږی. که مغرور شوې تبا کیږی.
۲٦. ساقی! پاڅه، پیاله را کړه. وینا می له اوره ډکه کړه!
۲۷. چه ددې غره په لمن کښې، په دې لوی دښت او دمن کښې،
۲۸. په آواز می زلمی راشی، بیا د سپین غره شاو خوا شی.
۲۹. پښتنی جرگې ، غوندی(شی)، مرکې یې هر ځای پوندی(شی)؛
۳۰. په یو زړه، په یوه خوله شی؛ یو له بله سره مله شی؛
۳۱. دا خراب کور بیا ودان کړی؛ په دنیا کښې ځان ښکاره کړی؛
۳۲. بېله فرقه یو ملت وی؛ بیلتون نه وی، ټول وحدت وی؛
۳۳. و سپین غره ته له اسمانه د نیکه روح گویانه شی:
۳٤. «دلته دغرو لمنی دی. زمونږ کیږدی پکښې پلنی دی.
۳۵. خدایه! دا وگړی ډیر کړی، لویه خدایه، لویه خدایه!!

3. In our copy of the poem, the conjunction او is frequently spelled و.

Notes for Detailed Rereading

1. جگی جگی in line 1 translates best as something like "I wish I wish' or 'pretty please'.

2. Line 2: ستا له سره سپلنی شم is an idiom translating literally as 'I will become rue from you', and figuratively as "I will sacrifice myself for you.' سپلنی is the herb rue; the smoke it produces when it is burned is considered to have the power to blind the Evil Eye or expel evil spirits (although it did nothing for Durkhanay in the last unit). سرو سترگو in the same line is literally 'red eyes', idiomatically 'drunken eyes'.

3. The adjective بې درد is usually بې درده. The Pashto adjective is formed from the preposi-tional phrase with the pre-postposition بې ... ه. The result is recast as an adjective which is most of the time an adj 4. Sometimes, however, the ه ending is re-interpreted as a feminine ending, and the adjective behaves, in feminine contexts, like an adj 1. So for some speakers adjectives like بې درده have the following forms:

MDSg: بې درده *FDSg:* بې درده

MDPl:	بې درده	*FDPl:*	بې دردې
MOSg :	بې درده	*FOSg:*	بې دردې
MOPl:	بې درده	*FOPl:*	بې دردو

3. The phrase تر تا وګرزم in line 12 is an idiom meaning something like 'may I be your sacrifice'.

4. The phrase ینه ... یخه شي- in line 13 translates literally as 'one's liver becomes cold'; idiomatically, it translates as 'one is satisfied'. The phrase also occurs with one's heart.

5. Lines 21 and 22 contain the same message as Benawa's د خاندان خولۍ in Unit 1.

6. The reference to زلمی in line 28 has a double meaning. Benawa belonged to a political party called [wix zalmyān] ویښ زلمیان, 'awakened youth'.

7. The phrase و سپین غره ته in line 33 is a prepositional phrase. The double preposition
و ... ته is the Kandahar equivalent of Kabul ... ته .

8. The last two full lines are a quotation from the fourth (Islamic) century poet Bitnika, who supposedly sat under a tree on Spin Ghar repeating this prayer.

Post-reading

۱. بېنوا د «سپین غر» په شعر کې له ساقي نه څه غواړی؟

۲. شراب ولی غواړی؟

۳. بېنوا په خپله نغمه کې شور ولې غواړی؟

٤. کله چه بېنوا وایی «د نیکه روح شی ګویانه» مطلب یې څوک دی؟

٥. د بېنواددې شعر دوه وروستي بیتونه د بیټ نیکه دی که د
کوم بل چا؟

٦. د «کوهستان شفق» شعر کی سکندر او بګرام څه ارتباط سره لری؟

۷. د کربلا په میدان کې څه پېښ شوی وو؟

Selection D

حمزه شینورا

١. بی شکه ما دغه خطا کړی ده   چه تا جفا کړه ما وفا کړی ده
٢. نن می په عمر ستا رضا کړی ده   چه می خپل مرگ لره دعا کړی ده
٢. تا که د ظلم انتها کړی ده   ما په تسلیم کښی ابتدا کړی ده
٤. دا چه سم سم را ته نظر نه کوی   ښکاری چه تا می د زړه غلا کړی ده
٥. ژاړم په دا چه ته خندا نه کوی   خاندی په دا چه ما ژړا کړی ده
٦. تا تماشه د تماشو کړه په بام   ما تماشه د تماشا کړی ده
٧. کومه وعده د ما دروغ گڼلی   کومه وعده دی په رښتیا کړی ده
٨. ما پریشان په زنځیر کلك اوتړی   د تورو زلفو می سودا کړی ده
٩.   چه خپل غزل د چا نه واورم حمزه
وایم چه چا هسی وینا کړی ده

Pre-reading

Background

Hamza Shinwaray is not the Dost Shinwaray who wrote the *adabi parcha* in Unit 1. Hamza, the 'father of the contemporary Pashto ghazal' is now in his eighties. He was born in the Lwaṛga area in the Khyber Pass; a self-educated man, he is well-known as a poet and writer.

Our copy of this poem (note that *ghazals* frequently don't have titles) is on page 25 of [ghazawáne] غزونی, 'Stretching', a collection of Hamza Shinwaray's poems published in Pakistan in 1956.

Key vocabulary

beginning *n, F3.* [ibtidā́] ابتدا
undoubtedly *adv.* [be sháka] بی شکه
surrender *n, M2.* [taslím] تسلیم
cruelty *n, F3.* [jafā́] جفا
smile, act of smiling *n, F3.* [khandā́] خندا
consent *n, F3.* [razā́] رضا
straight *phr.* [sám sam] سم سم
transact *phr.* [sawdā kaw-́] سودا کو-
لره [lará] = له پاره
promise *n, F1.* [wādá] وعده

Scanning hints

1. Identify the rhyme scheme and the syllable structure of the *ghazal.*

2. The substance of the *ghazal* in normal Pashto, with elided words restored and normal punctuation:

١. ما بی شکه دغه خطا کړې ده، چه تا جفا کړه، ما وفا کړې ده.
٢. نن می په عمر ستا رضا کړې ده، چه می خپل مرگ لره دعا کړې ده.
٢. که تا د ظلم انتها کړې ده، ما په تسلیم کښې ابتدا کړې ده.
٤. چه سم سم نظر نه را ته کوی،(دا) ښکاری چه تا می د زړه غلا
کړې ده.
٥. ژارم په دا چه ته خندا نه کوې؛ خاندی په دا چه ما ژړا کړې ده.
٦. تا په بام د تماشو تماشه کړه؛ ما دی تماشه تماشه کړې ده.
٧. ما دې کومه وعده دروغ گڼلی ده؛ کومه وعده دی په رښتیا
کړې ده؟
٨. ما، پریشان، په زنځیر کلك اوتړی؛ د تورو زلفو می سودا
کړې ده.
٩. حمزه، چه خپل غزل د چا نه واورم، نو وایم چه چا هسی وینا
کړې ده.

Notes for Detailed Rereading

1. The phrase دا چه in line 4 translates in prose as 'the fact that...'

2. سم سم ...ته نظر کو- in line 4 is to look someone straight in the eye.

3. There are two forms of the word for 'cry' in line 5. ژړ- is one of the few 'impersonal transitive' verbs (see Unit 17, *Intermediate Pashto* , for a description of these verbs). The gramatically ordinary phrase ژړا کو- appears to be replacing it.

4. Line 6 is a play on the word تماشه, which means entertainment, show, performance, and observation. The poet's lover watches the entertainment from the roof, i.e. she detaches herself, while the poet observes the observation.

5. The last line includes the poet's name, a tradition in *ghazals.* The poet stands in awe of his own work, much as Baba Rahman did (see Unit 5, Selection D).

١. تل به په لار د میړنو سره ځم   یمه پښتون د پښتنو سره ځم
٢. د ملیت نمره د پرخی پځیر   ستا ددی شوخو پلوشو سره ځم
٣. دا چه خرد هم په ملت ځاروی   زه د هم داسی لېونو سره ځم
٤. پام کوه زه هغه نظرنه یمه   چه به په دود د سپېلنو سره ځم
٥. وائی اغیار چه د دوزخ ژبه ده   زه به جنت ته د پښتو سره ځم
٦. راستنیدی چه نشی وخت خو نه یم   خو د حالت د تقاضو سره ځم
٧. کړم جهان چه د پښتون ځلمی   د خپلو پېغلو حوصلو سره ځم
٨. وړم مستقبل ته د ماضی روایات   زه د خپل حال د ولولو سره ځم
٩. ځو چه را غوند په یو مرکز ئی نه کړم   هری تپی ته د جرگو سره ځم
١٠. حمزه سفر که د حجاز وی نو هم
زه د پښتون د قافلو سره ځم

Pre-reading

Background

This popular *ghazal* has been recorded with music. Our copy comes from p. 56 of غزونی.

Key vocabulary

hill	*n, M2.*	[dozákh]	دوزخ
come back	*der. int. vb.*	[rāstanég-]	راستنېږ-
stories	*n, M2. Ar pl.*	[rawāyāt]	روایات
bright, naughty, facetious	*adj 1.*	[shokh]	شوخ
past	*n, F2.*	[māzí]	ماضی
center	*n, M2.*	[markáz]	مرکز
future	*n, M2.*	[mostaqbál]	مستقبل
liveliness, excitement	*n, F1.*	[walwalá]	ولوله
enemy	*n, M1.*	[aghyār]	اغیار
requirement	*n, F1.*	[taqāzā]	تقاضا
appeal	*vb.phr.*	[jərgá kaw-]	جرگه کو-
heaven	*n, M2.*	[janát]	جنت
patience	*n, F1.*	[ħawselá]	حوصله
wisdom	*n, M2.*	[khɪrád]	خرد
sacrifice	*der. tr. vb.*	[dzāraw-́]	ځارو-
smoke	*n, M2.*	[dud]	دود

Scanning hints

1. Identify the *ghazal* form from the rhyme scheme and the syllable structure.

2. The poem, with normal word order, punctuation, and elided words restored:

۱. تل به په لار د میړنو سره ځم. پښتون یمه، د پښتنو سره ځم.
۲. د ملیت نمره! د پرخی پخیر ستا ددی شوخو پلوشو سره ځم.
۳. دا چه خرد هم په ملت ځاروی، زه د هم داسی لېونو سره ځم.
٤. پام کوه: زه هغه نظرنه یمه چه به په دود د سپېلنو سره ځم.
٥. اغیار وائی چه (دا) د دوزخ ژبه ده؛ زه به جنت ته د پښتو سره ځم
٦. وخت خو نه یم چه راستنیدی نشی؛ خو د حالت د تقاضو سره ځم.
۷. چه د پښتون جهان ځلمی کړم، د خپلو پېغلو حوصلو سره ځم.
۸. مستقبل ته د ماضی روایات وړم. زه د خپل حال د ولولو سره ځم.
۹. ځو يې چه په یو مرکز را غونډ نه کړم، هری تپی ته د جرگو
سره ځم.
۱۰. حمزه! سفر- که د حجاز وی- نو هم زه د پښتون د قغلو سره ځم!

3. Throughout the poem, د ... سره = له ... سره

Notes for Detailed Rereading

1. د دوزخ ژبه in line 5 is a negative comment on the Pashto language.

2. Line 6: وخت خو نه یم 'I am not time (that I can't go backwards)'

Post-reading

۱. حمزه په اول شعر کې وایی: «ما خطا کړې ده.» څه خطایې کړې ده؟
۲. حمزه ولی ژاړی او یار یې ولی خاندی؟
۳. حمزه چه خپل غزل له چا نه واوری څه وایی؟
٤. پښتو څوک د دوزخ ژبه بولی؟
٥. حمزه هرې تپې ته ولې له جرگو سره ځی؟

Selection E

جهانی

دروغجنه مینه

۱. درته یادېږي هغه سره گلونه
۲. چې دې اوبو کې ایښودل په مینه
۳. تر سترگو لاندې دی کتله راته
٤. تا ویل دا به زموږ د مینې او گرانښت شاهد وی
٥. یوه گړۍ وروسته مې
٦. غېږ ته راولوېدې
۷. خوره وره سوې
۸. او مچولم دی، کښې کښلم دی
۹. زېښلم دی هم
۱۰. شپه تر سهاره یو د بل په غېږ کې اوښتلو
۱۱. راته یادېږی دې زگېروي
۱۲. او خوبولی ستر گې
۱۳. شپه وه سهار سوله رخصت مې سوی
۱٤. له سترې غېږې
۱٥. ته پوهېدې چې بیا به ونه وینو
۱٦. زه پوهېدم چه راستنه به نه سی
۱۷. را ته دې پرېښودل څو مړاوي او خزان گلونه
۱۸. هسې بې روحه او خزانې پاڼې
۱۹. لکه احساس د دورغجنی مینې
۲۰. لکه پلمې د هېرو سوو وعدو

کوئته
۱۱_۱_۱۹۸۸

Pre-reading

Background

Abdul-Bari Jihani was brought up in Kandahar, and is a graduate of the Faculty of Letters at Kabul University. By the time of the Soviet invasion of Afghanistan, he was a well-established poet in Kabul, and was forced by circumstances to leave Afghanistan. After some time in Peshawar and Denmark, he moved to the United States, and now (1992) lives in Washington, D.C.. The poems here are taken from a collection of his poetry entitled ورک مېنه ('Lost Home'), which was published in Pakistan in 1989. The poems in this collection are on the subjects of *jihad* and love, and include various kinds of rhymed poetry as well as free verse. The two poems reprinted here are free verse, to give you an idea of the Pashtun use of this form.

Key vocabulary

moan	*n, M2.*	[zgerwáy]	زگېروی
return	*der. int. vb.*	[staneg-́] -	ستنېږ-
embrace, arm	*n, F1* - [a]	[gheg]	غېږ
affection	*n, M2.*	[grānáxt]	گرانښت
moment	*n, F2.*	[gaṛáy]	گړی
fall	*smp. int. vb.*	[lweg-́] -	لوېږ
kiss	*der, tr. vb.*	[machaw-́] -	مچو-
promise	*n, F1.*	[wādá]	وعده
roll around	*smp. irreg. vb.*	[awṛ-́] -	اوړ
spiritless	*adj 4.*	[berúña]	بې روحه
excuse	*n, F1.*	[palmá]	پلمه
dry, lifeless	*adj 1.*	[khazā́n]	خزان
careless	*phr.*	[khwará wará]	خوره وره
false	*adj 1.*	[droghján]	دروغجن
leave	*der. int. vb.*	[rokhsatég-] -	رخصتېږ
suck	*smp. tr. vb.*	[zbex-́] -	زبېښ-

Scanning hints

1. In this poem, the poet (who comments that the poem reflects an actual experience of his) compares what seems to have been a one-night stand with some flowers left behind by the poet's lover.

The word order in the poem is closer to normal spoken Pashto than it is in rhymed poetry. Deviation from the ordinary subject-object-verb order is for emphasis, e.g. the first line, which translates nicely as a sentence in English in which the subject has been postposed: 'They remind me of you, these red flowers'

Notes for Detailed Rereading

1. The adjective دروغجنه in the title is دروغژن: [droghzə́n] in the Kabul dialect, [dərwāghzhə́n] درواغژن in the Kandahar dialect. The spelling in the original with the جـ might reflect the calligrapher's pronunciation.

2. The phrase تر سترگو لاندي in line 3 translates idiomatically (and un-poetically) as 'with half-open eyes'. The effect of the phrase is that she glanced up at him from the flowers in a graceful and alluring way.

3. کښکاږ- in line 8 is a messy verb. In the Kandahar dialect it is spelled and pronounced as follows:

Pres. imp.	[kshekāzh-́] - کښېکاږ	*Pres. prf.*	[kshékāzh-] - کښېکاږ
Pst. imp.	[kshekshow(əl)-́] - کښېکښو	*Pst. prf.*	[kshéksho(əl)-] - کښېکښو

رسوا رازونه

١. هېرې به مې نه سي چې دې غتې سترگې پورته کړلې
٢. پاس دې آسمان ته کتل،
٣. او راروانې دې سوی اوښکې پر مخ
٤. ورپسې نورې راغلې
٥. د مرغلرو د کاروان په رسم
٦. وخوځېدې
٧. او د گرېوان آشنا مزل يې واهه
٨. ما په حيرت ـ حيرت کتله ورته
٩. هغه گړۍ هرڅه رسوا سوه هر څه وسپړېده
١٠. د نمکۍ خندا افسون څه پتولای نه سو
١١. هر څه دې وويله،
١٢. په هر څه وپوهېدم
١٣. خو زه بې وسه وزر وچه مرغه
١٤. زه د تقدير قفس تړلی ومه
١٥. زه ستا پر لور د الوتلو نه وم
١٦. ځکه مې اوښکې پا کولای نه سوای
١٧. ځکه مې تشه ننداره کوله.

کوئته
١٩٨٨_٢_١١

Pre-reading

Background

Jihani says that this poem also reflects an actual experience of his in one of the European countries.

Key vocabulary

charm, magic	*n, M2.*	[afsún]	افسون
fly	*smp. irreg. int. vb.*	[áluz-]	الوز
familiar	*adj 4.*	[ashnā́]	آشنا
weak, powerless	*adj 4.*	[bewása]	بې وسه
clean	*der. tr. vb.*	[pākaw-́]	- پاکو
raise up	*phr.*	[porta kaw-́]	- پورته کو
like	*phr. w/* د	[pə rásəm]	په رسم
empty, only	*adv.*	[tə́sha]	تشه
fate, destiny	*n, M2.*	[taqdír]	تقدیر
surprise, perplexity	*n, M2.*	[hayrát]	حیرت
secret	*n, M2.*	[rāz]	راز
revealed	*adj 4.*	[roswā́]	رسوا
open up	*smp. int. vb.*	[sparég-]	- سپړېږ
cage	*n, M irreg.*	[kafás]	قفس
direction	*n, M2.*	[lor]	لور
pearl	*n, F1.*	[marghalə́ra]	مرغلره
bird	*n, M1 .*	[mərghə́]	مرغه
travel	*phr.*	[mazal wāh-́]	- مزل واهـ
delicious, salty	*adj 4.*	[namakí]	نمکی
watch	*phr.*	[nandāra kaw-́]	- ننداره کو

Scanning hints

1. This poem is a gentle protest, possibly about Pashtun (or any society's, for that matter) social strictures that stifle love.

2. The poet occasionally spells the participle endings ـلای- cf. lines 10 and 16.

Notes for Detailed Rereading

1. نمکی in line 10 is normally *adj 4*. Jihani has made it feminine.

2. The word [lóray] لوری 'direction' (*n, M3*) is used interchangeably with [lor] لور in line 15.

3. Pashtun children know that when you catch a bird and play with it, it becomes exhausted and unable to fly, i.e. وزر وچه as in line 13.

Post-reading

١. چا غټې سترگې پورته كړې او اسمان ته يې وكتل؟

٢. څه شی د مرغلرو د كاروان په شان وخوځېد ؟

٢. اوښكو ته چا په حيرت وكتل؟

٤. څوك د تقدير په قفس كې تړلی ؤ؟

٥. سر ه گلونه چا په اوبو كې كېښودل؟

٦. د شاعر معشوقه د چا غېږې ته ورولوېده ؟

٧. د شاعر معشوقه د هغه له غېږې نه څه وخت رخصت شوه ؟

٨. د شاعر معشوقې هغه ته څه شی پرې ښودل؟

From the joke book:

يوه گاونډی ته بل گاونډی شكايت كوی چه ستا زوی ما ته كنځل اوكړه او په كانی ئی وويشتلم.

گاونډی: ته په كانی ولگيدی؟

گاونډی: نه، بچ شوم.

گاونډی خاندی. هغه زما زوی نه دی بل څوك دی. زما د ځوی كانی خطا نه ځی.

بچ شوم	I escaped *phr.* [bách swəm]
خطا	astray *adv.* [khatā̆]
شكايت كو-	complain *phr.* [shɪkayát kaw-]
كانی	stone, rock *n, M3.* [kā̆ṇay]
كنځل كو-	curse *phr.* [kandzə́l kaw-]
ول - [wel-] ويشتل-	hit *dbl. irreg. vb. Pst. form* [wisht(ə́l)-]

Selection F

محمد جی

د محمد جی چاربیته

سروکی:
١. بېګا مې دی سیل کړی په بازار د تورو زلفو
٢. زه ګډ لکه بورا شوم په ګلزار د تورو زلفو

٢. بېګا مې دې سیل کړی ستا دزلفو په باغچه کې
٤. زه ګډ لکه بورا شوم د انارو په چرچه کې
٥. ښخ مې کړل غاښونه دې نری زنې سوچه کې
٦. بل بوی مې کړ د شا د غاړی هار د تورو زلفو
سروکی...

٧. چه هار دې زما بوی کړ یاره ته پری مست بنګی شولی
٨. اوده لکه بهرام د سر آسیا په پالنګی شولی
٩. اخر به دې ځوك مړ کړی غل ما په اننګی شولې
١٠. اوس ډېر درته قهرېږی ځوکیدار د تورو زلفو
سروکی...

١١. ډېر راته قهرېږی وړې رب به مې ساتی کنه
١٢. ته را لره سم کړه د اوږدو زلفو لختی کنه
١٢. سپینه خوله دې راکړه موړ مې کړه لکه طوطی کنه
١٤. یو خله مې ګډ کړه په انبار د تورو زلفو
سروکی...

١٥. تا به کړم داخل یاره د سپینی سینی باغ کې
١٦. ته به شی یاغی له ما به گرځی په دماغ کې
١٧. سپین مخ چه را ښکاره کړم رڼا ورکه شی چراغ کې
١٨. ربه راله راکړې ښه سینگار ذ تورو زلفو
سروکی...

١٩. رب در له درکړی دی ډهر حسن بې شماره
٢٠. نظر وکړه نیاز بینې هم بهی نوکرهی تمهاره
٢١. پرون مې صحبدم درته لیږلی وه ریباره
٢٢. په زړه باندې چیچلی یم ښامار د تورو زلفو
سروکی...

٢٢. ښامار به در له دم کړمه وړوکیه وده داره یم
٢٤. زه زهیر کم بخته مگر ستا په پټ کې پاره یم
٢٥. ځه چه ځو پکهلی نه زه موزی ځنی بهزاره یم
٢٦. ما ټول درله درکړی دی اختیار د تورو زلفو
سروکی...

٢٧. اختیار د محمدجی دی د پکهلی په شاعرانو کې
٢٨؟ مثال یې چهرې نشته د خپل وخت په عاشقانو کې
٢٩. کلنگ یې که جاری اوس د ډیلی په امیرانو کې
٢٠. ملك یې کړ رعیت چلوی بار د تورو زلغو
سروکی...

Pre-reading

Background

This ballad is an interesting example of Pashto folk poetry, and is included here - although it is not "modern Pashto" - because something is known of its history. It was translated and included in an essay titled 'Afghan Life in Afghan Song' published in the

magazine *Contemporary Review* some time in the latter part of the 19th century by the French scholar James Darmesteter.

Darmesteter's original purpose in going to the Northwest Frontier Province was to determine whether the Pashtuns were Jewish. (There was a controversy raging in ethnographic and linguistic circles at the time as to whether the Afghans, i.e. the Pashtuns, were Jewish - possibly the Lost Tribes of Israel - , and a great deal of scholarly effort went into the search for evidence that they were Semitic in origin.) Darmesteter got interested in the Iranian languages, and eventually demonstrated convincingly that Pashto is related to the ancient Avestan language, and is therefore an Indo-Aryan rather than Semitic language.

Darmesteter collected numbers of Pashto songs, which he published (Paris, 1888-90) in a double book, the left-to-right side of which was *Chants Populaires des Afghans* , in French, and the right-to-left side of which was in Pashto, titled د پښتو نخوا د شعر هاروبهار and consists of written texts in Pashto of the songs Darmesteter collected.

The original Pashto of the ballad is included in د پښتو نخوا د شعر هاروبهار, a facsimile of which was published by the Pashto Academy in 1977 . Our Pashto copy of the ballad is from this Pashto Academy facsimile of the original.

Here are Darmester's comments on and translation of the ballad from 'Afghan Life in Afghan Song', which was reprinted in *Selected Essays of James Darmesteter,* (translations by Helen B. Jastrow, edited with an introductory memoir by Morris Jastrow, Jr. Boston, NY: Houghton, Mifflin and Co., 1895) :

> 'I shall give only one other ghazal, which derives a particular interest from the personality of its author, as well as from a touch of reverie and quaint lunacy, rarely met in Afghan poetry. When I visited the prison of Abbottabad, in company with the assistant-commissioner, Mr. P., I saw there a man who had been sentenced to several months imprisonment for breaking a Hindu's leg in a drunken brawl. The man was not quite sane; he told Mr. P. that he was not what he was supposed to be; that he was a king, and ought to be put on the *gadi*. His name was Mohammadji. Next day I was sur-prised to hear from a native that Mohammadji was a poet, an itinerant poet from Pakli, who more than once had been in trouble with justice, for he was rather a disorderly sort of poet. Here is a ballad, written by the prisoner, and which is quite a little masterpiece, "in a sensuous, elementary way - half Baudelaire, half Song of Solomon":
>
> "Last night I strolled through the bazaar of the black locks; I foraged, like a bee,
> in the bazaar of the black locks.
> Last night I strolled through the grove of the black locks; I foraged, like a bee,
> through the sweetness of the pomegranate.
> I bit my teeth into the virgin chin of my love; then I breathed up the smell of the
> garland from the neck of my Queen, from her black locks.
> Last night I strolled in the bazaar of the black locks; I foraged...
> You have breathed up the smell of my garland, O my friend, and therefore you are
> drunken with it; you fell asleep, like Bahram on the bed of Sarasia. Then

thereafter there is one who will take your life, because you have played the thief upon my cheeks. He is so angry with you, the *chaukidar* of the black locks.
Last night...

"Is he so angry with me, my little one? God will keep me, will he not?
Stretch out as a staff, they long black locks, wilt thou not?
Give me up thy white face, satiate me like the Tuti, wilt thou not?
For once let me loose through the granary of the black locks.
Last night...

"I shall let you, my friend, into the garden of the white breast.
But after that you will rebel from me and go scornfully away.
And yet when I show my white fact the light of the lamp vanishes.
O Lord! give me the beauty of the black locks.
Last night ...

"The Lord gave thee the peerless beauty. Look upon me, my enchanting one! I am thy servant.
Yesterday, at the dawn of day, I sent to thee the messenger. The snake bit me to the heart, the snake of thy black locks.
Last night...

"I will charm the snake with my breath; my little one, I am a charmer.
But I, poor wretch, I am slandered in thine honor.
Come, let us quit Pakli, I hold the wicked man in horror.
I give to thee full power over the black locks.

"Mohammadji has full power over the poets in Pakli.
He raises the tribute, he is one of the Emirs of Delhi.
He rules his kingdom, he governs it with the black locks.
Last night I strolled through the bazaar of the black locks; I foraged, like a bee, through the bazaar of the black locks."

Poor Mohammadji, as you may see from the last stanza, was already seized with the mania of grandeurs before he entered the prison at Abbottabad, though he dreamed as yet only of poetical royalty. If these lines ever reach Penjab, and find there any friend of poetry amongst the powers that be, may I be allowed to recommend to their merciful aid the poor poet of Pakli, a being doubly sacred, a poet and a *divana,* [= لېونی !] and one who thus doubly needs both mercy for his faults and help through life. (pp. 131-135).

The original script of the ballad contains many mistakes in both grammar and spelling. We have corrected the more obvious errors and misprints. It is possible - if not probable - that the poet Mohammadji was not a native speaker of Pashto. Half of line

20 of the ballad is in Urdu, and Paklay, from which Mohammadji presumably came, is predominately Urdu-speaking. Darmesteter on the subject: 'The *dum* [دم] ... is not a Pathan by race, though he has been *pathanized:* he is a low sort of creature, whom the Khans and Sardars treat as the medieval barons might have treat the itinerant *Jongleur* - despised, insulted, honored, liberally paid, intensely popular amongst the people.' (p. 110)

Key vocabulary

authority	*n, M2.*	[ikhtiyār]	اختيار
emir, ruler	*n, M1.*	[amír]	امير
pile, store,	*n, M2.*	[anbār]	انبار
cheek	*n, M3.*	[anangáy]	اننگی
authority	*n, M2.*	[bār]	بار
little garden	*n, F1.*	[bāghchá]	باغچه
hashish smoker	*n, M1.*	[bangí]	بنگی
smell, inhale	*der. tr. vb.*	[buyaw-́]	بويو-
countless	*adj 4.*	[be shumāra]	بې شماره
fed up with, sick of	*adj 4.*	[bezāra]	بېزاره
bed	*n, M3.*	[palangáy]	پالنگی
area in Pakistan.	*n, F2.*	[pakláy]	پکهلی
raise (tribute)	*phr.*	[jāri kaw-́]	جاری کو-
lamp	*n, M2.*	[cherāgh]	چراغ
enjoyment	*n, F1.*	[charchá]	چړچه
bite	*smp. tr. vb.*	[chich-́]	چيچ-
guard	*n, M1.*	[tsawkidār]	څوکيدار
cause to enter	*der. tr. vb..*	[dākhəlaw-́]	داخلو-
scorn	*n, M2.*	[damāgh]	دماغ
charm, mesmerize	*phr.*	[damaw-́]	دمو-
Delhi	*n, M2.*	[ḍiláy]	ډيلی
expose	*der. tr. vb.*	[rāxkāraw-́]	را ښکارو-

subjects	*n, M irreg.*	[raʔiyát]	رعيت
miserable	*adj 1.*	[zahír]	زهير
heroine	*n, F3.*	[sarāsyā]	سرآسيا
pure, virgin	*adj 4.*	[suchá]	سوچه
enjoy	*phr.*	[sayl kaw-́]	سيل کو-
beauty	*n, M2.*	[singār]	سينگار
beloved	*n, M1.*	[shā]	شا
dragon, king snake	*n, M1.*	[xāmār]	ښامار
early morning	*n, M2.*	[sohbodám]	صحبدم
lover	*n, M1.*	[ashéq]	عاشق
get angry	*der. int. vb.*	[qahrég-]	قهرېږ-
unfortunate	*adj 4.*	[kambákhta]	کم بخته
you should know	*phr.*	[kaná]	کنه
go into	*der. int. vb.*	[gaḍég-]	گډېږ-
lock (of hair)	*n, M3.*	[lakhtáy]	لختی
satisfy	*der. tr. vb.*	[maṛaw-́]	مړو-
respected		[nyāzbína]	نياز بينه
charm, talisman	*n, F1 .*	[udá]	وده
user of charm	*n, F1.*	[udadāra]	وده داره
baby, little one		[waṛúkya]	وړوکيه
garland, lei	*n, M2.*	[hār]	هار
rebel	*n, M1.*	[yāghí]	ياغی

Scanning hints

1. The Pashto folk ballad - the [chārbáyta] چاربیته - has a rigid rhyming and line structure: First, a refrain - a [sarukáy] سروکی - consisting of two lines which rhyme. Then any number of stanzas, each of which has three lines which rhyme, and then a fourth line which rhymes with the two lines of the refrain. In performance, the refrain is repeated after every stanza.

This *charbayta* is a dialogue. The first, third, fifth and seventh stanzas are the boy (or the poet!) speaking; the second, fourth and sixth are the girl speaking.

2. The second line of the last stanza is omitted in the original, as you can see by comparing the lines of the previous stanzas. It is missing in Darmesteter's translation as well. Tegey has reconstructed a possible Pashto line, which is marked with a question mark.

3. Word order has been sacrificed to the rhyme scheme. Here are the lines with normal Pashto word order:

١. بېگا مې د تورو زلفو په بازار (کې) سیل کړی دی.
٢. زه لکه بورا د تورو زلفو په گلزار گډ شوم.

٣. بېگا مې ستا دزلفو په باغچه کې سیل کړی دی.
٤. زه لکه بورا د انارو په چړچه کې گډ شوم.
٥. غاښونه مې دې سوچه نری زنه کې ښخ کړل.
٦. بل مې د شا د غاړی د تورو زلفو هار بوی کړه.

٧. یاره! زما هار دې چه بوی کړ ته پری مست بنگی شولی.
٨. لکه بهرام د سر آسیا په پالنگی ویده شولی.
٩. ځوك به دې اخر مړ کړی. زما په اننگی غل شولې.
١٠. د تورو زلفو ځوکیدار اوس ډېر درته قهرېږی.

١١. ډېر راته قهرېږی وړې، رب به مې ساتی، کنه.
١٢. ته د اوږدو زلفو لختی را لره سم کړه، کنه.
١٣. سپینه خوله دې راکړه، مې موړ کړه لکه طوطی، کنه.
١٤. یو ځله مې د تورو زلفو په انبار گډ کړه.

BEST COPY AVAILABLE

۱۵. یاره، تا به د سپینی سینی باغ کې داخل کړم،
۱۶. ته به له ما یاغی شی، (او) په دماغ کې به گرځی.
۱۷. سپین مخ چه را ښکاره کړم، (په) چراغ کې رڼا ورکه شی.
۱۸. ربه! د تورو زلفو ښه سینگار راله راکړه!

۱۹. رب، ډېر بې شماره حسن در له درکړی دی.
۲۰. نیاز بینې، نظر وکړه! !هم بهی هین نوکر تمهاره!
۲۱. پرون مې صحبدم ریباره در لیږلی وه.
۲۲. د تورو زلفو ښامار په زړه باندې چیچلی یم.

۲۳. ښامار به در له دم کړمه. وړوکیه، وده داره یم.
۲۴. زه د هیر کم بخته مگر ستا په پټ کې پاره یم.
۲۵. څه چه پکهلی نه څو زه موزی ځنی بېزاره یم.
۲۶. ما د تورو زلفو ټول اختیار درله درکړی دی.

۲۷. د پکهلی په شاعرانو کې، اختیار د محمدجی دی.
۲۸. هیڅ مثال یې د خپل وخت په عاشقانو کې، نشته.
۲۹. اوس یې د ډیلی په امیرانو کې کلنگ جاری که.
۳۰. ملك یې رعیت کړ، د تورو زلفو بار چلوی.

4. In the poet's dialect, له is often used instead of the preposition د.

Post-reading

Compare the original Pashto with Darmesteter's translation. Identify where Darmesteter was using poetic license in his translation, and sections where his interpreter's English was probably not adequate to the task.

۱. شاعر چېرته سیل کړی دی؟

۲. شاعر خپل غاښونه څه شی کې خښ کړل؟

۳. شاعر ته څوك قهرېږی؟

٤. څوک وايی چه شاعر به د سپينی سينې باغ کې داخل کړی؟

٥. څه شی شاعر په زړه باندې چيچلی دی؟

٦. د شاعر معشوقه له چا نه بېزاره ده؟

٧. په پښتنی ټولنه کې موزيګی چا ته ويل کيږی؟

٨. چا د ډيلی په اميرانو کلنګ جاری کړی دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. The suffix -چه as in باغچه in line 3 is a diminutive, as in کتابچه.

2. ښا in line 6 is a masculine noun (it is also ordinarily spelled شاه) and usually refers to males. In this context, however, it clearly refers to the girl.

4. Line 8: بهرام and سرآسيا are the hero and heroine, respectively, of romances like *Adam Durkhanay* in Unit 3.

5. In line 9, ځما = زما and په اننگی = د اننگی

6. The څوکيدار mentioned in line 10 is, of course, the girl's husband, who is mentioned later on as well.

7. ورې in line 11 is the vocative feminine form of وړه which means both 'small' and 'child'. In this context it translates exactly parallel to English use of the term 'baby' in romantic contexts.

8. The word کنه that ends the lines of the third verse translates somewhat like the phrase 'y'know' that many American English speakers use as a filler.

9. The parrot mentioned in line 13: In Pashtun areas, parrots were (are) kept as pets, and it is considered fun to make a special sweet mix for them called [mālidá] ماليده, and hand-feed it to them, much as westerners enjoy spoiling their dogs by feeding them treats.

The word طوطی is also the word for 'nightingale' (Pashtuns also use the phrase شين طوطی)

10. Line 16: in other words, she is afraid he won't respect her in the morning.

11. نیاز بینه in line 20 is in the vocative form. It's not a Pashto word; given the many 'transcription mistakes in the original, it is impossible to tell whether the word started out as the Persian word [nazamína], which means something like 'coquette', or a variation on the Pashto word [nyāz] نیاز 'forebearance'. There is also the possibility that it is a dialectal form of the word [nyāzmán] نیازمن., which means 'respected', 'popular' or 'beloved'.

12. Line 20 is mostly non-Pashto. هم بهی هین نوکر تمهاره is literally 'I am your servant' in Urdu....

13. ستا په پټ کې پاره يم in Line 24: she is maintaining the boy's honor - not to mention her own - by keeping quiet about their relationship. It's not clear whether the phrase زهیر کم بخته refers to the girl herself or the boy.

Speaking of nightingales:

په شینکی باغ کی دې خوله راکړه
که ته منکره شین طوطی شاهد لرمه

deny *der. int. vb.* [mankəreg-] - منکرېږ
witness *n, M1.* [shāhéd] شاهد

Answers to Unit 4 Exercises

Selection A.

١. منګۍ د ګودر غاړې ته یوې پېغلې راوړی ژ.
٢. په کوڅو کې ځکه خوشحالی شوه چې یو لیونی را پیدا شو.
٢. الفت د «انسان» په شعر کې ټول حیوانات د انسان تابع بولی.
٤. الفت دا خبره ځکه کوی چې ویل کیږی ټول حیوانات د سلیمان
تابع وو اوسلیمان انسان ژ.
٥. ایاز د غزنوی سلطان محمود ډیر ښایسته غلام ژ.
٦. «زما خوب» اساساً سیاسی شعردی. خو الفت د عشقی شعر رنګ
هم ورکړی دی.
٧. الفت پدې شعر کې د وطن د ابادی او د خلکو د ازادی هیله
کوی.

Selection B.

١. غنی خان پدې شعر کې د وطن دپاره ازادی او ابادی غواړی.
٢. غنی خان خپل عزت او نوم د وطن په عزت کی غواړی.
٢. غنی خان غواړی ددې دپاره ځان دړې وړې کړی چې وطن ودان
کړی.

Selection C.

١. بېنوا له ساقی نه شراب غواړی.
٢. ددې دپاره یې غواړی چې مست شی او د ظلم کور وران کړی
او ټول خلك سره برابر کړی.
په خپله نغمه کې شور ددې دپاره غواړی چې دا مړ قوم را ژوندی کړی.
٣. بېنوا
٤. مطلب یې بیټ نیکه دی.
٥. د بېنوا ددې شعر دوه وروستی بیټونه د بیټ نیکه دی.
٦. سکندر په قدیم افغانستان باندې د یرغل په وخت کې په بګرام
کې یو ښار جوړ کړی ژ.
٧. د کربلا په میدان کې د اسلام د پیغمبر لمسیان وژل شوی وو.

Selection D.

۱. دا خطا يې کړې ده چه يار يې جفا کوله او ده وفا کوله.
۲. حمزه ځکه ژاړی چه يار يې خندا نه کوی او يار يې ځکه خاندی
چه دی ژاړی.
۳. کله چه حمزه خپل غزل له چا نه واوری نو حيران شی او وايی
دا چا ويلی دی.
۴. د پښتنو رقيبان او د ښمن پښتو د دوزخ ژبه بولی.
۵. حمزه هرې تپې ته ددې دپاره له جرگو سره ځی چه پښتانه په
يوه مرکز را غونډ او متحد کړی.

Selection E.

۱. د شاعر معشوقې سترگې پورته کړې او اسمان ته يې وکتل.
۲. اوښکې د مرغلرو د کاروان په لور وخوځېدی.
۳. اوښکو ته شاعر په حيرت وکتل.
۴. شاعر د تقدير په قفس کې ترلی ؤ.
۵. سره گلونه د شاعر معشوقی په اوبو کې کېښودل.
۶. د شاعر معشوقه د شاعر غېږې ته ورولوېده.
۷. د شاعر معشوقه د هغه له غېږې نه سهار وختی رخصت شوه.
۸. د شاعر معشوقې هغه ته څو مړاوی او خزان وهلی گلونه پرېښودل.

Selection F.

۱. شاعر د تورو زلفو په بازار کې سيل کړی دی.
۲. شاعر خپل غاښونه د خپلې معشوقې په نرۍ زنه کې ښخ کړل.
۳. شاعر ته د تورو زلفو څوکيدار قهرېږی.
۴. د شاعر معشوقه وايی چه هغه به د سپينې سينې باغ کې داخل کړی.
۵. د تورو زلفو ښامار په زړه باندی چيچلی دی.
۶. د شاعر معشوقه له موزی نه بېزاره ده.
۷. په پښتنی ټولنه کې موزيگی هغه مېړه ته ويل کېږی چه د ښځی
بد ايسی.
۸. شاعر يعنی محمدجی د ډيلی په اميرانو کلنگ جاری کړی دی.

Unit 5: Public Pashto

Introduction

"Public Pashto" is Pashto that appears on the street: signs, directions, ads, and so on - the sorts of things one sees walking or driving around in a Pashto-speaking area.

The appearance of Pashto in public places has far more to do with the political status of the language than of the language's use in the population. In the Northwest Frontier Province in Pakistan, for example, where the majority of the population is Pashtun, the language is not used in public documents and signs because it has no official status in Pakistan. Even in contexts directly related to Pashto, non-Pashto words are frequently used, for example in the sign over the door of the Pashto Academy at Peshawar University, which reads:

پښتو اکیډیمی   پیښور یونیورستی

In Afghanistan, Pashto appears in public bilingually with Dari, a direct result of government policy which has been pro-Pashto since the the beginning of the rule of the Nadir family in 1929-30. It has always been considered wise to accommodate Pashtuns in various ways in hopes of keeping their political support, and one of the ways has been to promulgate the use and study of Pashto. Until the Russian invasion in 1979, Pashto was a required subject in schools, and all government officials were expected to take Pashto language courses if they didn't speak the language. Such courses were never particularly successful: there has always been a shortage of Pashtuns with enough education to teach, much less with any training in language teaching or even Pashto grammar.

There has also always been - and this is surprising, given that Persian/Dari has always been the language of business, education and culture in Afghanistan - some sort of *cachet* attached to being Pashtun: Dari-speaking, clearly non-Pashtun individuals frequently took Pashtun tribal names as their adopted names, and when asked if they are Pashtun, will answer that there is Pashtun blood in their heritage, even though they do not speak the language: a mother or grandmother, perhaps. Despite all this, the bilingual people in Afghanistan are almost universally Pashtuns who have learned Dari; the native Dari speaker who speaks Pashto well is a rarity.

Selection A

څلور لارې

پام کوه مکتب دی

بس تم ځی

میرویس مېنه

شهر شاه مېنه

هارن مه کوه

ننوتل منع دی

درېدل منع دی

احتیاط

گړندی توب لس میله

یو طرفه لار

جمال مېنه

Pre-reading

Background

These are street signs in Kabul, as remembered by the members of the Pashto Service, Voice of America.

Key vocabulary

forbidden	*adj 4.*	[mána]	منع
place, area, section	*n, F1.*	[ména]	مېنه
side	*n, M2.*	[taráf]	طرف
speed limit	*n, M2.*	[gaṛandaytób]	گړندی توب

Scanning for clues

1. Street and traffic signs say the same things all over the world; your driving knowledge will help you with such signs as much as your knowledge of Pashto.

2. Guess: بس هارن میل

Post-reading

Provide the Pashto text for the following signs:

1. "No Smoking" (smoke = سگرت ځک-)
2. "Caution - Hospital'
3. "Speed limit 35 mph"
4. "No parking"

Selection B

پښتون له آزادی
پښتونخواله خپلواکی

یا وطن یا کفن

په پښتونخوا کې پنجابی گورنر نه منو

کالا باغ ډیم نه منو

کالا باغ د نوښار تباهی ده

Pre-reading

Background

Blank walls in Peshawar and the surrounding area are used as bulletin boards. Most of the writings on them are in Urdu, but there are occasional messages in Pashto. Here is a selection of these.

Key vocabulary

independence	*n, F2.*	[khpəlwākí]	خپلواکی
place in Pakistan	*n, M2.*	[kālā bā́gh]	کالا باغ
place in Pakistan	*n, M2.*	[nawxā́r]	نوښار
homeland	*n, F3.*	[paxtunkhwā́]	پښتونخوا
Punjabi	*n, M3.*	[panjābáy]	پنجابی
destruction	*n, F2.*	[tabāhí]	تباهی

Scanning for clues

Guess (remember that in Pakistan the transliteration of the English vowel *a* as in *bat* is usually ی): ډیم گورنر

Post-reading

۱. څه شی د نو ښار تباهی ده؟

۲. پښتون ته څه په کار دی؟

۲. پښتونخوا ته څه په کار دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. پښتونواله is a variant of پښتونولی.

2. Kalabagh and Nawshar are areas in Akora (a Pashto name pronounced [akóṛa]), between Peshawar and Islamabad.

Selection C

دا د رحمان بابا مزار دی
چې مجنون غوندې په مينه کې صادق وی
رحمان وايي په هغو باندې سلام
رحمان بابا د عبدالستار زوی په قام مومند د پيښور په تپه کې
اوسيدلی او په بهادر کلی کې زېږيدلی دی.
رحمان بابا د عشق پادشاه، د تصوف او اخلاقو رهنما، د رندو همسا،
د شاعرانو پيشوا، د پښتنو بابا او د معجز کلام خاوند.
زيږېدنه ۱۰٤۲ هـ . ق
مړينه ۱۱۱۸ هـ . ق
چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي
دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز
اهدا: پښتو ټولنه ـ کابل افغانستان ۱۹۵٦ ع

Pre-reading

Background

This is the inscription on the tomb of Baba Rahman, the famous Pashtun mystic poet. The tomb is in Peshawar, in a garden area frequented by *malangs.*

Key vocabulary

sincere *adj 1.* [sādíq] صادق
love *n, M2.* [ishq] عشق
poetry *n, M2.* [kalā́m] کلام
death *n, F1.* [mṛína] مړينه
denier of God *n, M1.* [mənkə́r] منکر

ethics *n, M irreg.* [akhlā́q] اخلاق
dedication *n, F3.* [ɪhdā́] اهدا
padishah, ruler *n, M1.* [pādshā́] پادشاه
mysticism *n, M2.* [tasawúf] تصوف
guide *n, M1.* [rahnamā́] رهنما
birth *n, F1.* [zegedə́na] زيږېدنه

Scanning for clues

1. The second and third lines are a couplet, and the next-to-the-last line is a line of poetry. All were written by Rahman Baba himself.

2. Identify the dates of Rahman Baba's birth and death. Calculate how long he lived, and the corresponding dates in the Christian calendar.

Post-reading

١. رحمان بابا د چا زوی ؤ؟

٢. رحمان بابا چېرته زېږيدلی ؤ؟

٣. رحمان بابا د چا رهنما او د چا پېشوا ؤ؟

Notes for Detailed Rereading

1. The couplet is easier to understand if you think of چې as هغو چې. The Majnun referred to is the hero of the Arabic romance, who went crazy over his love for the beautiful Layla.

2. Abbreviations:

هـ = هجری [hijrī]

ق = قمری [qamari]

3. The single line translates idiomatically, if not particularly poetically, as something like "O Rahman, is it your poetry or a miracle, that even a *munkur* cannot criticize it!". As Lewis Dupree points out in his *Afghanistan* (Princeton: Princeton U. Press, 1980), modesty is not a Pashtun virtue.

Selection D

The signpost:

مزار
خوشحال خان خټك
→

The inscription:

د خوشحال د قبر لوحه
الله اکبر
خوشحال خټك
دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم
زیږیدنه
دوهمه خور ۱۰۲۲ هـ ۱٦۹۱ ع
مړینه
لومړۍ خور ۱۱۰۰ هـ ۱٦۹۱ ع
د افغانستان د پښتو ټولنې په غوښتنه
د کابل د ډبرو په فابریکې کښې جوړ شو
۱۳۲۷ هـ . ش

The graffiti:

جمال شاه   گل ظفر خان
ایوب خان پروانه خټك ۲۲ .۷.۷۸   اجمل خان
میران شاه
مسله درانی   ملا خیل بالا تاریخ ۱۱.۱۰.۹۰
الف گل ۱۹۷۹
سنگین شاه اف حشی   سید نعیم شاه

اجمل خان ـ ملی خیل بالا

Pre-reading

Background

Khoshal Khan Khattak is buried in a marble tomb close to the village of Khattak, in Akora just outside Peshawar. The tomb has a guest house associated with it, which is under the care of one of the villagers. Visitors to the tomb are extended hospitality, and invited to sign a guest register.

Key vocabulary

name of lunar month	*phr.*	[doyə́ma khor]	دوهمه خور
sign	*n, F1.*	[lawhá]	لوحه
name of lunar month	*phr.*	[lumṛə́y khor]	لومړی خور

Scanning for clues

1. The graffiti on Khoshal's tomb - like that all over the world - consists mostly of names and dates.

2. Guess: فابریکه

Post-reading

١. خوشحال خان ختك څه وخت زیږیدلی دی؟

٢. خوشحال خان ختك څه وخت مړ شوی دی؟

٢. د خوشحال خان ختك د قبر ډبرې چېرته جوړې شوی دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. You have undoubtedly come across the couplet that is repeated in the inscription (lines 4 and 5). See *Intermediate Pashto Workbook*, Unit 26, for a discussion of the couplet.

2. ش is the abbreviation for شمسی.

3. Sangin Shah comes from Jashi. His rendition of English 'of' is اف.

Selection E

هيواد (پاکستان) ۹.۱٦.۹۱:

زېرى

لهٔ ډېره وخته په خپله مورنۍ ژبه ميئنو پښتنو
دا ارمان ؤو چې دروند او ښکلی ملی اخبار اووهٔ ورځنی

هيواد

ورځپانه شي دادی خدای پاك ج زمونږ ټولو دغه زوړ
ارمان اوس را پوره کوی او انشاءالله الرحمن ډېر ژر به لهٔ
تازه تازه کورنو او بهرنو بين المللی خبرونو، غوره تبصرو،
تجزيو او ادبی، کلتوری، سياسی، تاريخی او رنگارنگ
ليکونواو مضامينو سره راووځی - لږ انتظار وکړئ -

د زړهٔ غبار

د سلطان محمد صابر
د ولوله انگيزه نظمونو مجموعه

د زړهٔ غبار

راووته

د ميندلو ځای: عظيم پبلشر خيبر بازار پېښور
شبير بلوچ ميزان چوك کوئټه

د جهاد هنداره ١١.٧.٩١:

د پاملرنی وړ!

درنو اوریدونکو د افغانستان د مجاهدینو غږ رادیو خپرونه
هره ورځ د سهار له ٣، ٦ بجو څخه تر ٨ بجو پوری، او
د ماښام له شپږو بجو او ١٥ دقیقو څخه تر اتو بجو او ١٥
دقیقو پوری د گردیز لپاره په منځنۍ څپه ١٢٠٠ کیلو
هرتزو او په لنډه څپه ٣،٢ میگاهرتز چی له ٩٠ متر بیند
ســـــره برابره ده خپرېږی.

Pre-reading

Background

These are newspaper advertisements. Pashto is not the language of business in either Afghanistan or Pakistan; as a consequence business writing, including published advertisements, will appear in either Dari or Urdu unless they are specifically aimed at Pashto speakers - as the content of the three ads included here demonstrates.

Key vocabulary

hope	*n, M2.*	[armān]	ارمان
attention	*n, F1.*	[pāmlarə́na]	پاملرنه
fulfill	*der. tr. vb.*	[pora kaw-´]	پوره کو-
commentary	*n, F1.*	[tabserá]	تبصره
analysis	*n, F1.*	[tajziyá]	تجزیه
wave	*n, F1.*	[tsapá]	څپه
good news	*phr.*	[zéray]	زېری
soon	*adv.*	[zhər]	ژر
fog	*n, M2.*	[ghobār]	غبار
important, selected	*adj 4.*	[ghwára]	غوره
short wave	*phr.*	[lánḍa tsapá]	لنډه څپه
article	*n, M2. Ar. pl.*	[mazāmíno]	مضامینو
medium wave	*phr.*	[mandzané tsapá]	منځنۍ څپه
finding	*inf.*	[mində́l]	میندل
rhyme, poetry	*n, M1.*	[názəm]	نظم
worth	*n, M2.*	[waṛ]	وړ

Scanning for clues

1. Guess:

کیلو هرتز رنگارنگ تازه تازه پبلشر
میگاهرتز متربیند

2. Read the numbers in the third ad. From this, what can you conclude about the topic?

3. What do the last lines of the second ad appear suggest?

Post-reading

١. له دېره وخته د پښتنو ارمان څه ؤ؟

٢. اوس خدای زمونږ ارمان پوره کوی او که نه؟

٣. د محمد صابر د نظمونو د مجموعی نوم څه شی دی؟

٤. د مجاهدینو غږ راډیو هره ورځ د سهار په وخت څو بجې خپرونه کوی؟

٥. د گردیز لپاره په کومه څپه خپرونه کوی؟

Notes for Detailed Rereading

1. لږ انتظار وکرئ translates most felicitously as 'Watch this space'.

2. The word تجزیه is usually used in scientific contexts to mean 'partition' or 'split'. The writer of the ad apparently wishes to stress the objective, scientific nature of the analyses in the newspaper.

3. عشاریه is the Arabic word for 'decimal', and is used in Pashto both for 'decimal' and 'decimal point' or just 'point'

Answers to Post-reading Questions

Selection A.

١. سگرت څکول منع دی
٢. پام کوه روغتون دی
٣. گړندی توب ٢٥ میله
٤. پارك کول منع دی

Selection B.

١. د کالا باغ ډیم د نوښار تباهی ده.
٢. پښتون ته ازادی په کار ده.
٣. پښتونخوا ته خپلواکی په کار ده.

Selection C.

١. رحمان بابا د عبدالستار زوی ؤ.
٢. د بهادر کلی کې زېږېدلی ؤ.
٣. رحمان بابا د ړندو همسا او د شاعرانو پېشوا ؤ.

Selection D.

١. د ١٠٢٢ هـ په دوهمه خور کې زېږېدلی دی.
٢. د ١١٠٠ هـ په لومړی خور کې مړ شوی دی.
٣. د کابل د ډبرو په فابریکه کې جوړې شوې دی.

Selection E.

١. د پښتنو ارمان دا ؤ چه هېواد ورځپانه شی.
٢. اوس خدای زمونږ دغه ارمان پوره کړ.
٣. د محمد صابر د نظمونو د مجموعی نوم «د زړه غبار» دی.
٤. د مجاهدینو غږ رادیو هره ورځ د سهار په وخت له شپږنیمو
نه تراتو بجو پورې خپرونه کوی.
٥. د گردیز لپاره په منځنۍ څپه خپرونه کوی.

Unit 6: Letters and Memoranda

This unit contains a selection of everyday writing: various types of letters (Selections A through J), memoranda (Selections K and L). The names of most of the recipients of the letters have been changed to protect their privacy, and all such fictitious names are in quote marks.

We have presented each selection in as close to the original format as possible.

As you might suspect, the "correctness" and literary quality of the Pashto in these writings vary considerably, and depend on any number of factors such as the educational level of both writer and reader, the knowledge (especially among Pakistani Pashtuns) of other languages, alphabets and writing conventions, the formality of the occasion, and so on. These variables are added to the lack of standardization in many aspects of written Pashto, such as the ubiquitous varied spellings of [i], [e] and [əy], punctuation, and other characteristics which you have seen in previous units. There is also the (universal) phenomenon of the inexperienced writer who, rather than writing as he speaks, distorts his perfectly correct spoken language. One of the more frequent casualties of this phenomenon in Pashto is normal word order.

لندۍ:

د مسافرو کاغذ راغی
ملا یې لولی خویندی یې اوښکې تویوینه

traveler, expatriate *n, M1.* [məsāfər] مسافر

letter *n, M2.* [kāghaz] کاغذ

shed tears *phr.* [woxke toyaw-] - اوښکې تویو

Selection A

گرانه "جمال خان" صاحب

اسلام علیکم ۔

ستا خط راورسیدو۔ په لوستو ئې خوشحاله شوم۔
تسلی م اوشوه چې تهٔبې همته نه ئې بلکه د لوړې ارادې او اوچت
همت خاوند ئې۔

زهٔ دا لوظ خو در سره نه شم کولې چې گنې ستا دغه
کتاب چه کله تهٔراجمع کړې نو د اشاعت نه به نهٔپاتې کیږي۔ ولې دا
به درته اووایم چې که چرې تهٔدا زیار اوکړې او مسوده ئې تیاره کړې
او ماته ئې راواستوې نو انشاءالله چې زما به دا کوشش وي چې تهٔپه
خپل دې تکل کښې نا امیده نه شې۔

څه به ښه وي که تهٔ د خپل دغې کار یوه خاکه شان چې
په هغې کښې جداجدا بابونه وي تیاره کړې او مونږ تهٔ ئې راواستوې چه
مونږه ئې اوسنجوؤ او تاته پرې خپله رائې دراواستوؤ۔

والســــلام

Pre-reading

Background

This letter is from an employee of the Pashto Academy at Peshawar University in Pakistan. The Pashto Academy makes it a point to encourage Pashtuns to take an interest in their native language, and especially to write it.

The letter is in response to a letter inquiring if the Pashto Academy is interested in publishing a manuscript.

Key vocabulary

evaluate *smp. tr. vb.* [sanjaw-́] - سنجو
promise, word *n, M2.* [lawz] لوظ
draft of a manuscript *n, F1.* [muswadá] مسوده

printing *n, M2.* [ɪshāʔát] اشاعت
chapter *n, M2.* [bāb] باب
outline *n, F1.* [khāká] خاکه
opinion *n, F1.* [rāya] رايه

Scanning for clues

Look at the form and punctuation of the letter. Identify the greeting and closing phrases. Watch for western punctuation conventions.

Post-reading

١. د خط ليکونکی د کتاب د چاپولو وعده وکړه؟
٢. د خط ليکونکی له جمال خان صاحب نه څه خواهش وکړ؟
٢. پښتو اکاډیمی به د مسودې په باره کې څه اقدام وکړی؟
٤. د خط ليکونکی له جمال خان صاحب سره څه لوز وکړ؟

Notes for Detailed Rereading

1. Spelling conventions used by the letter writer:

ئې = يې   ته‘ = ته   زۀ = زه
وي = وی   گني = گنې

2. Typographical error: ءالله = الله

3. The writer uses a ږ at the end of a past tense verb form to indicate the 3rd person masculine ending [ə], cf. راورسيدو at the end of the first sentence.

3. د ... نه of the writer's dialect is equivalent to له ... نه in the Kabul dialect.

4. The word شان is sometimes used as a softener. When it occurs after a noun, the meaning of the noun is softened, e.g. the writer's phrase خاکه شان, which translates best as 'something of an outline', or 'sort of an outline'.

Selection B

گرانه "امان شاه" صاحب

السلام عليکم۔

ستاسو خط راورسيدو۔ د ياد گيرنې او پښتو سره مو د مينې ډيره ډيره مننه۔

عرض دا دې چه د پښتو رسالې سالانه چنده مبلغ شپيته روپۍ ده ۔ خو عرض دادی چه د څه وجوهاتو له کبله په چاپ کښې لږه روستو شوې ده او تر ننه ترجون ۱۹۹۰ء پورې پوره د شپږ و مياشتو په يو ځائې چاپ شوې ده۔

که خير وی هفته نيمه کښې به پوره د يو کال يعنې جولائی ۱۹۹۰ء نه تر جون ۱۹۹۱ء پورې رساله چاپ کيدونکی ده ۔

تاسو مهربانې اوکړې او مبلغ شپيته' روپئ سالانه چنده د منې اردر په ذريعه راوليږې او کله هم چې ستاسو رقم راورسې نو انشاءالله ستاسو په نوم به دغه ديو کال رساله در واستولې شې او دغې سره به ستاسو سالانه چنده هم ختمه شې خو د بل کال دپاره به بيا مبلغ شپيته' روپۍ راوليږې۔ والســــــلام

Pre-reading

Background

This letter, also from the Pashto Academy in Peshawar, is a response to a request for a subscription. In Afghanistan and Pakistan, if a publisher gets several months behind in the issues of a journal, he will 'catch up' by putting several issues' worth of material under one cover (usually not as much material as would have been published had the issues been on time).

Key vocabulary

yearly *adj 4.* [sālānā] سالانه	printing *n, M2.* [chāp] چاپ
amount *n, M2.* [mabláqh] مبلغ	subscription *n, F1.* [chánda] چنده
thanks *n, F1.* [manə́na] مننه	pamphlet *n, F1.* [resālá] رساله
money order *phr.* [məni arḍár] منی اردر	amount *n, M2.* [raqam] رقم
lag behind*der. int. vb.* [wrustég-] وروستېږ-	rupee *n, F2.* [rupə́y] روپۍ

Scanning for clues

Look at the form and punctuation of the letter. Identify those elements which indicate that it was written by the same author as the letter in Selection A.

Post-reading

۱. د څو میاشتو رساله یو ځای چاپ شوې ده؟

۲. د خط لیکونکی له امان شاه صاحب نه د سالانه چندې له پاره
څو روپۍ غواړی؟

Notes for Detailed Rereading

1. Spellings used by the letter writer (see also Note 1, Selection A):

عہ = ع (abbreviation for A.D.)
جولائی = جولای (July)
شپیته' روپئ = شپېته روپۍ

2. The phrase چاپ کیدونکی کېږ- is an example of a grammatical process that is active in Pakistani Pashto, but not in Afghan Pashto. You undoubtedly remember such words as ښوونکی and زده‌کوونکی which are modern words created with an old Pashto suffix -ونکی which means roughly 'one who ...'. There are a few phrases in Afghan Pashto in which the past form of a verb + -ونکی plus یم، یې، دی etc. is used, with a special meaning: دی تلونکی for example, translates as 'he is definitely going.' In Pakistani Pashto, this construction can be used, apparently, with a number of verbs, and the result translates quite close to the English present progressive ('is going', 'is visiting'). It is, in fact, quite possible that Pakistani Pashto has developed this parallel to the English present progressive as a result of contact with English.

The -ونکی form is *adj 2,* and agrees with the subject. The use of به in the sentence with the -ونکی phrase is probably an error on the writer's part.

3. The writer uses the Kandahar ستاسو in addition to the Kabul ستاسي.

Selection C

گرانه "مومند" صاحب

السلام علیکم ۔

امید دې چې روغ جوړ او په خیر به ئې ۔

خط دې راغلې دې۔ اوم لوستو ډیر پرې خوشحاله شوم په
پردیس کښې د خپلې ژبې او خپل قوم په حقله د ژوندي احساس د
جذباتونه دې خبر شوم۔ الله پاك دې دغه جذبات تل قایم و دائم لره ۔

زه پوهه نه شوم چې په تاریخ او ادب ته' کوم قسم کتابونه
خوښوې ځکه چې دا دواړه ډیر وسیع میدانونه دی۔ البته دا کیدې شي
چې د پښتو اکیډیمي د مطبوعاتو فهرست مونږ تاسو ته در واستوؤ او
په خپله ئې یو نظر اوګورئ بیا نو چې کوم کتابونه ستا په طبع راست
وي د هغې آرډر به دې اداري ته راوستوې۔

امید دې چې بې تکلیفه به در واستولې شي ۔ والســـــلام

Pre-reading

Background

This letter is in answer to a request from a Pashtun living somewhere outside the Pashto-speaking area, by the author of the two letters above. You will notice a marked difference in style and vocabulary, notably the use of more Arabic words. The letter-writer apparently knows that "Atiqullah Sahib" is a man of education, either from the language in the original request or from personal knowledge.

Key vocabulary

literature	*n, M irreg.*	[adab]	ادب
exile	*n, M1.*	[pardés]	پردیس
enthusiasm	*n, F1.*	[jazbá]	جذبه
taste	*n, F1.*	[tábā]	طبع
publications	*n, M irreg.*	[matbuʔāt]	مطبوعات
list	*n, M2.*	[fihríst]	فهرست
glance	*n, M2.*	[nazár]	نظر
broad	*adj. 1.*	[wasi]	وسیع

Scanning for clues

Note the consistency in format among this and the two previous letters. What does this consistency suggest about the writer?

Post-reading

١. مومند صاحب د خط لیکونکی نه څه خواهش کړی ؤ؟

٢. د خط لیکونکی ولې مومند صاحب ته کتابونه ور وا نه ستول؟

٢. د خط لیکونکی مومند صاحب ته له خپل خط سره څه ور ولېږه؟

٤. مومند صاحب د خط لیکونکی ته له کوم ځایه لیك لېږلی ؤ؟

Notes for Detailed Rereading

1. See Note 1, Selections A and B, for a list of the spellings the writer uses. A good many of the writer's deviations from standard Pashto are in the spellings of the various ی's - expectable given that Pashto is not written officially to any great extent in Pakistan, and that even in Afghanistan the use of the ی's is subject to great variation.

2. The second sentence of the third paragraph is a very flowery compliment to "Momand Sahib" - flowery to the point of being almost meaningless. The compliment is in keeping with the writer's - and the Pashto Academy's -policy of encouraging people to use Pashto, but is far more extensive than the compliments in the previous two letters.

Selection D

محترمې او ګرانې "رابيا" خور!

خدائې دې ښاده او اباده لره ـ

څو ورځې کېږي ستا يو خط سره د خادم صيب مرحوم د نصوص الحکم يوې فوټو سټيټ نسخې ماته راکړې شو۔ چې پکې د هغوى د خوندورو رباعياتو خزانه محفوظه ده ـ بې کچه ډير پرې خوشحاله شوم چې دا نادر اثر تر دې ځايه را ورسيدو۔ تاسو چې ددې د اشاعت په حقله کومه عنديه ښکاره کړې ده۔ دا يقينا چه ډيره لازمه ده۔ زۀ نه پوهيږم چې ستاسو غرض دا دپيښورنه شائع کول دى او که نا دغلته په امريکه کښې د خپرولو څه اراده لرى۔

بهر حال ماته چې کله وخت په لاس راغې نو صرور به د تبصرې د ليکلودپاره ستاسو په خواهش عمل اوکړم ـ

اميد دې چې روغه جوړه او په خير به ئ ـ ډير ډير سلامونه او دعاګانې۔

خيرانديش

Pre-reading

Background

This letter, also from the Pashto Academy in Peshawar, was sent to the daughter of Khadem, who authored one of the *adabi parche* in Unit 1. The daughter was inquiring about getting her father's writings published.

Key vocabulary

opinion, wish *n, F1.* [indiyá]	عنديه	publication *n, M irreg.* [ishaʔát]	اشاعت
meaning, purpose *n, M2.* [gharáz]	غرض	commentary *n, F1.* [tapserá]	تبصره
late, dead *adj 1.* [marhúm]	مرحوم	publish *der. tr. vb.* [khparaw-́]	خپرو-
copy *n, F1.* [nuskhá]	نسخه	publishing *phr.* [shaʔe kawə́l]	شائع کول
principles of philosophy *phr.* [nususəlhekám]	نصوص الحکم		

Scanning for clues

1. Compare the greeting in this letter with the greetings in the previous three. What can you assume from the difference? Scan the letter for other evidence supporting your assumption.

2. Guess: فوتوستیټ

Post-reading

١. د رابیا پلار ژوندی دی؟

٢. د خط لیکوال د خپل لیك په کومه برخه کې وعده وکړه چه په کتاب به تبصره ولیکی؟

٣. رابیا د خادم کوم کتاب د خط لیکونکی ته لېږلی دی؟

٤. رابیا غواړی چې کتاب په پېښور کې نشر شی که په امریکا کې؟

Notes for Detailed Rereading

1. Conventions used by the letter writer (besides the ones listed for Selections A, B, and C above):

خدائې = خدای

یقینا = یقیناً

اوکړم = وکړم

Selection E

د وفا ټولنی درون‍د مشر ښاغلی پروفیسر امین صاحب!

په ډیر درناوی ستاسی څخه هیله کوم، د هغه خدمتونو په لړ
کی چه د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنی د افغانستان د خپلواکۍ
په لاره کی په فرهنگی برخه کی کړیدی. زه ستاسی څخه د یوه
بل فرهنگی خدمت هیله لرم چی زما د زندان خاطرات چه ما د
یو کتاب په شکل راټول کړیدی چاپ کړۍ او په دی ترتیب په
ما احسان وکړۍ.

په درناوی

Pre-reading

Background

This letter is addressed to Rasul Amin, director of the Writers' Union of Free Afghanistan (WUFA), the acronym for which is spelled وفا in Pashto and used (pronounced [wəfā̆] , which is also the Pashto word for 'loyalty') as the informal name of the organization. The extent of the greeting and the quality of the Pashto mark the writer as one not extensively experienced in writing.

Key vocabulary

cultural *adj 2.* [farhangi]	فرهنگی
expect *der. tr. vb.* [hila kaw-́]	کو-
do a favor *phr.* [pə ... ɪĥsán kaw-́]	احسان کو-
publish *der. tr. vb.* [chāp kaw-́]	چاپ کو-
memoirs *n, F irreg.* [khātərāt]	خاطرات

Scanning for clues

Read the greeting phrase. What does it tell you about the writer's feelings about writing Dr. Amin?

Post-reading

۱. د خط د لیکونکی په فکر، وفا خدمتونه کړی دی؟

۲. د خط لیکونکی له وفا نه څه خواهش کړی دی؟

۲. دا د خط د لیکوال د څه وخت خاطره ده؟

Notes for Detailed Rereading

1. Instead of له ... څخه, the writer uses the phrase د ... څخه which is considered substandard usage.

2. The first sentence after the greeting does not have a direct object. It needs one to be grammatically correct.

3. Misspellings:
هیلو = هیله in first line of letter
دی = ددی; یوه = یو in next to last line.
کړی = کړۍ, کړ in next to last, and last lines.

From the joke book:

سیټ نوکر ته: ستا د پلار څه نوم دی؟
نوکر: بیجلۍ دین.
سیټ: دا څنگه نوم دی؟
نوکر: اولنی نوم ئی چراغ دین ؤ. کله چه زمانی ترقی اوکړه
نو د هغه نوم ترقی اوکړه. د چراغ دین نه بیجلۍ دین شو.

اولنی	[awalanáy]	*adj 2.*	original
بیجلۍ	[bijláy]	*n, F2.*	electricity
ترقی کو-	[taraqí kaw-]	*phr.*	make progress
چراغ	[cherãgh]	*n, M2.*	oil lamp
دین	[din]	*n, M 2.*	religion
زمانه	[zamãná]	*n, F1.*	period, time, age
سیټ	[seṭ]	*n, M1.*	master, rich Hindu
نوکر	[nokár]	*n, M1.*	servant

Note: دین is often used as the second part of a masculine name

Selection F

نیټه: ٩١. ١١. ٧
د پاکستان بلوچستان څخه:
"اسلم اڅکزائی"
دامریکا غږ پښتو څانگي گرانو او محترمو نطاقانو
زما له لوري څخه ډیر زیات سلامونه او ښي هیلي قبولی کړي.
گرانو کارکوونکو ستاسو د پښتو څانگي ټول پروگرامونه همیشه
اورم او زیاته علاقه ورسره لرم. خصوصاً د (راغلو لیکونو) او د
(ځوانانو دنیا) پروگرامونه ډیر په خوند او پابندي سره اورم.
محترمو عزیزانو له ډیر وخت وروسته یو ځل بیا د امریکا غږ
پښتو څانگي وه پروگرام ته لیك لیږم.
هیله ده چه د (راغلو لیکونو) په پروگرام کښي ئي راته نشر
کړي. گرانو ورونو ددغه کاغذ پر دوهمه خوا باندي یو شعر
درته لیکم هیله ده چه راته نشر به ئي کړي.
ستاسو د پروگرامونو رسالي شیډول او جنتري راواستوي.
زما پته:
"اسلم اڅکزائی" بمعرفت
"امین" دکان ریلوي روډ
چمن بلوچستان. پاکستان.

Pre-reading

Background

This is a fan letter to the Pashto Service of the Voice of America. The writer included a poem on the back of his letter, which is not given here.

Key vocabulary

pamphlet *n, F1.* [resālá]	رساله	in care of *phr.* [bamarefáte]	بمعرفت
side, direction *n, M3.* [lúray]	لوری	consistency *n, F2.* [pābandáy]	پابندی
broadcaster *n, M1.* [natā́q]	نطاق	especially *adv.* [khusúsan]	خصوصاً
always *adv.* [hameshá]	همیشه	service *n, F1.* [tsā́nga]	څانگه

Scanning for clues

1. Look at the beginning and ending lines of the letter. What is the Pashto, apparently, for 'Voice of America'? for 'Pashto Service'? Where does the writer live? Where does he get his mail?

2. Guess the meanings of: نشرکړي قبولی کړي
خوند کارکوونکو

3. Guess what the programs (راغلو لیکونو) and (څوانانو دنیا) are about.

Post-reading

١. د خط لیکونکی د پښتو څانګې کوم پروګرامونه اوری؟
٢. د خط لیکونکی د کاغذ په دوهمه خوا باندې څه شی لیکلی دی؟
٣. د خط لیکونکی له پښتو څانګې نه څه خواهش کړی دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. The writer, an Atzakzai, spells his tribal name اڅکزائی. This spelling reflects the Persian and Urdu pronunciations of the name.

Selection G

د امریکا غږ راډیو ټولو کارکونکو ته گیډۍ گیډۍ سلامونه:-
وړاندی کوو. هیله مند یم چه قبول یی کړۍ بیا زه د ستاسی
ټول پروگرامونه ښه په شوق سره اورم کوم انتقاد پری نه لرم.
ټول ښه په زړه پوری پروگرامونه دی او څمونږه خوښ دی. بیا ما
تاسی نه د پروگرامونو څه پاڼی غو ښتی وی هغه- هم ماته را
و نه رسیدی. زه ډیر خفه شوم نو ددی لیك په رسیدو سره- تاسی
ماته د پروگرامونو څه پاڼی او دستاسی عکسونه ما ته راولیږۍ
سره د کومی مجلی نو ډیر به مو خوشحاله کړۍ-
ستاسی مهربانی به وی-
د شبقدر عظیم خان قلعه د تحصیل د منډۍ نه-
'محمد اکبر اسلمی' او 'محمد انور اسلمی'

که مونږ ته څه رالیږۍ مکمله پته داده: ضلع چارسده
تحصیل او ډاگخانه
شبقدر عظیم خان قلعه تحصیل منډۍ 'محمد اکبر اسلمی'
کور نمبر (2)

Pre-reading

Background

This is another fan letter to VOA's Pashto Service, written by one of the two brothers who signed the letter. The vocabulary, style and format of the letter suggest that the writer has been educated in a mosque school.

Key vocabulary

photograph *n, M2.* [aks] عکس	leaflet *n, F1.* [pāṇa] پاڼه
Pers. spelling of کلا قلعه	district *n, M2.* [tahsíl] تحصیل
journal *n, F1.* [mujalá] مجله	Charsada [charsáda] چارسده
bazaar *n, F2.* [manḍáy] منډۍ	post office *n, F1* [ḍāg-khāná] ډاگخانه

Scanning for clues

1. Identify the signatures and the address of the writers.
2. How has the writer indicated who he is writing to?

Post-reading

١. د خط لیکونکی پښتو پروگرامونه اوری؟

٢. د خط لیکونکی د پښتو پروگرام له نطاقانو نه څه شی غوښتی ؤ؟

٣. نور يې څه غوښتی وو؟

٤. د خط لیکونکی په پښتو پروگرام کوم انتقاد کړی ؤ؟

Notes for Detailed Rereading

1. The writer is making a literary pun with his phrase گیدی گیدی سلامونه. The word گیدی means 'bouquet,' and is used, as 'bouquet' is in English, with flowers. The Pashto word for flower is, of course, گل, and its plural rhymes with سلامونه.

2. The names of the writers rhyme (we have reflected this in our choice of pseudonyms), which very strongly suggests that they are brothers. Pashtun families quite often give their sons names which are structurally similar to and rhyme with one another and with the father's name.

3. Misspellings:
د ستاسی should be either ستاسی or د تاسی, not both. خمونږ should be زمونږ or د مونږ. The writer's spelling suggests that he's not sure - he probably says زمونږ but has been told at some point that د ممونږ is 'correct'. Or vice versa!

4. The writer has written خفه rather than خپه. This is a hypercorrection - a linguistic process responsible for phrases like "between you and I" in English. The writer pronounces خپه as [khapá], which is its normal pronunciation. He has, however, undoubtedly been corrected for pronouncing [p] instead of [f] in any number of words (you will remember that Pashto has no [f] sound natively, but that the letter ف occurs in words borrowed from Persian and Arabic) and so he is spelling خفه with a ف just in case.

Selection H

اتحاد اسلامی افغانستان
کمیته (   )
آمریت (   ) تاریخ / / ۱٤۰
مدیریت (   ) ضمیمه «   » ورق

د امریکا غږ راډیو د پښتو خپرونی ټولو کارکوونکو ته زما د مینی ډک سلامونه وړاندی کوم او خدای (ج) د وکړی چه ټول روغ او جوړ یاست دا زما پنځم لیك ده چه درلیږم ئی نو ما د ټولو لیکو ځوابونه واوریدل او یو څو گیلی لرم چه گیلی دادی۔ دراغلی لیکونو وخت زیات کړي او د راغلی لیکونو په پروگرام کی له مهاجر نه پرته بل هیچا ته وخت مه ورکوي۔ او دا مریکا غږ د پښتو پروگرام نتاقان چه کله بل مملکت ته په سفر ولاړ شي نو پاکستان ته چه راشی نو تر پیښور پوری راځی او تر هریپور پوری نشی راتلی نو دا څه علت ده باید هریپور ته راشی په دی باره کښی مفصل ځواب راکړی او په اخیر کی یو شعر لرم چه راته نشر یی کړي:

که سپین او سره یي په کور کښې تل وی
چې نه يي علم نه يي عمل وي
ښادی يې نشته آخر به خوار شي
بخت به ترکومه ورسره مل وي

عبدل بصیر خان

د النصر د لیسی داتم ټولګی
زده کوونکی عبدل بصیر خان
Abdul Bahsir Khan
Bahsir
Khan

Pre-reading

Background

This letter is another piece of fan mail for VOA's Pashto Service, this one from a student and member of a revolutionary group. The letter is written on a memorandum form printed for the revolutionary group.

Key vocabulary

scholarship	*n, M2.*	[élem]	علم	final	*adj 1.*	[akhə́r]	اخر
action	*n, M2.*	[amál]	عمل	fortune, luck	*n, M2.*	[bakht]	بخت
companion	*n, M irreg.*	[mal]	مل	happiness	*n, F2.*	[xādə́y]	ښادی
complaint	*n, F1.*	[gilá]	گیله	reason, cause	*n, M2.*	[elát]	علت
detailed	*adj. 1.*	[mufasál]	مفصل				

Scanning for clues

1. The writer's signature is reproduced exactly. From its contents and form, what can you deduce about the writer?

2. What does the format of the last four lines before the signature suggest?

Post-reading

۱. د خط لیکونکی پښتو خپروني ته څو لیکونه لیږلی دی؟

۲. د خط لیکونکی د پښتو پروگرام له نطاقانو نه څه گیله لری؟

۲. د خط لیکونکی پښتو پروگرام ته د چا شعر لیږلی دی؟

Notes for Detailed Rereading

1. The memorandum form has spaces for various directors and sub-directors to initial. The writer is presumably supposed to fill in the date and indicate how many pages are attached to the memo, and then get the memo okayed before he sends it.

2. The Pashto Service at VOA refers to itself both as د پښتو خپرونه and as پښتو څانګي.

3. The مهاجر referred to in reference to the 'letters' program is the nickname of the VOA Pashto Service broadcaster who reads the letters.

4. The writer does not use the word گیله quite accurately. It means 'complaint', whereas the context of the letter clearly indicates that the writer means 'suggestion'. He could have used the Pashto word [spārə́xt] سپارښت or the Arabic word [tajwíz] تجویز. Note that the writers of the other fan letters to the VOA Pashto Service chose خواهش.

5. Abdul Qāder Khattak is the son of Khushal Khān Khattak, and was a fine poet in his own right. The letter writer includes this particular quatrain to demonstrate his revolutionary fervor, which is also reflected in his suggestion that VOA Pashto Service broadcasters visit Haripur (presumably to be lobbied by the members of the Islamic Alliance).

6. The letter writer, as a student in the eighth grade, is not younger than about fourteen. The way he signed his name, and its repetition in roman characters, suggests that he isn't much older than that either.

From the joke book, showing that Pashto is not immune from punnery:

مریض ډاکټر ته: ډاکټر صاحب، زما په خیټه کښی اور لگیدلی دی.
ډاکټر: اور په خیټه کښی؟ نو بیا ما ته ولی راتلی.
د فایر برگید افسر ته به دې ټیلیفون کړی وی.

په خیټه کښی اور [pə khéṭa ke wor] *phr.* heartburn, upset stomach

English words: افسر برگید ټیلیفون فایر

Selection I

محترم ورور پوهاند "حبیب" صاحب!

تر هر څه دمخه دی روغتیا له خدایه غواړم او بیا خپل تاوده سلامونه درته وړاندی کوم زه چی له مشهد څخه کابل ته راغلم هلته مو یو څه وخت سره لیدل بیا تاسی ولاړاست زه هلته وم.

یو څه عمر می هلته کله د استاد او کله د ځانگی د آمر په حیث شپې او ورځې تېرولې خو په دې ورروستیو وختونو کی گذاره ډېره سخته سوه او هلته د ژوندانه شپې او ورځې ډیری راباندی وغمېدلې نو می کور خرڅ کی او د لاری کرایه او ځینی نور مصارف می سره برابر کړه مخ پر هندوستان را رهی سوم. نوی ډهلی ته د تیر کال د فرورۍ په میاشت کی راغلم او تر اوسه پوری دلته ورته ناست یم. دا چه په آینده کی څه پیښیږی نه ده معلومه. ستاسی ږغ هم کله کله اورم او پخواني وختونه را په یادیږی. د پښتو پروگرامونه ډیر په زړه پوری دی. ستاسی ټیم هم ښه قوی دی او کارونه مو ښه تر وس لاندی راوستلی دی ډیری معلوماتی او گټوری خپروني و خپلو اوریدونکو ته وړاندی کوئ. ستاسی پروگرامونه و هغو خلکو ته چې په منظم ډول ي تعقیبوی د یو ښه علمی ادبی، اجتماعی او سیاسی پوهی سیمنار ارزښت لري. ستاسی په موفقیت د ډیرو پښتنو زړونه خوشحاله دي.

خدای دي وکړی چه خپل یووالی ته مو پام وي او تر پایه پوری په اتحاد او اتفاق سره دا کښتۍ دغسی پر مخ باندي بوزی.

نور نو زه شکر جوړ یم ملگری شته کله کله سره وینو. ځینی وخت د رخصتیو په ورځو کی هم سره یو ځای کیږو او د زړه خواله سره کوو. زیاته نو نور درد سر نه درکوم خدای دی مل شه او خدای دی خوشحاله لره. نورو ملگرو ته هم زما د مینی ډک سلامونه او احترام ورسوه.

په درناوي. ستاسی ورور "نوراحمد ذاکر"

june 29. 1991

Pre-reading

Background

This is a friendly letter from one former member of the Faculty of Letters, Kabul University, to another. The Pashto is elegant, but the writer does not use periods consistently. The recipient is a member of the VOA Pashto Service. The writer is a Kandahari, and there are several Kandahari dialect phrases and words in the text.

Key vocabulary

be unbearable	*smp. int. vb.*	[ghamég-]	-غمېږ
strong	*adj 4.*	[qawí]	قوی
ship	*n, F2.*	[kəxtə́y]	کښتۍ
companion	*n, M1.*	[mal]	مل
regular	*adj 1.*	[munazám]	منظم
success	*n, M2.*	[mawufaqyát]	موفقیت
unity	*n, M2.*	[itihā́d]	اتحاد
director	*n, M1.*	[āmér]	آمر
follow	*der. tr. vb.*	[tāqibaw-́]	تعقیبو
headache	*n, M2.*	[dardesár]	درد سر
bring	*dbl. irreg tr. vb.*	[rā wast-]	-راوست
time	*n, M2.*	[ómər]	عمر

Scanning for clues

1. Before you read the letter for content, go through the text and insert a tentative period after each "full" verb (i.e. verb with tense and personal ending) . Then read for content.

2. Guess the meanings of فرورۍ تیم اوریدونکی سیمنار پوهاند معلوماتی

Post-reading

۱. د خط لیکونکی د لارې د کرایې پیسې له کومه کړې؟

۲. د خط لیکونکی په کومه میاشت کې هندوستان ته لاړ؟

۲. د خط لیکوال د رخصتیو په ورځو کې له چا سره یو ځای کېږی؟

٤. د خط د لیکونکی په فکر پښتو پروگرامونه د چا د پاره د
سمینار ارزښت لری؟

Notes for Detailed Rereading

1. Note the following Kandahari usages and their Kabul equivalents:

Kandahari dialect	Kabul dialect
ږغ	غږ
رهی کېدل	تلل
ولاړاست	لاړئ
و ... ته	... ته
[kəy] (خرڅ) کی	[kə] (خرڅ) که

2. The writer was a Professor of Pashto, and as such can be expected to write standard Pashto. His lack of punctuation in this letter reflects first that he is writing in informal circumstances, and second, that punctuation is a relatively new addition to Pashto writing, and has not acquired the mandatory character that punctuation has acquired in the western languages. As might be expected, literate Pashto speakers do not depend on punctuation for clues to anywhere near the extent that speakers/readers of western languages do.

3. In one place (in his comments on the VOA Pashto Service), the writer uses synonyms for emphasis. In this case the synonyms are اتحاد and اتفاق.

4. The writer uses the following idioms:

تر وس لاندی = under control
ورته ناست یم = I'm stuck here

Selection J

محترم مشر "امانی" صاحب: اسلام علیکم ور...

ډیره موده کیږی چی د لیك درلیږلو قصد می درلود۔
خو یو څه زه کهاله یم او یو څه په کوټه کی د ژوندانه ډیر بارونه
را باندی کوټه شوی دی۔
ادرس دی هم نه لرم دا ادرس می گوره چی له چا څخه اخسیتی دی!
پخوا به ښه وو د رسول امین او پسرلی له دفتر څخه به مو ستاسو
ځینی نشرات د کسټونو په شکل تر لاسه کول.
خو کله چه پسرلی په گلبدین او رسول امین په کمشنری پوری
نښتی دی هلته هم نه یو تللی.
کوټی ته کله کله موږ په لیك یادوه ځکه چی خط نیم دیدن دي.
زړه می راته وایي چی په کوټه کی جهاد پلوشه بیرته خپرونو ته
اماده کړم. ددی کار لپاره په منډو بوخت یم. که می دا هیله پوره
شوه نو بیا به انشاءالله د مجلی په کامیابولو کی ستا پر قلمی همکاری
باندی اساسی حساب کوم!

بیداره اوسی.
په احترام "عظیم فانی"

Pre-reading

Background

This letter is from one poet to another, and that circumstance is reflected in the style and language of the letter.

"Amāni Sahib" works at VOA. Pesarlay is the name of a mutual friend; Gulbudin is the leader of Hezbe Islami, one of the *mujahed* organizations; Rasul Amin is the head of WUFA, the same Rasul Amin who was the recipient of the letter in Selection E.

Key vocabulary

intention *n, M2.* [qasd] قصد

literary *adj. 4.* [qalamí] قلمی

be piled *der. int. vb.* [kwəṭa kég-] - کوټه کېږ

journal *n, F1.* [mujalá] مجله

be attached *smp. int. vb.* [nəxət-´] -نښتـ

assistance *n, F2.* [həmkarí] همکاری

prepared *adj. 4.* [amādá] اماده

busy *adj 1.* [bukht] بوخت

running *phr.* [pə mánḍ] په منډ

count on *der. tr.* [hisāb kaw-´]-حساب کو

sight *n, M2.* [didán] دیدن

Scanning for clues

1. Put quote marks around د جهاد پلوشه.
2. Guess the meanings of قلمی کمشنری کسټ ادرس

Post-reading

١. د خط لیکوال د امانی آدرس له چا نه اخستی دی؟

٢. پسرلی او رسول امین په چا پورې نښتی دی؟

٢. هغه مجله چه د خط لیکوال غواړی بیایې خپرونو ته اماده کړی، څه نومیږی؟

Notes for Detailed Rereading

1. The dots after the greeting indicate that some formula having to do with wishing that God will bless the addressee have been left out.

2. The phrase قصد می درلود in the first sentence translates simply as "I intended..."

3. In the same sentence, the author plays with the two meanings of the word کوټه.

4. In the third sentence, the phrase گوره has the effect of something like "God knows", e.g. "God knows from whom I got this address".

5. The phrase قلمی همکاری in the last paragraph is a circumlocution. The writer is asking his friend to write something for his journal.

Selection K



WRITERS UNION OF
FREE AFGHANISTAN
WUFA

P. O. Box 867
Peshawar University, Pakistan
Phone: 42288, 40720 Telex: .....WUFA
Bank Acc. No. 1143 Habib Bank Ltd.
Jamrud Road, University Branch

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه
وفا

پوست بکس ۸۶۷ پېښور يونيورستی، پاکستان
تليفون: ۴۲۲۸۸. ټلګرام: وفا
بنك حساب: ۱۱۴۲
حبيب بنك جمرود روډ، يونيورستی برانچ

No : ______________ نمبر:
Date : ______________ تاريخ:

د آزاد افغانستان د ليکوالو اتحاديې محترمو غړو ته !

د جون د مياشت په ۲۰ نېټه و..................

د موسسی هئيت د وفا دفتر ته راځی دادی تاسی ته اطلاع

درکړل شوه چه په ټاکلی وخت او نېټه حاضر وی.

دوفا مشر

پروفيسر رسول امين

Pre-reading

Background

This is an inter-office memorandum written by the Rasul Amin of Selections F and J, and of the speech/article in Unit 2. The name of the delegation mentioned in the memo was deleted by WUFA staff before they gave us the memo for use in this reader.

Key vocabulary

institution *n, F1.* [mosisá] موسسه	scheduled *adj 2.* [ṭākə́lay] ټاکلی
delegation *n, M2.* [hayʔát] هئیت	attend *der. int. vb.* [hāzəreg-] - حاضرېږ

Scanning for clues

1. Identify the parts of the memorandum form as opposed to the memorandum itself.

2. Guess the meanings of پروفیسر برانچ تلیفون تلگرام
یونیورستی نمبر

Post-reading

۱. د ازاد افغانستان د لیکوالو د اتحادیې غړی کوم ځای ته غوښتل شوی دی؟

۲. د وفا مشر چا ته اطلاع ور کړې ده؟

Notes for Detailed Rereading

1. The language of this memorandum is simple and unadorned, and the lack of 'embellishment' - i.e. the polite phrases - conveys the message that the content of the memo is a command performance.

Selection L

WRITERS UNION OF
FREE AFGHANISTAN
WUFA

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه
وفا

تاريخ　　　استعلام　　　ځواب

د هغو محترمو استادانو د پاملرنی وړ چی په وفا کی په دایمی توگه کار نه کوی او د وفا په ارتباط له کمشنري څخه میاشتی دوه زره کلداري حقوق اخلی.

ډیرو محترم استادانو او همکارانو!

د افغان کمشنري د بیا بیا ټینگار لهامله او په وفا کی ستاسو د مکلفیت په نظر کی ساتلو سره، باید د وفا او خپلواکی له مجلو سره د مقالو همکاري وکړي. ترکومه ځایه چی لیدل کیږي موږ نشو کولاي چی کمشنري ته ستاسو ددغی قلمی همکاري په باب قناعت ورکړو، امید دي په دي برخه کی جدي پاملرنه وکړئ. د کمشنري حقوق یواځی او یواځی د ستاسو د همدغه مکلفیت په تر سره کولو سره تاسو ته درکول کیږي. که تاسو په راتلونکی میاشت کی خپل مکلفیت تر سره نه کړ، بیا نو لطفاً د کمشنري د حقوقو له پاره تشریف مه راوړئ.

په درناوي
پروفیسر رسول امین
د وفا مشر

محترم پوهاند ____
محترم پوهاند ____
محترم پوهاند ____
محترم داکتر ____
محترم داکتر ____
محترم ____
محترم ____
محترم ____
محترم ____

BEST COPY AVAILABLE

Pre-reading

Background

This is another memorandum from the director of WUFA. The names of the recipients have been deleted for reasons which will become apparent when you read the memorandum - as will Muhtaram Rasul Amin Sayib's sense of humor.

Key vocabulary

serious	*adj 4.*	[jɪdí]	جدي	relationship	*n, M2.*	[ɪrtebā́t]	ارتباط
allowance	*n, M irreg.*	[hoqúq]	حقوق	continual	*phr.*	[byā́ byā]	بیا بیا
make content	*phr.*	[qenāʔát kaw-]	قناعت کو-	attention	*n, F1.*	[pāmlarə́na]	پاملرنه
requirement	*n, M2.*	[mukalafiyát]	مکلفیت	about	*phr.*	[pə bā́b]	په باب
colleague	*n, M1.*	[hamkā́r]	همکار	'honored self'	*n, M2.*	[tashríf]	تشریف
worth, value	*n, M2.*	[waṛ]	وړ	insistence	*n, M2.*	[ṭengā́r]	ټینګار

Scanning for clues

1. Identify the names of the two journals mentioned in the memorandum.

2. Guess the meaning of همکاري کو- کلداره راتلونکی

Post-reading

١. رسول امین له هغو استادانو نه چه په وفا کې په دایمی توګه کار کوی څه غوښتی دی؟

٢. له کمشنری نه څوك د میاشتې دوه زره کلدارې حقوق اخلی؟

٢. استادانو ته د کمشنری حقوق ولې ورکول کیږی؟

Notes for Detailed Rereading

1. This is very flowery and polite writing, and, given the message of the memorandum, its effect is very funny.

2. The phrase د هغو محترمو استادانو د پاملرنی ور does not translate literally into English. Idiomatically, it's 'To the attention of the honored teachers...'

3. Amin Sahib uses the circumlocutions د مقالو همکاري and مکلفیت to refer to articles the addressees should write.

4. The phrase تر کومه ځایه چی لیدل کیږي translates best as something like 'as far as I can see".

From the joke book:

یوه شوم سړی په چنده کښی د درې وو زرو روپو چك ورکړ.
خلقو ئی ډیر صفت وکړ. بیا ئی ورته وویل: صاحبه، پرې دستخط
وکړه چه چك مکمل شي.
شوم سړی وویل: معاف کړئ. زه په نیکو کارونو کښې همېشه خپل
نوم پټ ساتم.

compliment *n, M2.* [sɪfát] صفت
excuse me *phr.* [măf kra] معاف کړه
good deed *phr.* [nék kār] نېك کار
always *adv.* [hameshá] همېشه

hide *phr.* [pə́ṭ sāt-] پټ ساټ
check *n, M2.* [chɪk] چك
donation *n, F1.* [chandá] چنده
signature *n, M2.* [dəskhát] دستخط
stingy *adj 1.* [shum] شوم

Answers to Post-reading Questions

Selection A.

۱. نه! و یې نکړه.
۲. خواهش یې ورنه وکړ چې جمال خان صاحب د خپل کتاب مسوده ور وواستوی.
۲. د مسودې په باره کې به جمال خان صاحب ته خپله رایه څرګنده کړی.
٤. لوز یې ورسره وکړ چه ناامیده به یې نکړی.

Selection B.

۱. د شپږو میاشتو رساله یو ځای چاپ شوې ده.
۲. د خط لیکونکی د امان صاحب نه د سالانه چندې له پاره شپېته روپۍ غواړی.
۲. د خط لیکونکی له امان شاه صاحب نه د بل کال له پاره څو روپۍ غواړی؟

Selection C.

۱. خواهش یې ورنه کړی ؤ چه د تاریخ او ادب کتابونه ور واستوی.
۲. د خط لیکونکی نه پوهېده چه کوم کتابونه ور واستوی.
۲. د پښتو اکاډیمی د مطبوعاتو فهرست یې ور ولېږه.
٤. مومند صاحب د خط لیکونکی ته له کوم بل وطن نه لیک لېږلی ؤ.

Selection D.

۱. نه، مړ دی.
۲. د خپل خط په پای کې یې وعده وکړه.
۲. د نصوص الحکم کتاب یې ورلېږلی دی.
٤. دا د خط له متن نه معلومېږی.

Selection E.

۱. د افغانستان د خپلواکۍ له پاره يې خدمتونه کړی دی.
۲. له وفا نه يې خواهش کړی دی چې د خاطراتو کتاب يې ور ته
چاپ کړی.
۳. دا يې د ژوند خاطره ده.

Selection F.

۱. د پښتو ځانګې ټول، خصوصاً د راغلو ليکونو او د ځوانانو،
پروگرامونه اوری.
۲. د کاغذ په دوهمه خوا باندې شعر ليکلی دی.
۳. د شعر د نشرولو او دا خواهش يې کړی دی چه د پروگرامونو
رسالې، شيډول او جنتری ور واستول شی.

Selection G.

۱. هو! په ډېر شوق يې اوری.
۲. د پروگرامونو څه پانې يې ورنه غوښتې وې.
۳. د پښتو پروگرام د نطاقانو عکسونه يې غوښتی وو.
٤. نه، هيڅ انتقاد يې نه ؤ کړی.

Selection H.

۱. پښتو خپرونې ته يې پنځه ليکونه لېږلی دی
۲. گيله يې دا ده چه هغوی هريپور ته نه ورځی.
۳. د عبدالقادر ختټك شعر يې ورته لېږلی دی.

Selection I.

۱. کور يې خرڅ کړ.
۲. د فبرورۍ په مياشت کې هندوستان ته لاړ.
۳. د ملگرو سره يو ځای کېږی
٤. د هغو اوريدونکو له پاره د سمينار ارزښت لری چه په منظم ډول
يې تعقيبوی.

Selection J.

۱. نه ده معلومه.
۲. پسرلی په گلبالدین پورې او رسول امین په کمشنرۍ پورې نښتی دی.
۳. «د جهاد پلوشه» نومیږی.

Selection K.

۱. د وفا دفتر ته غوښتل شوی دی.
۲. د ازاد افغانستان د لیکوالو د اتحادیې غړو ته یې اطلاع ورکړې ده.

Selection L.

۱. له دغو استادانو نه یې غوښتی دی چه د خپلواکی او وفا له مجلو سره قلمی همکاری وکړی.
۲. له کمشنری نه هغه استادان د میاشتی دوه زره کلدارې حقوق اخلی چه په وفا کې په دایمی توگه کار کوی.
۳. د مکلفیت د ترسره کولو دپاره ورکول کېږی.

Unit 7: Fractured Pashto

Introduction

Fractured Pashto is Pashto that violates the grammatical rules of normal Pashto, in exactly the same way that the "fractured English" of '[the composer] *should have written for make-shift orchestra or heterogeneous instruments, sometimes invented, which has been called odd-jobs which can play a stimulate function for musical imagination and for artistic evolution.*' (from the liner notes of a CD) violates the rules of normal English. Fractured Pashto accounts for between 30% and 40% of modern published Pashto, and for that reason is included in this reader.

The main source of fractured Pashto is the press in both Afghanistan and Pakistan. In Afghanistan, it has long been government policy to publish in Pashto on an equal basis with Dari. In Pakistan, there is no government policy about publishing in Pashto, but there is popular demand for it in the Pashto-speaking areas, and the Urdu-speaking press tries to meet this popular demand. As a result, Dari-speaking (in Afghanistan) and Urdu-speaking (in Pakistan) writers with widely varying ability in Pashto are frequently called on to write original articles in Pashto, or to translate articles from Dari or Urdu to Pashto. This, combined with the widely-held opinion that translation is mostly a matter of substituting the target language words for the words of the language of the original, results in article after article in which the Pashto is simply not grammatically correct.

Another source of fractured Pashto is translations from western languages, in the execution of which the translator, usually a native speaker of Pashto with some knowledge of the language out of which he/she is translating, adheres too blindly to the strategy mentioned above of translating word for word.

Just as you as an English speaker can figure out what the fractured English notice 'The flattening of underwear with pleasure is the job of the chambermaid' means, native Pashto speakers can understand fractured Pashto that hasn't been too badly mangled, especially if they also speak the language from which the fractured Pashto has been translated. Students of Pashto, on the other hand, are at a disadvantage: it is difficult to tell, when approaching a piece of Pashto, whether your difficulties come from your inadequate command of the language, or from the fact that the piece is in fractured Pashto and therefore difficult for native speakers to understand as well as you.

We have included in this section two news briefs, two articles, and two translations from English. Each piece has been rewritten in normal, grammatical Pashto, so that you can by comparing the fractured and normal versions get a sense of what fractured Pashto 'feels' like. We have, in the case of the two translations from English, included the English originals as well; if you compare the English and the fractured Pashto, you will see clearly how the translator approached his task. And in the case of the second English piece, we hope you will sympathize as strongly with the translator as we do.

Selection A

1.

دصوبدار شیرنواب او محررو اصف شاه
کارکردگی د ستائنیی وړ ده

تانه (نماینده وحدت) د تانی مالاکنډ ایجنسی خلقو د تانی څوکۍ په انتظامیه خصوصاً دصوبدار شیرنواب او محررواصف شاه په کارکردگی او ایمانداریۍ باندی د زړه له تله مبارکی ورکوی او دوی د پرخلوصه ډیوټی تعریفونه کوی وړمه ورځ په کالج چوك تانه کښی د سیاسی کسانو سره د تیزو خبرنه ورستو دوی اوئیل چه مونږ د چا په سیاسی دباو کښی نه راځو او به د چا سفارشی رشته داراو دوست په ناجایزه کار کښی مرسته کولی شو د تانی خلقو دموجوده نوی انتظامیی سره د هر قسمه تعاون کولو یقین د هانی اوکړه د موجوده انتظامیې د ایمانداریۍ ژوندی ثبوت د وړمی ورځ د غلا ملزمان په یوه گنته کښی دننه نیول او د غلا بعضی سامان برآمد کول دی.

Pre-reading

Background

These two pieces are news briefs from the 6/20/92 issue of the newspaper *Wahdat* , published in Peshawar. In this first brief, the correspondent praises Sobadar Sher Nawab and Maharer Wasif Shah, two members of the police force in the village of Tana, for their behavior during an incident at College intersection (د کالج چارسو).

Here is the piece in normal Pakistani Pashto:

د صوبه دار شیر نواب اومحرر واصف شاه د ښه کار ستاینه

د ملاکنډ ایجنسۍ کښ د تانی کلی خلك پدغه کلی کښ د پولیسو د عملی او په خاصه توگه د صوبه دار شیرنواب او محرر واصف شاه د ښه کار ستاینه کوی او هغوی ته مبارکی وایی چه خپله وظیفه په ډیره

ایمانداریٔ سر ته رسوی. د تانې د پولیسو دغو مامورینو وړمه ورخ
د کالج چارسو کښ ځینی سیاسی کسانو سره تندی ترخی خبری اوکړی.
د هغی نه ورسته ئی اوویل چه د چا د سیاسی فشار لاندی به نه
راځی او نه به د چا خپلوان یا دوست سره ناجایزه ملاتړ کوی. د سیمی
خلکو مامورینو سره د هر ډول همکاری لوظ اوکړ او وی ویل مامورین
په ډېرې ایمانداری خپله وظیفه اجرا کوی او ثبوت ئی دادی چه د وړمی
ورځی دغلا مسئول کسان یی په یوه ساعت کښ رااونیول او غلا شوی
سامانونه یی هم را پیدا کړل.

Key vocabulary

carry out *phr.* [ɪjrā kaw-́] اجرا کو
good deed *n, F1.* [intizāmiyá] انتظامیه
sincerity *n, F2.* [imāndārí] ایمانداری
support *n, M2.* [ta ʔāwə́n] تعاون
praise *n, M2.* [taʔríf] تعریف
pressure *n, M2.* [dabā́w] دباو
contact *n, M1.* [rishtadár] رشته دار
accomplish *phr.* [sár ta rasaw-́] سر ته رسو-
(police) force, *n, F1.* [ʔamalá] عمله
pressure *n, M2.* [fəshā́r] فشار
hour *n, F1.* [ganṭá] گنټه
responsible, guilty *adj 1* [masʔúl] مسئول
accused (person) *n, M1.* [mulzə́m] ملزم
illegitimate *adj 41* [nājāyíz] ناجایز

Scanning hints

1. Read the normal Pashto version before tackling the fractured version.
2. Guess: ایجنسۍ پولیس ډیوټی

Notes for Detailed Rereading

1. The term سفارشي denotes a person who uses his influence for improper purposes, such as hiring a relative for an important position.

2. The phrase [túnde tárkhe khabáre kaw-] تندی ترخی خبری کو- translates literally as 'exchange bitter words', i.e. to argue.

3. The phrase په خاصه توگه translates best as 'especially'.

3. The following are Urdu words imported into the Pashto:

good deed	*phr. w/ n, F2.*	[kar kardagí]	کارکردگی
sincere	*adj 4.*	[porkholúsa]	پرخلوصه
promise	*n, F2.*	[yaqindahānī]	یقین د هانی
recover (stolen goods)	*phr.*	[barāmad kaw-́]	برآمد کو-

2.

د مشهور صحافي سرور سهیل د ځوی علاج دسرکاری
اوشي وزیر اعلی سرحد نه دایم یوجي غوښتنه

تانه (نمائنده وحدت) د مالاکنډ یونین آف جرنلسټس (ایم یوجی) یو اجلاس د سینټر پریس سکیرټری بادشاه شیرین وصال په صدرات کښی د سکرټری تعلقات عامه روئیداد علی گوهر په ځائی کښی وړمه ورځ اوشو چه پکښی افس سکرټری جنید اقبال او پریس سکرټری فضل معبود صائم نه علاوه گنو صحافیانو گډون وکړو. په اجلاس کښی متفقه طور دا قرارداد منظور کړی شو چه دایم یوجی جنرل سیکرټری سرور سهیل د ځوی ځوك چه له تیرو یولسو میاشتو په سخته بیماری کښی مبتلا پروت دی دعلاج بندوبست د سرکاری اوکړی شی.

اجلاس کښی د وزیر اعلی سرحد نه غوښتنه اوکړی شوه چه د ... صحافي د ځوی علاج د سرکاری اوکړی شی چه هغه خپلی توجه د قوم ملك د خیر ښیگړی پلو یو ځل بیا ور اوگرځوی.

Pre-reading

Background

This news brief tells what happened at a meeting of the Malakand Union of Journalists. It lists the important persons who attended the meeting, as well.

The Press as an institution is fairly powerful in Pakistan; it is not considered out of line for the press to make recommendations of the nature of the one mentioned in this brief.

Here is the brief in normal Pakistani Pashto:

د ملاکنډ د جرنلستانو ټولنه د صوبه سرحد د وزیر اعلی نه غوښتنه کوی چه د نامتو جرنلست سرورسهیل د زوی علاج دی حکومت پخپله اوکړی.

د ملاکنډ د جرنلستانو ټولنی، د مطبوعاتی چارو د سرمنشی بادشاه شیرین وصال د ریاست لاندی د عامه تعلقاتو د منشی، روئیداد علی گوهر، په کور کښ یوه غونډه اوکړه چه د دفتری چارو منشی جنید اقبال او د مطبوعاتو منشی فضل معبود صائم نه علاوه گڼ جرنلستان پکښ موجود وو. په غونډه کښ په گډه دا پیشنهاد منظور شو چه حکومت دی ددی ټولنی د عمومی منشی سرور سهیل د ناروغه زوی د علاج مسئولیت پخپله غاړه واخلی چه هغه د قام او ملك خدمت ته وزگار شی. د سرور سهیل زوی د تیرو یولسو میاشتو راهیسی رنځور پروت دی.

Key vocabulary

meeting,	*n, M2.*	[ijlā́s]	اجلاس
illness	*n, F2.*	[bemārí]	بیماری
toward	*adv. w/* ... د	[paláw]	پلو
attention	*n, F3.*	[tawajóh]	توجه
since	*adv.*	[rāhíse]	راهیسی
governmental	*adj 4.*	[sarkārí]	سرکاری
welfare	*n, F1.*	[xegə́ṇa]	ښیگڼه
province	*n, F1.*	[sobá]	صوبه
journalist	*n, M1.*	[saĥāfí]	صحافی
presidency	*n, M2.*	[sadarā́t]	صدرات
treatment	*n, M2.*	[ʔelā́j]	علاج
besides	*adv. w/* له...نه	[alāwá]	علاوه
contract	*n, M2.*	[qarārdā́d]	قرارداد
one who suffers	*n, M1.*	[mubtalā́]	مبتلا
collectively	*phr.*	[motafeqá tawə́r]	متفقه طور
approve	*der. tr. vb.*	[manzuraw-́]	منظورو-
be agreed	*der int. vb.*	[manzurég-]	منظورېږ-
outstanding, famous	*adj 4.*	[nāmtú]	نامتو
be free	*der. int. vb.*	[wuzgārég-]	وزگارېږ-
provincial minister		[wazire aʕlá]	وزیر اعلی

Scanning hints

1. Read the normal Pashto version of the brief before you tackle the fractured Pashto version.

2. The dots in the third to last line of the fractured Pashto indicate a word that is unreadable (it is printed to faintly in the original, and there isn't enough context to make a good guess).

3. The brief mentions the following, listed below with their titles in Pashto and English:

Person: بادشاه شیرین وصال
English Title: general/center press secretary
Pashto Title: د مطبوعاتي چارو سرمنشی

Person: جنید اقبال
English Title: office affairs secretary
Pashto Title: د دفتری چارو منشی

Person: بادشاه شرین وصال
English Title: general press secretary
Pashto Title: د مطبوعاتي چارو سرمنشی

Person: فضل معبود صائم
English Title: press secretary
Pashto Title: د مطبوعاتو منشی

Person: روئیداد علی گوهر
English Title: secretary of public relations
Pashto Title: د عامه تعلقاتو منشی

Person: سرور سهیل
English Title: general secretary
Pashto Title: عمومی منشی

Notes for Detailed Rereading

1. The term صحافی translates from Pakistani Pashto as 'journalist'; the same term in Afghan Pashto translates as 'bookbinder'.

2. In the phrase دی حکومت پخپله اوکری in the normal Pashto headline, the پخپله indicates that the government itself is being asked to pick up the expenses.

3. The word قرارداد usually means 'contract'. In this context, however, it clearly refers to a decision.

4. The word سرحد, which usually translates as 'border', is also used to refer to the Northwest Frontier Province (which is of course the border between Afghanistan and Pakistan, and India before Pakistan was established) in Pakistan.

Post-reading

١. د مالا کنډ د ایجنسې د تانی خلك صوبدار شیرنواب او محرر واصف شاه ته د څه شی مبارکی ورکوی؟

٢. په کالج کې چا له سیاسی کسانو سره تېزې خبرې وکړې؟

٣. د تانې څوکۍ د انتظامیې د ایماندارۍ ژوندی ثبوت څه شی دی؟

٤. د مالاکنډ د ایجنسی د ژورنالستانو اتحادیې د چا تر ریاست لاندې غونډه وکړه؟

٥. پدې غونډه کې چا ګډون کړی ؤ؟

٦. غونډی څه فیصله وکړه؟

Selection B

ډوډی سلگون ته وخته

که لوستونکو ته په یاد وی چی موږ په همدی ستون کی تر همدی
کلیشی لاندی پیشبینی کړی وه د ښار نانوایانو چی په خودمختاره
ډول یی د پنځوسی په مقابل کی د ډوډی د عرضه کولو رسالت په
غاړه اخستی وو نو د مربوطو نواحیو موافقه یی هم د ځانه سره درلوده
او د یوی ورځی نه یی بلی ورځی ته وزن بایلود سلگون ته د لوړولو
بهانی لټولی. چی دا دی زمونږ همدغه پیش بینی مصداق ته ورسیدله
او یو شمیر نانوایانو پخوانی ډوډی چی د پنځوسی په مقابل کی به یی
عرضه کوله سلو افغانیو ته لوړه کړی ده او په دی ارتباط د غلی په
مندوی او د بیو په لوړوالی حواله ورکوی.

که څه هم کابل ښاروالی هڅه کوی. نانوایان دی ته اړ کړی چه د ټاکلی
وزن په مقابل کی په ټاکلی او عادلانه بیه پخه ډوډی عرضه کړی خو
حقیقت دا دی چی د هر کسب خاوند د بیو لوړوالی پلمه نیولی او د
میم زرما ټوله زما کیسه یی مخکی کړی ده.

عام ښاریان چه د همدی نانوایانو څخه یی روزی تامینیږی بر سیره پر
دی چی د پخی ډوډی د وزن او سپکوالی نه شاکی دی د ډوډی د
کیفیت نه هم سرونه ټکوی او په تیره بیا هغه نانوایان چه د کورنیو
دپاره ډوډۍ پخوی د چونگی د پټولو او بی کیفیته ډوډی پخولو
په سر لانجی دی سرحد ته رسیدلی دی چی کورنی د اوړو د اخستلو
دپاره زړه نه ښه کوی.

تر کومه ځایه چه د ښاریانو په شکایاتو پوری اړه لری د یو مخی همدا
خبره کوی چی د لسگون اقتصا دی ډوډی پخولو ساحه د پراخه کړی شی
او ددی دپاره چی هر مستحق ته په خپل وخت بی له ټیلی ټمبی ډوډی
په لاس ورشی یونوی او اغیزمن میکانیزم دی ورته جوړ شی.

کوټوال ټیس

Pre-reading

Background

This piece is a column in *Anis,* a newspaper published in Kabul. It appeared on April 2, 1992 when different groups of *mujaheddin* were fighting one another for control of the city. Basic necessities were in very short supply at the time, and as a result the prices of everyday goods were sky-high. The price of bread - the flat, thick, oval Afghan bread - was a sore subject for the residents of Kabul, and this column blames the city's bakers for raising the price of a loaf to 100 afghanis. It makes the point that the bakers had volunteered to keep the price to 50, but at the same time had reduced the weight of the loaves, then offered a regular-sized loaf at the raised price.

Families in Kabul provide bread for themselves in two ways: they either buy the baked loaves from the baker, or they prepare the dough at home, then take the shaped, unbaked loaves to the baker who, for a price or a share of the total bread, bakes the bread in his oven.

Here is the selection in normal Pashto:

د ډوډۍ نرخ سلو افغانیو ته لوړ شوی دی.

نان بایانو په خپله خوښه دا منلې وه چه یوه ډوډۍپه پنځوس افغانۍ خرڅه کړی او پدی برخه کې یې د مربوطو ناحیو موافقه تر لاسه کړی وه. خو لکه څنګه چه مونږ پیش ګویی کړې وه، اوس دوی یوه ډوډۍ چه وزن یې ورخ په ورخ کمېږی، په سل افغانۍ خرڅوی او ددې کار دلیل د اوړو د نرخ لوړیدل ګڼی.

البته د کابل ښاروالی هڅه کوی نانبایان دې ته اړ کړی چه ډوډۍ په عادلانه نرخ خرڅه کړی. خو نانبایان، لکه نورو کسبګرو غونډې، د خامو موادو د لوړیدلو په بهانه پنځه واړه ګوتې په خوله مندی.

عام ښاریان هم د ډوډۍ د وزن له کمېدلو نه شکایت کوی او هم یې د کیفیت له خرابېدلو نه سر ټکوی. د نانبایانو په اصطلاح چونګی کولو او د بی کیفیته ډوډۍ پخول، ډیرې کورنۍ دومره په تکلیف کړی چه نور د اوړو اخستو ته زړه نه ښه کوی.

د کابل ښاریان ټول په یوه غږ وایی کومه ډوډۍ چه لس افغانۍ خرڅېږی هغه دې د ښار په ټولو برخو کې دومره زیاته پخه او خرڅه

شی چه هرڅوك يې په ډيره اسانی واخستی شی.

Key vocabulary

effective	*adj 1.*	[aghizmán]	اغیزمن
force	*der. tr. vb.*	[aṛaw´-]	اړو-
flour	*n, M irreg.*	[wṛə]	اوړه
excuse, rationale	*n, F1.*	[bahāná]	بهانه
expand	*der tr. vb.*	[pərākhaw´-]	پراخو-
fifty-worth	*adj 4.*	[pəndzosí]	پنځوسی
in trouble	*phr.*	[pə taklíf]	په تکلیف
over	*phr.*	[pə sár]	په سر
speculation	*n, F3.*	[peshbiní]	پېشبینی
prediction	*n, F2.*	[pish guwí]	پېش گویی
be provided	*der. int. vb.*	[tāminég-]	تامينېږ-
shoving	*phr.*	[ṭelá tambá]	ټیله تمبه
refer to	*phr.*	[ḥawālá warkaw´-]	حواله ورکو-
raw	*adj 1.*	[khām]	خام
rise	*smp. int. vb.*	[khat´-]	ختـ-
worsen	*der. int. vb.*	[kharabég-]	خرابېږ-
voluntary	*adj 4.*	[khwədmukhtára]	خود مختاره
all of them	*phr.*	[de yáw məkhe]	د يو مخی
mission	*n, M2.*	[resālát]	رسالت
area	*n, F1.*	[sāḥá]	ساحه
light weight	*n, M3.*	[spəkwā́lay]	سپکوالی
column	*n, M2.*	[sutún]	ستون
complain		[sarúna ṭakaw´-]	سرونه ټکو-
one who complains	*adj 4.*	[shākí]	شاکی
municipality	*n, M3.*	[xārwālí]	ښاروالی
city-dwellers	*n, M1.*	[xāryā́n]	ښاریان
fair, just	*adj 1.*	[ʔādíl]	عادل
supply	*phr.*	[arza kawə́l]	عرضه کو-
trade, profession	*n, M2.*	[kə́səb]	کسب
artisan	*n, M1.*	[kəsəbgə́r]	کسبگر
problem	*n, F1.*	[lānjá]	لانجه
raise	*inf. phr.*	[lwaṛaw´-]	لوړو-
height	*n, M3.*	[lwaṛwā́lay]	لوړوالی
reader	*n, M3.*	[lwəstúnkay]	لوستونکی
deserving one	*n, M2.*	[mustaḥéq]	مستحق
proof	*n, M2.*	[misdā́q]	مصداق
materials	*n, M irreg. Pl .*	[mawā́d]	مواد
baker	*n, M1.*	[nānwā́y], [nānbā́y]	نانبای
weight	*n, M2.*	[wázan]	وزن
try	*phr.*	[hátsa kaw´-]	هڅه کو-

Scanning hints

1. Read the normal Pashto version of the selection before you try the fractured Pashto version.

2. Guess: میکانیزم کلیشه

Post-reading

۱. نانبایانو د پنځوسو افغانیو ډوډۍ څو افغانیو ته لوړه کړې ده؟

۲. ښاریان له څه شی سر ټکوی؟

۲. د کابل ښاروالۍ هڅه کوی چه نانبایان څه شی ته اړ کړی؟

٤. ښاریان له څه شی نه شاکی دی؟

٥. ښاریان له یوی مخې څه خبره کوی؟

Notes for Detailed Rereading

1. A سلگون is a bill - in any currency - of 100 units, in this case, a 100-*afghani* note; in parallel, the term لسگون refers to a 10-*afghani* note. The suffix [-gun] گون- can be applied to any number, e.g. if a Pashtun were discussing American currency, the phrases لسگون ، پنځگون ، یوگون, etc., could be used.

2. The word [nawāĥī] نواحی is an Arabic plural, incorrectly "Pashto-ized" by being spelled with the ی The singular is [nahiyá] ناحیه ; it translates as 'district'.

3. It is clear from context that the author means something like 'make excuses' with the phrase پلمه نیولی Pashtuns say پلمه کو-, however.

4. A چونگی is a stolen piece. Sometimes, when a family brings its dough to the oven to be baked, the baker snitches a piece of the dough. The snitched piece is the chungi, and several chungis are reshaped and baked into a loaf.

5. The phrase پنځه واړه گوتې په خوله منډی translates literally as 'put all five fingers into [one's] mouth. It is a phrase expressing someone's greed.

6. The phrase په اصطلاح would be rendered in English by quotation marks around whatever follows it. The author is indicating that the term چونگی is not in normal written Pashto usage.

7. The phrase [mimzarmā ţola zmā] میم زرما ټوله زما translates roughly as 'all for me', and is an indication of selfishness or mean-spiritedness.

8. بر سیره پر دی translates best as 'besides', or 'in spite of'.

9. The phrase ... ته زړه نه ښه کو- is an idiom translating as 'not have the heart for ...'

From the joke book:

یوه کلال په خره ډیر بی اندازی بار اچولی ؤ. کله چه هغه یوه ښار ته ننوتو نو خلقو ډیر سخت ملامت کړ چه «تا په دومره کمزوری خره دومره بار ولی اچولی دی.

کلال د خره مخ ته وړاندی شو او ورته وې ویل: ماته معلومه نه وه چه ته په دې ښار کښی دومره خپلوان لرې.

potter *n, M1.* [kulāl] کلال

excessive, without measure *adj 4.* [be andāzé] بی اندازی

load *n, M2.* [bār] بار

blame, criticise *der. tr. vb..* [malāmátaw-´] ملامتو-

Selection C

Hewad 3/11/92

زرینه وړانگه
خاص د روژې لپاره

له دی کبله روژه د اسلام مبارك دین کی د تقوی او پرهیزگاری اصل او بنسټ گڼل شوی دی. چی دا یو داسی خاموش، چوپ او مخفی عبادت دی چی هیڅ ډول ریا او ښودنه په کی ځای نه لری. هو تر هغوی چی سړی په خپله خوله چا ته ددغه ستر عبادت ښکارونه و نه کړی نو نور خلك پری نپوهیږي. چی په حقیقت کی همدغه لوړ صفت د ټولو عبادتونو او اخلاقو بنسټ جوړوی.

د همدغه خلوص او اخلاص او بی ریایی اثر دی چه الله تعالی (ج) د روژې په خصوص کی وفرمایل (روژه نیوونکی یوازی زما دپاره خپل اوبه او خواړه او نور لذتونه پرېږدی نو له دی کبله روژه زما ده او زه به د هغی اجر ورکوم.)

دا خو یو څرگند او ښکاره حقیقت دی. چی د هر نیك او ښه عمل د اجرور کونکی لوی او مهربانه خدای دی. خو دا چی د روژې سترتوب لوی والی او عظمت خلکو ته ښه څرگند شی. نو پاك خدای د اجر او ثواب ورکول د خپل ځان پوری منسوب کړی دی. دا هم یو څرگند حقیقت دی چی د روژې د نیولو له کبله ستونزه گاللل یعنی د لوږې اوتندی زغم کول هم یو ډول صبر دی. چه له دی کبله روژه نیوونکی سربیره پر دی چی روژه یی نیولی ده د صابرانو په ډله کی هم راتلی شی او د صابرانو د صبر ثواب به هم ورته ورکړ شی...

Pre-reading

Background

زرینه ورانگ is literally 'sunbeams', and is a column title under which various feature articles appear in the newspaper *Hewad* published in Kabul. The features are usually about some aspect of conduct or religion. This selection is the first few paragraphs of a long piece about fasting, which appeared at the beginning of the month of fasting in 1992.

The structure of the sentences strongly suggests that it was translated close to word-for-word from Persian.

Here is the piece in normal Pashto:

خاص د روژی دپاره:

روژه د اسلام په مبارك دين كې د تقوی بنسټ گنل شوی دی. ځكه دا داسی عبادت دی چه هيڅ ډول ريا او تظاهر پكښې نشته. كه يو انسان خپله چا ته ونه وايی، بل څوك نه پری پوهيږی چه هغه روژه نيولی ده او كه نه......؟

مسلمانان خاص د خدای تعالی د رضا د حاصلولو د پاره روژه نيسی. ځكه نو خدای تعالی وايی: «څوك چه روژه نيسی هغه اوبه، خواړه او نور لذتونه فقط زما په خاطر پريږدی. څرنگه چه روژه زما په امر نيوله كيږی نو اجر يی هم زه وركوم» په حقيقت كی خو د هر نيك عمل اجر خدای وركوی. مگر ددې دپاره چه د روژې عظمت ښه په ډاگه شی نو پاك خدای پدې خبره تاكيد كوی چه د روژې اجر دی خپله وركوی. څرنگه چه د روژې نيول خپله يو ډول ستر صبر دی نو څوك چه روژه نيسی هغه دصابرانو په ډله كی هم راځی او خدای يی د صبر اجر هم وركوی.

Key vocabulary

reward	*n, M2.*	[ájər]	اجر
clear, obvious	*phr.*	[pə ḍāga]	په ډاگه
insist	*phr.*	[tākíd kaw-]	تاكيد كو
affectation	*n, M2.*	[tazāhór]	تظاهر
virtue	*n, F3.*	[taqwā́]	تقوی
gain	*der. tr. vb.*	[hāsəlaw-́]	حاصلو-
sake	*n, M2.*	[khātə́r]	خاطر
quiet	*adj 1.*	[khāmósh]	خاموش
Great Lord	*phr.*	[khwdāy taʔālá]	خدای تعالی
sincerity	*n, M2.*	[khulús]	خلوص

fasting	*n, F1.*	[rozhá]	روژه
fast	*vb. phr.*	[rozhá nis-́]	روژه نیسـ -
hypocrisy	*n, F3.*	[riyā̃]	ریا
suffer	*phr.*	[zghám kaw-́]	زغم کو-
greatness	*n, M2.*	[stərtób]	سترتوب
suffer,	*phr.*	[stúnza gāl-́]	ستونزه گال-
besides		[sarbéra pər de]	سربیره پر دی
affectation	*n, F1.*	[xkārawə́na]	ښکارونه
show, sham	*n, F1.*	[xodə́na]	ښودنه
patient	*adj 1.*	[sābə́r]	صابر
patience	*n, M2.*	[sabə́r]	صبر
quality, merit	*n, M2.*	[sefát]	صفت
act of piety	*n, M2.*	[ʔebādát]	عبادت
greatness	*n, M2.*	[ʔazmát]	عظمت
say, decree	*smp. tr. vb.*	[farmāy-́]	فرمای-
just, only	*adv.*	[faqát]	فقط
enjoyment	*n, M2.*	[lezát]	لذت
greatness	*n, M3.*	[loy wālay]	لوی والی
sacred	*adj 1.*	[mubārak]	مبارك
hidden	*adj 4.*	[makhfí]	مخفی
attribute	*der. tr. vb.*	[mansubaw-́]	منسوبو -
good deed	*phr.*	[nék ʔamal]	نیك عمل

Scanning hints

1. The composition of this piece is such that there is no logical connection between the sentences and paragraphs. It reads as a series of unconnected statements about fasting.

2. Watch for the following synonyms:

تقوی او پرهیزگاری
اصل او بنسټ
خاموش، چوپ او مخفی
ریا او ښودنه
خلوص او اخلاص او بی ریایی
سترتوب، لوی والی او عظمت
اجر او ثواب

Post-reading

۱. روژه د اسلام مبارك دین کې څه ارزښت لری؟

۲. په کوم عبادت کی ریا او تظاهر ځای نه لری؟

۳. الله تعالی د روژې په باره کې څه ویلی دی؟

۴. روژه نیوونکی ولی د صابرانو په ډله کې هم راځی؟

Notes for Detailed Rereading

1. The word [xkārawə́na] ښکارونه in the fractured Pashto version is a neologism, along the lines of something like 'showoffhood' in English. Pashtuns use. the word تظاهر .

په کال ۱۹۸۹ کې یوه ورځ افغانانو په پېښور کې دافغانستان د
پخوانی پاچا په طرفداری مظاهره کړې وه. د مظاهرې په وخت کې
د اخوانیانو یوې ډلې وغوښتل چې دغه مظاهره ړنګه کړی. کله چې
اخوانیان مظاهرې ته ور ورسېدل وروسته له یو څه ناندریو نه یې خبره
جنګ ته ورسېده. یوه غربی خبریال یوې رادیو ته د دغه جنګ رپوټ
ورکړ او په هغه کې یې ولیکل چې اخوانیانو د پاچا طرفداران په «تو
بای فور» وهل. «تو بای فور» داسې یو چاهاررخه د ختګرو چوبګز ته
ورته لرګی دی چې یوه خوا یې دوه انچه وی او بله خوا یې څلور. خو
دې رپوټ په پښتو ترجمه کې ویل شوی وو چې په جنګ کې دوو تنو
اخوانیانو څلور تنه د پاچا طرفاران وهل.

تړی -

اخوانی [ɪkhwānáy] fundamentalist *n, M1.*
چاهاررخه [chārrákha] four-sided *adj 4.*
چوبګز [chobgáz] yardstick, level *n, M2.*
خبریال [khabaryā́l] reporter *n, M1.*

ړنګو- [ṛangaw-́] disperse *der. tr. vb.*
مظاهره [muzāhará] demonstration *n, F1.*
ناندری [nāndráy] (bitter) exchange *n, F2.*

English words: تو بای فور انچه

Selection D

د کابل رژیم د نسکوریدو په حالت کی دی

دوناتیلا لوریچ

د افغان مجاهدین یو قوماندان وویل په افغانستان کی د هر غره په خوا کی پاچا دی.

هغه په خپلوخبرو کی څرگنده کړه چه ولی د مجاهدینو د مشرانو لپاره دا سخته بریښی چی خپلومنځو کی د افغانستان لپاره د حکومت په طرز باندی موافقه وکړی چی باید د روسانو د وتلو نه وروسته جوړ شی.

په پیښور کی، چی د افغان سرحد څخه ۲۵ کیلو متره فاصله لری، میشته خارجیان پدی شرط تړی چی د روسانوتر وتلوپوری به هیڅ شی پیښ نشی.

د پیښور په امریکن کلپ کی د خبرونو په تخته یو خبر داسی لوستل کیږی: "د کابل د اسونو مسابقی ته دننوتلو ټکټ ۱۰۰ روپۍ (۵ ډالره)" او بیا په یوه وړه چاپی پانه داسی لیکل شوی : "هغه ډیری نږدی وخت چی د کابل رادیو یو اسلامی جمهوریت اعلانوی، د لاتری جایزه گټی."

له مخکښی نه هلته دنومونو یو اوږد لست چی د ۱۹۸۹ د فروری د نیمایی څخه ټراکتوبر پوری نیټی ور سره ملگری دی، موجود دی.

د کلپ یوی غړی څرگنده کړه "زه په مجاهدینو شرط تړم اود هغوی د مشرانو لپاره د بریالیتوب امکان نه وینم."

د خارجیانو او افغانانو دواړو لپاره یو شان د کابل د رژیم نسکوریدل آو د افغانستان ازادی یوه جواری گرځیدلی ده په ډیرو لږو ځایونو کی داسی عقیده موجوده ده چی د افغان مجاهدینو مشران به وکولای شی چه دفروری له ۱۵ څخه مخکښی چی د روسانود پووره وتلو نیټه اعلان شویده، یو با ثباته سیاسی عبوری حکومت رامنځ ته کړی.

په کابل کی دغه جواری د یو ډارونکی حالت په څیر ده یعنی کله چی روسان وتلی وی او د سولی هیڅ تړون موجود نه وی زیات خلك په پایتخت باندی د گوریلا یانو د یرغل احساس کوی.

بهرنۍ حکومتونه خپلو ډيپلوماتانو ته د بيرته ورتګ امر ورکوی، او
زيات خلك د وينو د حمام څخه په ويره کی دی. د بی بی سی راديو
په دی هفته کی رپوټ ورکړ چی د کابل ښار د خوراکی موادو د مخ په
زياتيدونکی کمبود اود لوږی د خطر سره مخامخ دی. په داسی حال کی
چی د مجاهدينو قوماندانان د افغانستان په برخليك باندی د جنګ په
ډګر کی تصميم نيسی. په دی نږدی ورځو کی دوی د جلال آباد په
ښار باندی خپله کلابندی سخته کړيده. د جګړی څخه د خوندی پاتی
کيدو له کبله د جلال آباد له سيمی څخه د کډوالو نوی بهير را روان
دی چی شمير ئی زرهاوو تنو ته رسيږی او اکثره ئی زاړه خلك،
ښځی او ماشومان دی چی د واورو له ډکو غاښو څخه تيريږی او
پاکستان ته ننوځی. ...

Pre-reading

Background

This article is translated from 'In Peshawar Everyone Awaits the Fall of Kabul', by Donatella Lorch, published in *The New York Times* , January 24, 1989. Here is the original (p. A8) (the last section of the article has been deleted):

IN PESHAWAR, EVERYONE AWAITS THE FALL OF KABUL
by Donatella Lorch

Peshawar, Pakistan, Jan. 23 - "In Afghanistan behind every mountain there is a king," an Afghan guerilla commander said.

His words helped explain why the Afghan guerrilla leaders are finding it so hard to agree among themselves on what kind of government their country should have once the Soviet Union has completed its expected troop withdrawal in mid-February.

Foreigners in this city 25 miles from the Afghan border are betting that nothing will be decided until the Soviet troops have left.

At the Peshawar American Club, a sign on the bulletin board reads: "Kabul Sweepstakes, 100 rupees ($5) to enter." And then in smaller print: "The closest date to when Kabul radio announces an Islamic republic wins the jackpot."

Already there is a long list of names accompanied by dates ranging from mid-February to October 1989. "I'm betting on the muj, certainly not on the chances of anyone of the leaders getting their act together," explained one club member - muj being the affectionate term for the guerrillas or mujahedeen...

Fall of Kabul a Gamble

For Westerners and Afghans alike, the fall of Kabul and the "liberation" of Afghanistan has become a gamble. Few place any faith in the ability of the Afghan guerrilla leaders to create a viable interim government before Feb. 15, the announced date of the completion of the Soviet troop withdrawal.

In Kabul, the gamble is of a deadlier sort. With the Soviets all but gone and no peace agreement in sight, many people are bracing for a guerrilla assault on the capital. Foreign governments are ordering their diplomats home, and many fear a blood bath. The BBC this week reported the city is suffering increasingly severe food shortages and danger of starvation.

While the leaders squabble in Peshawar, the guerrilla commanders are deciding Afghanistan's fate on the battlefield. Most recently they have tightened the siege around the eastern city of Jalalabad. Escaping the fighting, new waves of refugees from the Jalalabad area, numbering in the thousands, mostly old men, women and children, have been seen crossing over the snow-covered passes into Pakistan. ...

And here is a translation into normal Pashto:

د کابل رژیم د نسکوریدو په حالت کی دی

دوناتیلا لوریچ

یوه افغان مجاهد وویل «په افغانستان کې د هر غره شاته یو امیرناست دی.» د هغه دا خبره ددې ټکی له څرگندولو سره ښه مرسته کوی چه د مجاهدینو مشران ولی په خپل منځ کې پدې موافقه نشی کولی چه د شوروی عسکرو له وتلو نه وروسته په خپل ملک کې څه ډول حکومت جوړ کړی. ټاکل شوې ده چه شورویان خپل ټول عسکر د فبروری د میاشتی تر دوهمې یا دریمې هفتې پورې له افغانستان نه وباسی.

کوم خارجیان چه په پېښور کې اوسیږی هغوی داسی اټکل کوی چه د مجاهدینو مشران به د یوه آینده حکومت د څرنگوالی په باره کې تر هغوکومې موافقې ته ونه رسیږی څو چه شوروی عسکر له افغانستان نه، نه دی وتلی.

د خارجیانو خبره اوس پدې باره کې ټوکو او ملنډو ته رسیدلې ده. په پېښور کې د امریکایانو په کلوب کې د اعلاناتو په تخته دا عبارت لیکل شوی: «راځئ سل سل روپۍ (٥ ډالره) شرط وتړو چه مجاهدین به څه وخت د حکومت په جوړولو موفق شی.» پدې پسې په وړو حروفو

دا عبارت ليکل شوی دی: «ټولی د شرط پيسې به هغه څوك وګټی چه په
کابل راديو کې د يوه اسلامي حکومت دجوړيدلو د اعلان د نيټې په
باره کې يې‌تر ټولونه حقيقت ته نژدې اټکل کړی وی.» پدې مسابقه کې
ډير زيات خلك داخل شوی دی. ټولو خپل نومونه پر تخته ليکلي او هر
يوه له خپل نامه سره په کابل راديو کې د يوه اسلامي حکومت د اعلان
اټکلي تاريخ هم ثبت کړی دی. دا تاريخونه د نولس سوه نه اتيايم کال
د فبروری له نيمايي نه ددغه کال تر اکتوبره پورې رسيږی.

اما د کلوپ يوه غړی وويل: «زه پدی شرط تړم چه مجاهدين به څه
وکړی، نه پدې چه ګوندې د هغوی کوم مشر به څه وکړی.» اوس هم
خارجيان او هم افغانان د کابل د سقوط او د افغانستان د ازاديدلو په
باره کې اټکلونه کوی. ډير خلك داسي فکر کوی چه د مجاهدينو مشران
به د روسانو د ټولو عسکرو له وتلو نه دمخه يعني د فبروری تر پنځلسم
پورې داسي موقتي حکومت جوړ نه کړی شی چه بقا او دوام ولري.

په کابل کې خلك د مرګ او ژوند له سوال سره مخامخ دی. هلته خلك
پدې ويره کې دی چه روسان به دمخه تر دې چه د افغانانو دښمني ډلې
کومې موافقې ته سره ورسيږی له افغانستان نه ووزی او په کابل کې به د
مجاهدينو حملې پيل شی. څکه نو خارجي حکومتونه خپلو دپلوماتانو ته
هدايت ورکوی چه خپلو ملکونو ته ولاړ شی. دوی ډير له دې ډاريږی
چه په کابل کې به د وينو لښتي وبهيږی. بی بی سی په روانه هفته کې
اعلان وکړ چه په کابل کې خواړه ورځ په ورځ بيخي کميږی او ددې خطر
شته، چه خلك به له لوږی مړه شی.

د مجاهدينو مشران په پيښور کې په جنګ او دعوی لګيا دی، خو د
مجاهدينو قومندانان پدې کې دی چه د افغانستان سرنوشت دجګړی په
ميدان کې وټاکی. قومندانانو په دې وروستيو وختو کې د جلال آباد
ښار بيخي کلك کلا بند کړی دی. کوم نوی مهاجر چه له جلال آباد نه د
جنګ له امله تښتي د هغوی شمېر زرګونو تنو ته رسيږی او اکثره يې
سپين ږيری، ښځی او ماشومان دی. دغه مهاجر په واورو پټو غرونو
نه تيريږی، پاکستان ته اوړی. ...

Key vocabulary

fall	*n, M2.*	[soqút]	سقوط
question	*n, M2.*	[suā́l]	سوال
bet, gamble	*phr.*	[shárt taṛ-1 -	شرط تړ
destiny	*n, M2.*	[sarnawíshtl]	سرنوشت
type, quality, form	*n, M2.*	[tarz]	طرز
transitional	*adj 4.*	[ʔuburí]	عبوری
militia	*n, M1.*	[askár]	عسکر
distance	*n, F1.*	[fāsɪlá]	فاصله
refugees	*n, M irreg.*	[kaḍwā́l]	کډوال
besieged	*adj 1.*	[kalabánd]	کلابند
siege	*n, F2.*	[kalabandí]	کلابندی
scarcity	*n, M2.*	[kambúd]	کمبود
help	*phr.*	[mrásta kaw-́] -	مرسته کو
contest	*n, F1.*	[musābaqá]	مسابقه
interim	*adj 4.*	[muwaqatí]	موقتی
fine print	*phr.*	[wā́ṛə ħorúf]	واړه حروف
order	*n, M2.*	[hedāyát]	هدایت
guess	*n, M2.*	[aṭkál]	اټکل
possibility	*n, M2.*	[imkā́n]	امکان
stable, solid	*adj 4.*	[ba sobā́ta]	با ثباته
destiny	*n, M2.*	[barkhlík]	برخليك
success	*n, M2.*	[baryālaytób]	بریالیتوب
viability, stability	*n, F3.*	[baqā́]	بقا
determine	*phr.*	[tasmím nis-́] -	تصمیم نیس
be scheduled	*phr.*	[ṭā́kəl kég-] -	ټاکل کېږ
record, write	*der. tr. vb.*	[sabtaw-́] -	ثبتو
prize	*n, F1.*	[jāyazá]	جایزه
squabbling		[jáng aw daʔawā́]	جنګ او دعوی
outside (area)	*n, M2.*	[khāríj]	خارج
be safe		[khwandi pate kég-] -	خوندی پاتی کېږ
shape	*n, M3.*	[tsərəngwā́lay]	څرنگوالی
enmity	*n, F3.*	[duxmaní]	دښمنی
scary	*adj 2.*	[ḍārawúnkay]	ډارونکی
current, ongoing	*adj 1.*	[rawā́n]	روان

Scanning hints

1. Read both the original English and the normal Pashto version before tackling the fractured Pashto translation. Compare the English and fractured Pashto to see how the original English has influenced the translator.

2. Guess:

اکتوبر بی بی سی ټکټ دیپلومات رپوټ
رژیم کیلومتر گوریلا لاتری لست

Post-reading

۱. د مجاهدينو مشران ولى په خپل منځ کې پدې موافقه نه شى کولى چه د شوروى عسکرو له وتلو نه وروسته څه ډول حکومت جوړ کړى؟

۲. کوم خارجيان چه په پېښور کې اوسېږى هغوى څه فکر کوى چه د مجاهدينو مشران به د يوه آينده حکومت په باره کې موافقې ته و رسېږى او که نه؟

۲. په پېښور کې د امريکايانو په کلوب کې داعلاناتو پر تخته څه ليکل شوى دى؟

٤. د کابل د سقوط په باره کې څوک اټکلونه کوى؟

٥. په کابل کې خلک له څه شى سره مخامخ دى؟

٦. څوک له دې ډارېږى چه په کابل کې به د وينو لښتى و بهېږى؟

٧. د مجاهدينو مشران په پېښور کې په څه شى لگيا دى؟

٨. کوم نوى مهاجر چه له جلال آباد نه تښتى د هغوى شمېر څوو ته رسېږى؟

Notes for Detailed Rereading

1. The phrase راځئ سل سل روپۍ (٥ ډالره) شرط وتړو translates idiomatically as 'let's each of us bet 100 rupees...'

2. د اسونو مسابقه in the fractured Pashto version is a horse race.

3. The word برخليک in the fractured Pashto version was created by the translator. The usual Pashto word for 'destiny' is سرنوشت

4. د وينو لښتى, literally 'stream of blood' in the normal Pashto version is an idiomatic translation of the English 'bloodbath'. د وينو حمام in the fractured Pashto version is a literal translation that has comic effects.

Selection E

ملی آزادی بښونکی غورځنگونه:
دا اصطلاح د دریمې نړۍ په هېوادونو کې د استعمار د له منځه وړلو په مفهوم په کار اچول شوې ده، او په ۱۹۶۰ کلونو کې د نویو آزادو شویو خلکو اوملتونو د آزادۍ په اعلامیو کې زیاته راوړل شوې ده. دا اصطلاح د لویدیځ امپریالیزم د پاتی ته رسولو له پاره د زرو په کار اچول را بولي، او زیات وختونه دا ډول زور د داراچونی په تکتیکی شکل کې را ښکاره شوی دی. دا اصطلاح اوس په یو موجوده نظام باندې د برید په صورت کې هم د مطلب د روښانولو له پاره په کار اچول کیږي...

د دریمی نړۍ د هېوادونو له خوا دا تعریف وړاندې کړای شو:
د استعماري، فاشستي او بهرنی رژیمونو د زور او وحشت نه ډک هغه اعمال، چې د آزادۍ گټلو د مبارزینو پر ضد کیږي، او د فاشستی رژیمونو د بقایاوو او اجیرانو له خوایی ننگه او ملاتړ کیږي، هغوی چې د نورو خپلواکو هېوادونو پر ضد هم فعالیتونه کوي، د افرادو یا ډلو په لاس د زور او وحشت هغه اعمال چې د بی گناه خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کوي، د انسان بنسټیز حقوق له پښو لاندې کوي، او د استعماری او فاشستی رژیمونو لاندې خلکو د آزادۍ او د خپل سرنوشت د ټاکلو طبیعی حقوقو ته زیان رسوي، او یا د انسان په آزادۍ نور داسې ډول ډول بندیزونه لگوي. د زور هغه اعمال چې د انفرادی او شخصي گټو د لاس ته راوړلو له پاره تر سره کیږي، چې زیان یې یوازې له هېواد پورې تړلی نه وي....

Pre-reading

Background

These paragraphs are taken from the translation into Pashto of *The Soviet Union and Terrorism,* by Roberta Goren, 1984. It was translated into Pashto as part of a project undertaken, during the Soviet occupation of Afghanistan, by WUFA with funding from USIS. The project involved the translation into Pashto and Dari of books and articles on communism.

It is clear from the translation that the English of the original book, which as you can see is not particularly written with ease of reading in mind, was too much for the translator, not to mention that the concepts discussed are not those that translate easily into Pashto in the first place.

Here is the original English of the paragraphs:

'National Liberation'

This is a phrase coined by the Third World nations to describe the process of decolonization, as expressed in the Declaration for Granting of Independence to Colonial Countries and Peoples in 1960. It legitimizes the use of force to destroy colonialism (meaning past Western colonialism only) and often this force is represented by the use of terrorist tactics. The term is now used to describe an attack on the established order even when colonialism no longer exists. (pp. 12-13)...

'Another attempt [to define the term *international terrorism*] came from a group of non-aligned nations which offered the following definition:

> acts of violence and other repressive acts by colonial, racist, and alien regimes against peoples struggling for their liberation... tolerating or assisting by a state or organization of the remnants of fascists or mercenary groups whose terrorist activity is directed against other sovereign countries; acts of violence committed by individuals or groups of individuals which endanger or take innocent human lives or jeopardize fundamental freedoms or affect the inalienable right to self-determination and independence of all peoples under colonial and racist regimes and other forms of alien domination ... acts of violence committed by individuals or groups of individuals for private gain, the effects of which are not confined to one State.' (p. 13)

And here is the passage translated into normal Pashto:

د خپلواکۍ غورځنګ :

دا اصطلاح، لکه څنګه چه استعمار لاندې ملکونو ته د خپلواکۍ د ورکولو په هغې اعلاميه کې توضيح شوې چه په نولس سوه شپيتم کال کې خپره شوې ده، د درې يمې نړۍ هيوادونو د استعمار د ختمولو د تحريک

په مفهوم استعمال کړې ده. ددې تحریك اصول خلکو ته اجازه ورکوی چه د استعمار د ختمولو دپاره له زور نه کار واخلی او ددغه زور د استعمال دپاره اکثره ترورستی لارې چارې غوره شوې دی. (دلته د استعمار مطلب تهر غربی استعمار دی.) د «خپلواکۍ غورخنگ» اوس هم، سره له دی چه استعمار ختم دی، په یوه مسلط نظام باندې د حملې په معنا استعمالیږی....

د ناپییلو هېوادونو یوه ډله د بین المللی ترورزم په باره کې وایی: دا هغه له تشدد نه ډك او نور ظالمانه اعمال دی چه استعماری، د نژادی توپیر پالونکی او خارجی رژیمونه یې د هغو ولسونو پر ضد کوی چه د خپلې خپلواکۍ دپاره مبارزه کوی. دا د یوه دولت یا موسسې له خوا هغو فاشستانو یا اجېرو عسکرو ته مرسته ورکول یا هغوی ته د فعالیت اجازه ورکول دی چه تروورستی فعالیت یې نورومستقلو هیوادونو ته متوجه وی. دا د هغو ډلو او افرادو له تشدد نه ډك اعمال دی چه بېگناه انسانان وژنی او یا د هغوی ژوند یا بنیادی ازادۍ په خطر کې اچوی یا د ټولو هغو ولسونو د خودارادیت مسلم حق او ازادی متاثروی چه د استعماری او نژادی توپیر طرفدارو رژیمونو تر تسلط او یا کوم ډول خارجی سلطې لاندې ژوند کوی. دا هغه له تشدد نه ډك اعمال دی چه افراد او یا ډلې یې د خپلو شخصی گټو دپاره کوی او اثرات یې یوازی په یوه دولت پورې محدود نه وی.

Key vocabulary

finish, end *n, M2.* [khátəm] ختم
self determination *phr.* [khud ɪrādiyát] خود اراد یت
racial *adj 4.* [nezhādi] نژادی
discrimination *n, M2.* [tawpír] توپیر
terrorism [ḍār āchawə́na] د اراچونه
clarify *der. tr. vb.* [ruxānaw-́] روښانو
domination *n, F1.* [salatá] سلطه
cruel *adj 4.* [zalemaná] ظالمانه
movement *n, M2.* [ghurdzáng] غورځنګ
activity *n, M2.* [fāliyát] فعالیت
western *adj 1.* [lwedídz] لویدیځ
struggle *n, F1.* [mubārazá] مبارزه
militant *n, M irreg.* [mubāríz] مبارز
affect *der. tr.* [mutāseraw-́] - متاثرو
directed *adj 4.* [mətawajé] متوجه
limited *adj 1.* [maĥdúd] محدود
dominant *adj 1.* [musalát] مسلط
inalienable *adj 1.* [musalám] مسلم
nonaligned *adj 2* [nāpeyə́lay] ناپیيلی
support *n, F1.* [nánga] ننګه

mercenary *n, M1.* [ajír] اجیر
liberation *phr.* [azādi baxúnki] آزادی ببښونکی
imperialism *n, M2.* [ɪstɪʔmār] استعمار
declaration *n, F1.* [ɪʔlāmiyá] اعلا میه
act, action. *n, M2.* [aʔmāl] اعمال
individual *adj 4.* [ɪnfɪrādí] انفرادی
remnant *n, F3.* [baqāyā] بقايا
restriction *n, M2.* [bandíz] بند يز
basic *adj. 1* [bansəṭíz] بنسټیز
basic *adj 4.* [bunyādí] بنیادی
advocate *n, M3.* [pālúnkay] پالونکی
against *phr.* [pər zə́d] پر ضد
in case of *phr.* [pə surát ke] په صورت کي
utilize *phr.* [pə kār achaw-́] په کار اچو
movement *n, M2.* [taĥrík] تحريك
domination *n, M2.* [tasalút] تسلط
violence *n, M2.* [tashadúd] تشدد
definition *n, M2.* [taʔríf] تعريف
tactical *adj 4.* [taktikí] تکتیکی
be explained [tawzih kég-] - توضيح کېږ

Scanning hints

1. Read the English original and the normal Pashto version of the paragraphs before you tackle the fractured Pashto version./

2. Guess:

امپریالیزم   تروورزم/تروورستی   تکتیکی   رژیم   فاشست/ فاشستي

Post-reading

۱. د «خپلواکۍ غورځنګ» د درې یمې نړۍ په هیوادونو کې څه مفهوم لري؟

۲. د «خپلواکۍ غورځنګ» اوس څه معنا لري؟

۳. ترورزم د کومو ډلو څه ډول اعمال دي؟

٤. کوم اعمال چه افراد یا ډلې یې د خپلو شخصي ګټو دپاره کوي او اثرات یې یوازې په یوه دولت پورې محدود نه وي، هغه په څه نامه یادیږي؟

Sign seen in Peshawar:

افغان
ریسټورنټ اینډ سنیک بار
ټیلفون ٦٣١٢٤

Answers to Post-Reading Questions

Selection A.

١. د مالا کنډ د ايجنسې د تانې خلك صوبدار شيرنواب او محرر واصف شاه ته د هغوی د ايمانداری مبارکی ورکوی.
٢. د مالاکنډ ايجنسی د تانې خلکو له سياسی کسانو سره تهزی خبرې وکړې.
٢. د تانې ځوکۍ د انتظاميې د ايماندارۍ ژوندی ثبوت د وړمې ورځې د مالونو پيداکول دی.
٤. د مالاکنډ د ايجنسی د ژورنالستانو اتحاديې د شيرين وصال تر مشرۍ لاندې غونډه وکړه.
٥. پدې غونډه کې د جنيد اقبال او فضل معبود نه علاوه گنو صحافيانو گډون کړې وه.
٦. غونډې فيصله وکړه چه د سرور سهيل د زوی د علاج بندو بست دې سرکاری وکړی شی.

Selection B.

١. نانبايانو د پنځوسو افغانيو ډوډۍ سلو افغانيو ته لوړه کړه.
٢. عام ښاريان د ډوډۍ له کيفيت نه سر تکوی.
٢. د کابل ښاروالی هڅه کوی چه نانبايان دې ته اړ کړی چه ډوډۍ په عادلانه بيه خرڅه کړی.
٤. ښاريان د پخې ډوډۍ له وزن نه شاکی دی.
٥. ښاريان له يوې مخې همدا خبره کوی چه د ارزانه ډوډۍ ساحه دې پراخه کړی.

Selection C.

١. روژه د اسلام مبارك دين کې د تقوی او پرهيزگاری بنسټ دی.
٢. ريا او تظاهر په روژه کې ځای نه لری.
٢. الله تعالی د روژې په باره کې ويلی دی «خلك روژه زما په امر نيسی او اجر يې هم زه خپله ورکوم»

٤. روږه نیوونکی څکه د صابرانو په ډله کې هم راځی چه د روژې د نیولو له امله ستونزه گالی.

Selection D.

١. د مجاهدینو مشران پدې باره کې څکه موافقه نشی کولی چه د هر غره شا ته یو امیر ناست دی.

٢. کوم خارجیان چه په پېښور کې اوسیږی هغوی فکر کوی چه د مجاهدینو مشران به پدې باره کې تر هغو موافقې ته و نه رسیږی څو چه شوروی عسکر له افغانستان نه نه وی وتی.

٣. د امریکایانو په کلوب کې د اعلاناتو پر تخته لیکل شوی چه راځی سل سل روپی، شرط وترو...

٤. د کابل د سقوط په باره کې هم خارجیان او هم افغانان اټکلونه کوی.

٥. په کابل کې خلك د مرگ او ژوند سره مخامخ دی.

٦. خارجی حکومتونه له دې ډاریږی چه په کابل کې به د وینو لښتی وبهیږی.

٧. د مجاهدینو مشران په پېښور کې په جنگ او دعوی لگیا دی.

٨. کوم نوی مهاجرچه له جلال آباد نه تښتی د هغوی شمېر زرگونو ته رسیږی.

Selection E.

١. د «خپلواکۍ غورځنگ» د درې یمې نړۍ په هیوادونو کې د استعمار د ختمیدلو د تحریك مفهوم لری.

٢. د «خپلواکۍ غورځنگ» اوس په یوه مسلط نظام باندې د حملې معنا لری.

٣. تروورزم د هغو ډلو اعمال دی چه بېگناه انسانان وژنی.

٤. کوم اعمال چه افراد یا ډلی یې د خپلو شخصی گټو دپاره کوی او اثرات یې یوازې په یوه دولت پورې محدود نه وی، هغه د تروورزم په نامه یادیږی.